# په اسلامي عباداتو
# ځیرنیز نظر

لیکوال: ابوفاروق

# په اسلامي عباداتو

# څېړنيز نظر

ليكوال: ابوفاروق

Download From: Aghalibrary.com

# سريزه

په کومه موضوع چې دلته بحث او څېړنه کيږي، لدې مخکې ما خپل کتاب (اسلام پوهنه) کې پرې بحث کړی او په هغې مې ږنا اچولې ده، خو هلته زما مطلب عام ولسي خلک وو نو ځکه ما په هغه کې ساده او روانه ژبه استعمال کړه ترڅو هغوی پرې ښه پوه شي . له دې وروسته ما ددې اړتيا وليده چې پوهو، روڼ آندو او تعليمي خلکو ته ددې موضوع په هکله داسې څه وړاندې کړم چې ژورې معناوې ولري .

سره لدې چې په دې اړه زيات معلومات او خبرې شته چې په دې څيړنه کې ندي

Aghalibrary.com

ځای پر ځای شوي خو زه هيله لرم چې ما څه وړاندې کړي هغه به د پوهو او علمي خلکو لپاره د ډاډ مصدر او لامل وګرځي .

اوس سمدستي څما دوه مقالې او ليکنې د لمانځه او روژې په هکله بشپړې شوی، په زکات او حج باندې لا ليکل ندي شوی چې وخت ته اړتيا ده خو د دوستانو هيله دا ده چې څه ليکلې شوي هغه بايد خپاره شي او نورو ليکلو ته څند نشي ، همدا ليکلې شوی برخه اوس لوستونکو ته وړاندې کيږي.

(ابوفاروق🏛)

Aghalibrary.com

## د عبادت حقيقت

د قرآن مجيد له مخې عبادت هغه اصلي مقصد او هدف دی چې د هغه لپاره انسان پيداشوی دی :

﴿ وَمَا خَلَقْتُ ٱلْجِنَّ وَٱلْإِنسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ ﴾ الذاريات: ٥٦

(ما ندي پيداکړي انسانان اوپيريان مګر ددې لپاره چې زما عبادت وکړي)

انبياء υ چې د کوم مقصد، هدف او موخې لپاره نړی ته راليږل شوی وه هغه ددې څخه پرته بل څه نه وه چې انسانان د الله پاک عبادت ته راوبولي.

﴿ أَنِ ٱعْبُدُواْ ٱللَّهَ وَٱجْتَنِبُواْ ٱلطَّـٰغُوتَ ﴾ (النحل ٣٦)

( دا چې تاسې بندګي وکړئ د الله او له طاغوت څخه ځان وساتئ)

Aghalibrary.com

نو څمونږ لپاره پدې پوهیدل ډیر ضروري او اړین دي چې عبادت څه ته وایې؟ او په اسلام کې چې کوم عبادتونه فرض شویدي د هغو اصل روح څه شی دی ؟ که پدې خبرو مونږ پوه نشو نو د کوم مقصد لپاره چې مونږ پیداشوی یو هغه به پوره او بشپړ نشو کړای .

## د عبادت جاهلي تصور

په اسلام کې د عبادت مفهوم یوازې لمانځنه نده بلکې بندګي (Prayer) هم ده، عبادت یوازې په لمانځنه کې رانغښول د جاهلیت تصور دی . جاهل، کافر او مشرک انسانان خپل معبودان د انسانانو په شان ګڼي، هغوی فکر کوي لکه څرنګه چې د دنیا مشران، سرداران، پاچایان او نور په چاپلوسی، غوړه

Aghalibrary.com

مالی او ډاليو باندې خوښ، خوشحاله او مهربانه کيږي په عاجزی، تواضع، لاس په سينه ايښودلو او ملا ښکته کولو باندې نرميږي او کار ور څخه اخستل کيږي نو په همدې توګه او طريقه د هغوی معبودان (خدايان) د انسانانو څخه عاجزي، تيټيدل او چاپلوسي غواړي، پدې طريقو او چلونو د هغوی مهرباني تر لاسه کيږي چې د هغوی له خوښی او رضا څخه بيا خپل کارونه او غوښتنی پوره کيږي . له همدې امله جاهلي، شرکي او کفري دينونه په ځينو ځانګړو وختونو کې ځانګړي مراسم او لمانځنې د عبادت په نامه سره يادوي .

## د عبادت جوګيانه او رهباني تصور

Aghalibrary.com

په همدې توګه په اسلام کې د عبادت دا تصور هم نشته چې انسان د دنیا له ژوند څخه جلا شي او یواځې د خدای سره دې ځان ونښلوي. د مراقبې (Meditation)، د نفس غوښتنو د له منځه وړلو، ریاضت او مجاهدت (Spiritual Exercises) په وسیله خپلو باطني او داخلي ځواکونو ته نمو او وده ورکړي ترڅو پخپل ځان کې د کشف او کرامت کیفیت را پیداکړي، ددنیوي ژوند د مسؤلیتونو څخه ځان خلاص او د اخرت نجات او بری ترلاسه کړي.

د عبادت دا تصور په هغو دینونو کې شته چې د ژوند بنسټ او بنیاد رهبانیت او ګوښه کیناستل بولي، د هغوی په آند نړۍ او دنیا د انسان لپاره محبس، زندان او جیل دی او بدن د روح لپاره

Aghalibrary.com

قفس دی. د هغوی په آند دنیاداري او دینداري جلاجلا او یودبل ضد دي، هغوی د دنیا د ژوند، دنیوي اړیکو او دنیوي مسؤلیتونو څخه د باندې او بهر د بري، کامیابۍ او نجات لاره لټوي . د هغوی په آند د روحاني او معنوي ترقۍ او پرمختګ لپاره د مادیاتو څخه ځان ساتل لازمي، ضروري او اړین دي .

## د عبادت اسلامي تصور

د عبادت په هکله د اسلام تصور ددې دواړو څخه جلا او بیل دی، د اسلام له نظره انسان د یو الله تعالی بنده دی . د هغه خالق، پیداکوونکې، روزي ورکوونکې، مالک، حاکم او واکمن یواځې او یواځې الله تعالی چې د ټولو کائناتو پیداکونکې او خالق هم دی . الله تعالی

هغه په څمکه باندې د خپل نائب او خليفه په توګه ټاکلى چې په کړنو کې يې هغه ته ځينې اختيارات او واک هم ورکړى دى، څه مسؤليتونه او څه خدمتونه يې پرې اچولي دي ، د خپل ملکيت او رعيت په څه برخه او حصه باندې يې واک هم ورکړې دى . د انسان کار د خپل مالک هدف، مقصد او موخه پوره کول دي، خپل مسؤليتونه پيژندل او د هغو پوره کول او د خپل بادار له لوري ورسپارل شوي خدمتونه سرته رسول دي .

خپل اختيارات، واک او ځواک د خپل مالک او څښتن د قانون، رضا او خوښې سره سم سرته رسول د هغه دنده او وظيفه ده .هر څومره چې هغه په کوښښ، هلوځلو او منډو ترړو سره خدمتونه

Aghalibrary.com

وکړي او په څومره وفادارئ، اخلاص او صداقت سره چې د خپل واکمن، مالک او څښتن اطاعت او پيروي وکړي په هماغه کچه او اندازه به بريالې او کامياب وي .

د هغه برې، کاميابي او پرمختګ پدې پورې تړاؤ لري چې کله هغه د خپل کار، وظيفې او ماموريت څخه وزګار شي او د حساب کتاب لپاره هلته وړاندې شي نو د هغه د ژوند د کارنامو څخه دا ثابته شي چې هغه منونکې، مسؤليت پيژندونکې او پوره اطاعت کوونکې وو.

نه دا چې هغه په ورسپارل شويو کارونو کې لټ، سست، تيښته کوونکې، مسؤليت نه پيژندونکې، باغي او نافرمان وي. له همدې امله مخکې چې د

Aghalibrary.com

عبادت کوم دوه تصورات وړاندې شول هغه بالکل غلط او دروغ دي .

څوک چې د ژوند لږه برخه او لږ ساعت خپل خدای ته ورکوي، پدې لږ وخت کې څو ځانګړي مراسم سرته رسوي او بيا فکر کوي چې ما د خپل خدای او معبود حق اداء کړ، نور زه ازاد او خپلواک يم چې د ژوند چارې څرنګه سرته رسوم هغسې به يې رسوم .

ددې مثال خو داسې دی لکه چې تاسې څوک د شپې او ورځې د خدمت او نوکرۍ لپاره نيولې وي او هغه ته پوره او د ټول وخت معاش او تنخواه هم ورکوئ او پالنه يې هم په غاړه لرئ،خو هغه بس يواځې سهار او ماښام ستاسې مخې ته راشي، درته ښکته شي اوسلامونه درته وکړي او بيا ددې سلامونو څخه وروسته

چې چيرې ګرځي هلته ازاد ګرځي يا د بل چا نوکري او خدمت کوي .

په همدې ډول هغه څوک چې د دنيا د کارونو، چارو او معاملو څخه يو لوري ته شي او په يوه ګوښه ځاى کې کيني، هلته خپل ټول وخت په لمانځه، روژه، تلاوت، ذکر او نورو چارو تيروي ، د داسې سړي مثال د هغه باغوان پشان دى چې تاسې د خپل باغ د ساتلو او پاللو لپاره ټاکلې وي، خو هغه د باغ چارې او کار خوشې کړي او هر وخت ستاسې په وړاندې حاضراو ولاړ وي، ښکته پورته کيږي او په دوه لاسونو سلامونه اچوي، بيا د سهار څخه تر ماښام پورې او د ماښام څخه تر سهار پورې د بادار، بادار چېغې اونارې وهي، د باغ د ساتنې او پالنې لپاره چې تاسې کومې

خبرې او لارښوونې ورته کړي هغه په ډيره خوږه ژبه تکرار وي خو د باغ د پالنې، ساتنې او پرمختګ لپاره هيڅ هم نکوي .

د داسې نوکرانو په هکله چې ستاسې څه نظر، رايه او خيال وي بس د داسې عبادت کوونکو په هکله د اسلام نظر هم همداسې دی.په څه ډول چې تاسې د داسې نوکرانو سره رويه او سلوک کوئ نو الله تعالی هم د داسې بندګانو سره همداسې معامله کوي.

د عبادت په هکله د اسلام اصلي تصور دا دی چې ستاسې ټول ژوند دې د الله تعالی په بندګۍ کې تير شي، تاسې بايد خپل ځان تل پاتې نوکر، بنده او مامور وګڼئ، ستاسې د ژوند يوه ثانيه اويوه دقيقه دې هم د الله تعالی د بندګۍ او

غلامۍ څخه خالي نه وي او تاسې چې په دې دنیا کې هریو کار کوئ نو هغه باید د الله تعالی د قانون او شریعت سره سم تر سره شی .

ستاسې خوب او بیداري، ستاسې خوراک او څښاک او ستاسې تلل راتلل لنډه دا چې ستاسې هر کاربايد د الهي قانون او شریعت تابع او مطیع وي .[1]

---

[1] (( په اوسني وخت کې یو سړي د شرعي **قانون (Moral Law)** او **طبیعي قانون (Physical law)** **ترمنځ** توپیر او فرق له نظره غورځولی او د بې لارۍ او ګمراهۍ لوی فتنه او فساد یې پیداکړې . د هغه په آند الهي عبادت د طبیعي قانون پیروي او مننه ده که هغه د شرعي قانون سره برابر وي او که نه وي، د هغه په آند هغه خلک هم عابدین، زاهدان، الهي خلیفګان او صالح مؤمنان دي چې د طبیعي قانون سره سم ساینسي کشفیات کوي او نوي ګټور شیان خلکو ته وړاندې کوي سره لدې چې پدې کار کې د شرعي قانون پابندي هم ونکړي .
دا داسې لوی او ستره غلطي ده چې کفر یې اسلام، بغاوت یې عبادت او معصیت یې طاعت ګرځولی دی . هغه لدې څخه ناخبره دی چې د اسلام د راتللو اصلي او بنیادي مقصد، هدف او موخه دا ده چې انسان د

ﷲ تعالی چې تاسې په کومو اړيکو پابند کړي ياستئ په هغو ټولو به تاسې پابندي کوئ، هغه به په همغه توګه پالئ يا ختموئ په کومه طريقه چې ﷲ تعالی درته حکم کوي . ﷲ تعالی چې کوم خدمتونه تاسې ته سپارلي او د دنيا په

............................................................

طبيعي قانون څخه د شرعي قانون په اساس کار واخلي، که چېرې انسان يواځې د طبيعي قانون تابع کيدل وي نو بيا دومره پيغمبرانوυ او اسماني کتابونو ته څه اړتيا او ضرورت وو، ددې لپاره خو يواځې حيواني فطرت هم بس او کافي وو، که انسان يواځې د طبيعي قانون پابند ګرځول وي نو بيا د انسان او حيوان په منځ کې فرق او توپير څه شی دی؟ که چېرې انسان څاروي حلالوي او بيايې خوري نو که يوبل زورور انسان همدا انسان وخوري نو د کوم طبيعي قانون مخالفت يې کړی دی ؟ که يو قوم او هېواد زيات اتوم بمونه او پوځ جوړوي او نور انسانان خپل غلامان او بندګان ګرځوي نو دا خو يو طبيعي قانون دی. دا ډول خبرې، نظريات او فکرونه انسان د انسانيت له درجې او مرتبې څخه راښکته کوي او د ضرري او څيرونکو ځناورو په ډله کې يې ودروي. د اسلام څخه دا ډول نظريات په ميلونو لرې دي، چې د انسان دا ډول حيوانيت او ځناورتوب په عبادت کې وشماري ))

ژوند کې يې څه مسؤليتونه په تاسې ايښي دي هغه ټول بار به تاسې په خوښئ او خوشحالئ سره سمبالوئ او په هغه توګه او طريقه به يې اداء او پوره کوئ کومه طريقه او لاره چې درته د الله تعالی پيغمبرانو ښودلې ده . تاسې بايد تل په ټولو کارونو او چارو کې الله تعالی په زړه، فکر، خيال او نظر کې ولرئ او دا تصور درسره ژوندی وي چې ددې ټولو چارو حساب به زه ورکوم . که په خپل کور کې تاسې د خپلو بچيانو سره، په کلي کې د خپلو ګاونډيانو سره، په ټولنه کې د دوستانو سره او په خپل تجارت کې د خپلو شريکانو سره کومه معامله، رويه او سلوک کوئ نو قدم په قدم کې به د الله تعالی لارښوونې په نظر کې ساتئ .

که چيرې تاسې د شپې په تياره کې ياستئ او پداسې شکل ګناه کولای شئ چې څوک مو کتلې او ليدلای نشي نوپه همداسې پټ حالت کې بايد ستاسې سره دا فکر، عقيده او تصور وي چې ما الله تعالی ويني . که تاسې په يو ځنګل کې روان وئ او پداسې حال کې ګناه کولای شئ چې هيڅ نيوونکې او هيڅ شاهدي او ګواهي ورکوونکې نه وي نو په همداسې ګوښي حالت کې بايد تاسې خپل رب او خالق په تصور کې راولئ او له جرم کولو څخه ځان وساتئ. کله چې تاسې ته دروغ ويل، خيانت او ظلم زياتې دنيوي ګټه او فايده پلاس درځی او هيڅ منع کوونکې هم نه وي نو تاسې له خپل رب او خالق څخه ويره وکړئ او هغه پدې هيله او اميد

خوشې کړئ چې الله تعالى پرې خفه او ناراضا کيږي .

کله چې تاسې ته په رښتيا ويلو، امانت ساتلو او نيک کار کولو باندې دنيوي زيان، تاوان او نقصان رسيږي خو تاسې خاص ددې لپاره هغه قبول کړئ چې پدې کارونو باندې الله تعالى خوښ او راضي کيږي .

**نويواځې دنيا خوشې کول، په گوښه او کُنج کې کيناستل او الله ويل عبادت ندى بلکې ددنيا په ټولو کارونو کې بوختيدل ، د ژوند ټول مسؤليتونه په غاړه اخستل او هغه ټول د الله تعالى د قانون او شريعت سره سم سرته رسول عبادت دى .**

د الهي ذکراويادونې مطلب دا ندى چې انسان يواځې په ژبه الله تکرار کړي

بلکې اصلي الهي ذکر دا دی چې تاسې پداسې کارونو کې بوخت شئ چې هغه د الله څخه غافل او بې پروا کوونکې وي خو سره له هغې هم تاسې خپل الله له یاده ونه باسئ او هغه درته په یاد وي .

کله چې د دنیا په ژوندانه کې د الهي قانون د ماتیدو بې شمیره حالتونه او د لویو لویو زیانونو د راتللو ویره وي، نوهلته الله پاک یاد کړئ او د هغه د قانون او شریعت اطاعت وکړئ. د حکومت په څوکۍ ناست دا په یاد ولرئ چې زه د خلکو او انسانانو خدای نه بلکې خپله د الله تعالی بنده او غلام یم، د عدل او قضاء په منصب ناست او د زور زیاتي توان او ځواک هم ولرئ خو دا تصور او فکر درسره وي چې زه د عدل، انصاف او برابري کولو او

راوستلو لپاره مامور شوی يم. د هېواد په خزانو واکمن او هر ډول تصرف پکې کولای شئ خو دا تصور درسره وي چې زه ددې خزانو مالک، څښتن او واکدار نه بلکې امين، ساتوونکې او محافظ يم او د يوې يوې ذرې حساب به راسره کيږي او خپل اصلي مالک ته به ځواب ورکوم.

د پوځونو او لښکرو ستر قوماندان او سپه سالار اوسئ خو د الله تعالی له ويرې د زور او ځواک په نشه کې مست نشئ. دسياست، حکومت او واکمنۍ سخت او ګران کار پلاس کې ولرئ خو سره ددې د صداقت، ريښتنولۍ، انصاف او عدل په اصولو باندې پابندي له ځان ښکاره او څرګنده کړئ.

په تجارت، سوداګرۍ، صنعت او کسب کارۍ کې بوخت اوسئ خو په هغې کې د

حلال او حرام، روا او ناروا اصول په نظر کې وساتئ . پل په پل حرام په ډول او سينګار تا ته راوړاندې شي خو ستا په ګامونو کې توپير او لړزان رانشي .

هر لوري ته د زور زياتي، ظلم او تيري، دروغو، ناروا، دوکې، چل ول او حرام خوړلو لارې درته خلاصې او پرانستې وي، مادي برياليتوبونه او مادي خوندونه په لاره کې درته د هر کلي او استقبال لپاره ښه په ډول او سينګار ولاړ وي خو ددې ټولو په لاره کې درته خنډ او مانع د خپل رب او خالق ويره او خوف وګرځي .

د الله تعالی د دين او حدودو په عملي کولو کې درته په زرګونو خطرونه، ويرې او ډارونه را مخې ته شي. د عدل، انصاف او حق په عملي او ساتلو کې

درته د ځان او مال خطر پيداشي، د اسلام او دين په لاره تلل د زمکې او اسمان سره د ښمني او مخالفت معلوم شي خو سره ددې هم ستاسې ګامونه او اراده لړزانده نشي او ستاسې په تندي باندې ګونځې را پيدانشي اوهمدا اصلي عبادت دى، همدا الهي ذکر دى او يادونه، همدا ذکر او الهي يادونه ده چې په قرآن مجيد کې ورته اشاره شويده:

﴿ فَإِذَا قُضِيَتِ ٱلصَّلَوٰةُ فَٱنتَشِرُوا۟ فِى ٱلْأَرْضِ وَٱبْتَغُوا۟ مِن فَضْلِ ٱللَّهِ وَٱذْكُرُوا۟ ٱللَّهَ كَثِيرًا لَّعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ﴿١٠﴾ ﴾ الجمعة: ١٠

( کله چې لمونځ ختم شي نو په ځمکه کې خپاره شئ، د الله پاک د فضل لټون وکړئ او الله ډېر زيات يادوئ ترڅو چې تاسې برى ومومئ).

## روحاني پرمختګ او د الله پيداکولو لاره

اسلام د روحاني پرمختګ او د الله پاک د پيداکولو لپاره همدا لاره په ګوته کړي، انسان الله پاک اوخپل رب په ځنګلونو، غرونو، سمڅو او غارونو کې نشي پيداکولی. الله پاک هغوی ته د انسانانو په منځ کې او د دنيوي ژوند په لانجو او شخړو کې پيداکيږي، هغه به دومره ورته نژدي شي چې پخپلو سترګو به يې وګوري . چاته چې د حرامو فايدې، د ظلم او تيري وخت او چانس، د بدۍ او فسق لاري پل په پل مخې ته راځي خو هغه ددې ټولو څخه لاره يوې او بلې خواته کږ وي او وړاندې ځي نو همداسې خلکو ته الله تعالی پيدا کيږي، هغه به په هر پل او ګام کې خپل رب او خالق پيداکړي، بلکې پخپلو سترګو به يې وګوري، که خپل رب او خالق يې نه وی

پيداکړي او نه يې وې ليدلې نو هغه لدې تنګ او سخت کوتل څخه نشول تيريدلای؟ هغه چا چې په خپل ساعت تيری، تفريح او دنيوي تجارت او سوداګری کې خپل رب او خالق له ياده ندې ويستلې اوهغه يې نژدي ګڼلې.

هغه چا چې د سياست او حکومت، سولې او جګړې، مالي، تجارتي او صنعتي ايمان لړزونکو او ايمان خوړنکو چارو کې کار کړې او د شيطاني لومو او دامونو څخه يې ځان ساتلې او د الله تعالی د پولو او حدودو اطاعت او پيروي يې کړې نو د داسې انسان څخه به د چا ايمان ځواکمن او قوي وي؟

دده څخه زيات به چاته د الله تعالی معرفت او پېژندګلوي په برخه وي؟ که

دا انسان د الله تعالی ولي او نژدي بنده نه وي نو څوک به وي؟
د اسلام له نظره د انسان د روحاني پرمختګ، نمو او ودې لپاره همدا لاره ده، د روحاني پرمختګ نوم دا ندی چې د پهلوانانو پشان دې سپورت وکړي او خپل ارادې ځواک او قوت دې زيات کړي اوله خپل ځان څخه دې د کشف او کراماتو ډرامې او ننداري وښئ، بلکې د روحاني پرمختګ نوم دا دی چې تاسې د خپل نفس په خواهشاتو کنترول او برلاسې ولرئ، د خپل ذهن او بدن د ټولو او بشپړو ځواکونو څخه سم او صحيح کار واخلئ. خپل اخلاق د الهي اخلاقو سره د نژدې کولو کوښښ وکړئ، په دنيوي ژوند کې چيرې چې پل په پل امتحان او ازميښت راځي، که تاسې د شيطاني او حيواني

لارو چارو څخه ځان خوندي ساتئ او په پوره شعور او عقل سره په هغه لاره کلک ولاړ اوسئ کومه چې د انسان د حيثيت او شان سره مناسبه او برابره وي، له همدې څخه ستاسې انسانيت ورځ په ورځ مخ په وړاندې ځي او ترقي کوي، ددې سره تاسې پل په پل الله تعالی ته نژدي کيږئ . آيا ددې څخه پرته د روحاني ترقئ او پرمختګ نوم بل شی دی؟

زيات خلک د روحاني پرمختګ او ترقئ نوم اخلي خو پدې نه پوهيږي چې روحانيت خپله څه شې دی؟ له همدې امله د يو مبهم، پټ او ورک شوي شي په لټون کې خپل ټول عمر تير وي او پدې نه پوهيږي چې ددې ټولو کوښښو نو په پای کې هغه په کوم ځای کې دی او چيرې رسيدلې دی ؟ خو که د روحانيت په کلمه

غور او فکر وشي نو خبره بالکل روښانه کيږي .

په روحانيت کې د روح څخه مراد او مطلب د انسان روح دی نه د بل چا روح، يعنې روحانيت د انسانيت دويم نوم دی . انسان چې څومره د حيواني خواهشاتو له بندګۍ څخه لری کيږي او د انساني کمال لوړی درجې ته رسيږي، په انساني اخلاقو او صفتونو سمبال او سينګار د الهي رضا د لوړ هدف او مقصد د ترلاسه کولو لپاره چې څومره کوښښ او هلې ځلې کوي په هماغه کچه او اندازه هغه ته روحاني ترقي او پرمختګ په نصيب کيږي.

## په اسلام کې د عبادتي مراسمو حيثيت

دا د عبادت په هکله د اسلامي تصور لنډيز وو، اسلام د انسان پوره او بشپړ

ژوند په عبادت باندې بدلوي، اسلام دا غواړي چې د انسان يوه دقيقه او ثانيه ژوند هم له عبادت څخه خالي نه وي . د لااله الا الله تر اقرار وروسته چې هغه الله پاک خپل معبود او اله قبول کړي نو بايد ځان د هغه بنده او غلام وګرځوي او همدا بنده ګرځيدل په اصل کې عبادت دی . په خوله او وينا دا خبره ډېره کوچنۍ او وړه ښکاري خو په عمل کې ټول ژوند او د هغې ټول اړخونه عبادت ګرځول څه اسانه کار ندی، ددې لپاره ډېر زيات کوښښ او قوي تربيت، روزنه او تمرين اړين او ضروري دی . ددې لپاره بايد ذهن وروزل شي، قوي او ځواکمن سيرت او کردار پيداکړي، خويونه او عادتونه په يو ځانګړي چوکاټ کې برابر کړي او يواځې په

انفرادي سیرت جوړوني باندې بسوالې ونشي بلکې داسې ټولنیز نظام جوړ شي چې په زیاته او پراخه کچه انسانان ددې عبادت لپاره تیار او چمتو کړي ترڅو ددې ټولګي او جماعت په مرسته او کومک د افرادو روزنه او تربیت اسانه شي او د هغوی کمزوري پوره کړي .

د همدې مقصد، هدف او موخي لپاره اسلام پخپلو منوونکو باندې لمونځ، روژه، زکات، حج او نور عبادتونه فرض او لازم کړې دي . دې ته عبادت ویل دا معنا نلري چې ګوندې یواځې همدا عبادت دی بلکې ددې مطلب دا دی چې دا عبادتونه اصلي، لوی او ستر عبادت ته انسانان چمتو او تیاروي .

دا د اصلي عبادت لپاره د تمرین او ټرینګ کورس دی، د همدې څخه هغه

ځانګړې ذهن جوړېږي، د همدې څخه ځانګړې سيرت منځ ته راځي، د منظمو عاداتو او خويونو پوخ چوکاټ ورڅخه جوړېږي او بلاخره ددې څخه د هغې ټولنې بنسټونه او بنيادونه کلکېږي کوم چې پرته له هغې څخه د انسان ژوند په الهي عبادت باندې نشي بدليداى . ددې څلورو عبادتونو څخه پرته بله داسې لاره نشته چې دا هدف او موخه پوره کړي، له همدې امله دا څلورواړه د اسلام د ارکانو او ستنو په نامه سره ياد شويدي يعنې هغه ستنې چې د اسلام ودانۍ او عمارت پرې ولاړ دى .

راځئ اوس وګورو چې پدې څلورو ستنو څرنګه د اسلام ودانۍ ولاړه ده او په څه

ډول انسان لوی، ستر او اصلي عبادت ته تیار او چمتو کوي .[2]

---

[2] ( هغه ښاغلي چې په مخکې پاڼوکې يې يادونه وشوه دکلمۀ شهادت او ددې څلورو عباداتودرکنيت څخه يې بشپړ انکار کړې او د هغې پرځای يې له خپل ځان څخه لس نوي ارکان وړاندې کړې دي، دا ښاغلې په مرکب جهل کې پريوتې دی،هغه نه د اسلام څخه خبر دی او نه د رکن په معنا او مطلب باندې پوهيږي، نه پدې پوهيږي چې دا پنځه شيان ولې د اسلام ارکان کرځول شوي دي، او نه پدې پوهيږي که دا پنځه شيان نه وي نو اسلام له سره شتون او موجوديت نلري . سره لدې چې د اسلام ستر پيغمبر ع دا پنځه شيان د اسلام ارکان گرځولي دي خوهغه وايي چې دا د اسلام ارکان ندي او د خپل ځان څخه يې چې کوم لس شيان ليکلي هغه د اسلام ارکان بولي . يعنې ددې ښاغلي په آند اسلام هغه دين ندی کوم چې نبی عليه السلام نړۍ ته وړاندې کړی، بلکې د کيمبرج ايجنټ چې کوم شې وړاندې کړی هغه اسلام دی .

يو لوري ته ددې ښاغلي اوږده شيان او بل لوري ته د ولسي خلکو ناپوهي، ناخبري او د دنيا پالنې شوق.ددې ښاغلي په مشرۍ کې چې کوم تنظيم جوړ شوې هغه اسلامي تنظيم او اسلامي نظام امارت بولي . د هغوی په آند د امير عقيدې، اخلاقو او ديني علم معلومولو ته اړتيا نشته بلکې يواځې تنظيم او د امارت نظام اصلي هدف او مقصد دی، که هغه د حضرت عمر فاروق (رض) تر قيادت لاندې وي او که د هټلر

## لمونځ

### يادونه

د انسان بشپړژوند په عبادت باندې د بدلولو لپاره تر ټولو اړين او ضروري شې دا دی چې د هغه په ذهن او دماغ کې هر وخت بايددا خبره تازه، ژوندی او واکمنه وي چې هغه د يو الله تعالی بنده او غلام دی او په دنيا کې به ټول کارونه او چارې د يو بنده او غلام په توګه سرته رسوي .

.........................................................

او موسولينې تر واک لاندې . له الله پاک څخه ددې دوران د فتنو نه امان غواړو چې څومره ډېرې او زياتې شويدي)

ددې تصور، شعور او فکرد بيا بيا تازه کولو او روښانه کولو ضرورت او اړتيا ځکه شته چې کوم ذات هغه خپل معبود ګڼي او خپله د هغه غلام او بنده دی، هغه ذات دده له سترګو او حواسو څخه پټ او لرى دى . پداسې حال کې چې د هغه په بدن کې نفس او شيطان تل موجود وي او هر وخت هغه ته همدا وايي چې ته زما بنده او غلام يې، په لکونو او ميليونونو شيطانان په دنيا کې هر لوري ته خپاره دي او هريو انسان ته همدا وايې چې ته زما بنده يې . دا شيطانان انسان ګوري، حس کوي يې، او هر وخت په نوې نوې طريقو او لارو چارو خپل طاقت او قوت ورته څرګندوي .

د همدې شيطاني کوښښونو او هلو ځلو په پايله کې د انسان له ذهن څخه دا

خبره مخفي او پټيږي چې زه د الله پاک بنده او غلام يم . ددې خبرې د تازه، ژوندی ساتلو لپاره يوازې پدې بسوالې نشي کيدای چې په خوله او ژبه د الله پاک اقرار وکړي يا د يو علمي فارمول په توګه په هغه باندې ځان پوه کړي بلکې دې ته اړتيا ده چې هغه بيا بيا تازه او را ژوندی کړي .

همدا کار لمونځ سرته رسوي:کله چې انسان سهار وختي له خوب څخه راپورته شي نو هغه دا خبره ورپه يادوي، کله چې د ورځې په کارونو کې بوخت او مشغول شي او ذهن يې هلته ولګيږي نو دوه ځلې بيا دا خبره ورته تکرار وي چې په ذهن کې يې را تازه او ژوندی شي . بيا ماښام د ساعت تيری او تفريح په وخت کې ورته واي چې ته د الله پاک بنده

يې نه د نفس او شيطان،بيا چې كله شپه راشي كومه چې داخلي او بهرني ټول شيطانان د ګناهونو او بديو لپاره چمتو او تيار شوى وي، په همدې حساس وخت كې لمونځ هغه ته ور په يادوي چې ته د الله پاك بنده يې نه د نفس او شيطان .

دا د لمانځه لومړنۍ ګټه او فايده وه، له همدې امله قرآن مجيد هغه د ذكر يا يادونې په نوم سره تعبير كړې يعنې وريادونكى . كه په لمانځه كې نور هيڅ هم نه وي همدا يو صفت يې د اسلام د ركنيت لپاره بس او كافي دى . ځكه كه پدې فايدې او ګټې باندې ښه غور او فكر وشي نو د هغه ګټه او فايده ورسره نوره هم زياتيږي او په عملي توګه انسان د الله پاك بنده او غلام

ګرځي او دا پرته له يادونکي شي څخه امکان نلري .

## د مسؤليت پېژندل

د ژوند په هر ګام او پل کې تاسې بايد د الله ﷻ احکام عملي کړئ، د الله ﷻ له لوري درسپارل شوي خدمتونه د هغه د احکامو او حدودو په رڼا کې بايد سرته ورسوئ . نو په تاسې کې بايد د مسؤليت پېژندلو او مسؤليت پوره کولو داسې صفت او عادت پيدا شي چې له اطاعت او منڼې سره ملګرې وي .

هغه څوک چې پدې نه پوهيږي چې مسؤليت څه شی دی او هغه را څخه څه غواړي نو هغه هيڅکله مسؤليت او وظيفه نشي پوره کولای . بله دا چې يوڅوک مسؤليت پېژنې خو دومره بې پروا، لټ

اوروزنه يې دومره خرابه وي چې هغه نه اداء کوي ، پيداسې سړي باندې هيڅوک هم باور او اعتماد نکوي او نه داسې انسان د کوم عملي خدمت اهل او وړ ګرځي .

نو دا ضروري او اړينه ده چې چاته کوم کار او خدمت سپارل کيږي بايد لومړی د هغه روزنه او تربيت وشي چې خپل مسؤليت او وظيفه وپيژني،ددې يواځې دا فايده او ګټه نده چې د کار خلک پيداکيږي بلکې د لټو،بيکاره او کار کوونکو فرق او توپير هم کيږي .

هره ورځ دا په ډاګه کيږي چې پدې خلکو کې کوم کوم د کار او کوم کوم ناکاره او خوشې انسانان دي . د ټولو عملي کارونو او خدمتونو لپاره دا ضروري ده چې مخکې له کار سپارلو له

هغه ځخه امتحان او ازموينه واخستل شي او هغه وازمووول شي ترڅو بې كاره، لټ او سست انسان پكې داخل نشي .

تاسې پوځ ته وګورئ چې هلته د پوځيانو د امتحان، ازميښت او ارزونې لپاره څومره طريقې او لارې چارې ټاكل شويدي . په شپه او ورځ كې څو ځلې ورته شيپلاق وهل كيږي، هغوى ته په يوځاى كې د را ټوليدو حكم او امر كيږي، په هغوى تمرين او تكرار ترسره كيږي، دا ټول كارونه د څه لپاره دي؟

ددې لومړنې موخه دا وي چې په پوځيانو كې د حكم د منلو عادت او خوې پيداشي، په هغوى كې د مسؤليت پيژندلو صفت را ژوندى شي او په هغوى كې د نظم او د سپلين مراعاتول او د هغه په رڼا

کې په هغه کې د کار کولو جذبه را بيداره شي .

دويمه ګټه او فايده يې دا ده چې هره ورځ پوځيان امتحان، ازميښت او وارزول شي او دا څرګنده شي چې پدې خلکو کې څومره د کار کسان او څومره بيکاره کسان راغلي دي .

هغه کسان چې د شپيلاق په اوريدلو هم حرکت ونکړي او يا حکم سرته ونه رسوي، هغوی بايد په هماغه لومړني قدم کې له پوځ څخه وويستل شي، ځکه پداسې خلکو باور او اعتبار نشي کيدای چې د ضرورت او اړتيا په وخت کې به خپل ورسپارل شوی کار سرته ورسوي .

د دنيوي پوځ لپاره ددې کار او عمل وخت کله نا کله پيداکيږي خو سره له دې هم هره ورځ او هر وخت هغوی ته روزنه

او تربيت ورکول کېږي او د هغوی امتحان او ارزونه کيږي .

خو اسلام چې کوم پوځ او لښکر تيار وي د هغه لپاره هر وخت، هره دقيقه او هر ثانيه کار او مسؤليت موجود وي . هغوی هر وخت په کار اخته وي، د هغوی لپاره هر وخت د جګړې ميدان ګرم او تود وي، هغوی د ژوند په هره ثانيه کې مسؤليت اداء کوي، خدمت سرته رسوي، د شيطاني او نفساني ځواکونو سره جنګيږي، د الله پاک د حدودو او پولو ساتنه او حفاظت کوي، او بلاخره د خپل لوی او ستر اله يا الله حکمونه او فرمانونه پوره کوي .

اسلام يواځې عقيدوي مسلک ندی بلکې عملي خدمت هم دی، داسې عملي خدمت چې نه رخصتي، نه استراحت او نه ځنډ مني،

په شپه او ورځ کې څلرويشت ساعته پرله پسې خدمت او نوکري ده .

او تاسې دي مسؤليت، کار او خدمت ته وګورئ او بيا پوځ په نظر کې راولئ چې د داسې پوځ او لښکر لپاره څه ډول او کوم تمرين، روزنه، تربيت او ټرينګ پکار دی، هغوی بايد څه ډول امتحان او وارزول شي او څه ډول نظم او دسپلين پکې راشي .

يواځې په ژبه د عقيدې اقرار کول د داسې پوځ لپاره څرنګه بس او کافي ګرځي چې دومره سخت، ډېر او پرله پسې کارونه ورته سپارل کيږي .

د عقيدې منل او په هغې اقرار کول يواځې د نوم ليکلو او ثبت نام لپاره پکاريږي، او کله چې ددې اعلان او اقرار وکړي نو بيا د اسلام په بټئ کې

داخليږي او هلته پخيږي . څوک چې ځان سختيو ته نه ورکوي، په اواز او شپيلاق نه حاضريږي، د حکم او امر د پوره کولو لپاره هيڅ حرکت او خوزښت نه ښي نو داسې انسان د اسلام لپاره په درد نه خوری او الله پاک او د هغه دين داسې بيکاره خلکو ته هيڅ اړتيا نلري .

همدا دوه موخې او مقصدونه دي چې د هغو لپاره په شپه او ورځ کې پنځه وخته لمونځونه فرض شوي، هره ورځ پنځه ځلې اواز او آذان کيږي، ترڅو د الله پاک پوځيان هغه واوري او له هر لوري څخه په منډه راشي او دا ثابته او څرګندوي کړي چې مونږ خپل مسؤليت، وظيفه او دنده پيژنو، د الله پاک واکني منو، او د هغه د احکامو د پوره کولو او اداء کولو لپاره چمتو او تيار يو .

پدې توګه او طريقه له يو لوري د پوځيانو روزنه او تربيت کيږي او بل لوري ته د منافق او مؤمن توپير او فرق هم څرګنديږي . هغه څوک چې ددې اوازد اوريدو سره سم راځي، او د قانون او طريقې سره سم حرکت کوي، په هغوی کې وظيفه او مسؤليت پيژندل، نظم او د سپلين، او د اطاعت او منلو ماده ورځ په ورځ نمو او وده کوي .

خو هغه څوک چې په اواز نه را پورته کيږي هغوی په خپل عمل سره دا ثابتوي چې مسؤليت او وظيفه نه پيژني يا دا چې پوهيږي خو د پوره کولو اراده او نيت يې نلري يا هغه واکمن نه مني کوم چې ده ته يې مسؤليت سپارلې دی . يا په ذهني لحاظ دومره کمزورې او احمق دی چې دې لومړني حکم او امر منلو ته

هم تیار ندی . هغه که د ایمان دعوه کوي نو په دې خبره کې هغه ریښتنی ندی، په هغه کې دا صفت، استعداد او اهلیت نشته چې کوم حق ورته ښکاره شي له هغه سره سم دې عمل وکړي، په لومړي صورت کې هغه له سره مسلمان ندی او په دویم صورت کې هغه دومره بیکاره، نالایق او غبي دی چې په اسلامي ټولګي کې د پریښودلو وړتیا او لیاقت نلري .

له همدې امله قرآن مجید د داسې خلکو په هکله فرمایي :

﴿ وَإِنَّهَا لَكَبِيرَةٌ إِلَّا عَلَى الْخَاشِعِينَ ﴿٤٥﴾ ﴾ البقرة: ٤٥

(بیشکه دا لمونځ ګران کار دی خو د مننونکو لپاره ګران او سخت ندی) .

یعنې هغه انسانان چې د الله تعالی بندګۍ او غلامۍ ته چمتو او تیار نه وي په هغوی لمونځ سخت او ګران وي . یا

په بل عبارت په چاچې لمونځ سخت او گران وي نو هغه ددې سند او ثبوت دی چې هغه د الله پاک غلامی او بندگی ته تيار او چمتو ندی . په همدې خاطر قرآن مجيد فرمايلي:

﴿ فَإِن تَابُواْ وَأَقَامُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتَوُاْ ٱلزَّكَوٰةَ فَإِخۡوَٰنُكُمۡ فِي ٱلدِّينِۗ ﴿١١﴾ ﴾ التوبة: ١١

( که هغوی له کفر او شرک څخه توبه وباسي لمونځ اداء کړي او زکات ورکړي نو بيا هغوی ستاسې ديني ورونه دي)

يعنې د لمانځه څخه پرته انسان د اسلام په ديني وروگلوی کې نه داخليږي، ځکه نو قرآن مجيد فرمايي:

﴿ ذَٰلِكَ ٱلۡكِتَٰبُ لَا رَيۡبَۛ فِيهِۛ هُدٗى لِّلۡمُتَّقِينَ ﴿٢﴾ ٱلَّذِينَ يُؤۡمِنُونَ بِٱلۡغَيۡبِ وَيُقِيمُونَ ٱلصَّلَوٰةَ وَمِمَّا رَزَقۡنَٰهُمۡ يُنفِقُونَ ﴿٣﴾ ﴾ البقرة: ٢ - ٣

( دا کتاب د هغو پرهيزگارانو لپاره هدايت او لارښوونه ده چې په غيبو

ايمان راوړي، لمونځونه ودروي، او کوم رزق چې مونږ ورکړی د هغې څخه مصرف او انفاق کوي).

په قران کې د منافقانو دا صفت بيان شويدی.

﴿ وَإِذَا قَامُوٓاْ إِلَى ٱلصَّلَوٰةِ قَامُواْ كُسَالَىٰ ﴿١٤٢﴾ ﴾ النساء: ١٤٢

( او کله چې هغوی لمانځه ته پورته کيږي نو سست او لټ پورته کيږي).

او بل دا چې

﴿ ٱلَّذِينَ هُمْ يُرَآءُونَ ﴿٦﴾ ﴾ الماعون: ٦

هغه کسان چيګ ريا کاري کوی.

په نبوي حديث کې راغلې دي.

**عَنْ جَابِرٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَ الْعَبْدِ وَبَيْنَ الْكُفْرِ تَرْكُ الصَّلَاةِ.(رواه ابوداود)**

(د بنده او کفر ترمنځ د لمانځه پريښودل واسطه دي).

يعنې د لمانځه پريښودل هغه پُل او لاره ده چې کله انسان ورڅخه تير شي نو د اسلام څخه کفر ته رسيږي .

له همدې امله د رحمت نبي (ص) وفرمايل: (هغه څوک چې د اذان په اوريدلو سره له کورونو څخه نه راوځي ځما زړه غواړي چې ولاړ شم او د هغوی کورونو ته اور واچوم).

او همدارنګه فرمايي.

**عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ بُرَيْدَةَ عَنْ أَبِيهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْعَهْدُ الَّذِي بَيْنَنَا وَبَيْنَهُمْ الصَّلَاةُ فَمَنْ تَرَكَهَا فَقَدْ كَفَرَ**.(**رواه ترمذي**)

(ځمونږ او د دښتي عربانو ترمنځ اړيکې په لمانځه ولاړې دي، چاچې هغه خوشې کړنو هغه کافر بلل کيږي او ځمونږ سره يې اړيکې ختميږي) .

نن سبا د دين څخه ناخبري او ناپوهي دې درجې ته رسيدلې چې کوم کسان لمونځ نکوي، د اذان په اوريدلو حرکت نه کوي، او لدې څخه بې پروا او غافل وي چې آخر اذان کوونکې څوک او د څه لپاره يې رابولي، نو داسې انسانان هم خلک مسلمانان بولي، او دا خبره اوس عامه شويده چې په اسلام کې لمونځ هيڅ اهميت نلري او د هغه د کولو څخه پرته هم انسان مسلمان وي، بلکې د مسلمانانو قايد، رهبر او امام هم کيداى شي خو هغه وخت چې اسلام ژوندې او تازه وو داسې حالت هغوى نلرلو، امام ترمذي يو روايت را نقل کړى چې:

**عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ شَقِيقٍ الْعُقَيْلِيِّ قَالَ كَانَ أَصْحَابُ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَرَوْنَ شَيْئًا مِنْ الْأَعْمَالِ تَرْكُهُ كُفْرٌ غَيْرَ الصَّلَاةِ**

(يعنې د نبي (ص) اصحاب كرام په دې خبره هم غبږي وه چې د لمانځه پريښودل د كفر كار او عمل دى)

## د سيرت جوړول او برابرول

د لمانځه دريم كار دادى چې د انسان سيرت او كېره وړه په هغه ځانګړي ډول تياركړي چې د اسلامي ژوند د تيرولو يا په بل عبارت بشپړ ژوند د الله پاک د عبادت ګرځولو لپاره ضروري او اړين دي .

په دنيا كې تاسې ګورئ كومه ډله يا ګروپ چې كوم كار كول غواړي او څه هدفونه او موخي ورسره وي نو د هماغو په لحاظ د خپلو غړو او كار كوونكو سيرت، كردار او كېره وړه برابروي او

دهغو لپاره تربیتي او روز نیز نظام پکار اچوي .

په حکومتونو کې چې کوم دفترونه او وزارتونه دي په هغو کې تجربه او وفا مهم او اړین رول لري، نو ځکه د روزنې په کورسونو اوپه ټریننګ ورکشاپونو کې پدې خبرو ډېر تاکید کیږي چې راتلونکي مامورین او کار کوونکي باید د نظام، حکومت او د سپلین پابند تربیه او وروزل شي . که د هغه شخصي او انفرادي ژوند هر څومره چټل او نا پاک وي خو بیا هم هغه پکې داخلیږي او وړاندې ځي چې هلته صداقت، حق او اخلاق د سیاسي بنسټ جوړولولپاره هیڅ پلان او اهمیت نه وي . همدارنګه په پوځ کې پوځیان د جګړې لپاره روزل کیږي، ځکه نو پوځیان په وژلو، مړه کولو او وینه

تـويـولـو عـادت کـوي، هغـوی تـه روزنـه ورکـول کـيـږي چې پـه مـنظم ډول سره کـار وکـړي، هغـوی تـه د مـختـلفـو وسلـو روزنـه ورکـول کـيـږي چې پـه وژلـو او قـتـلولـو کـې مـهـارت پـيـدا کـړي، هغـوی د حکم پـه اطاعت او مـنـنې بـانـدې روزل کـيـږي تـرڅـو حکـومـت هغـوی د خپلـې خـوښې سره سم پـه هر ځـای کـې استـعـمـال کـړي .

څرنـګه چې د هغـوی سره بـل کـوم مـقـصد او هدف نـه وي نـو پـه پـوځـيـانـو کـې د تـقـوی او ښـو اخلاقـو پـيـدا کـولـو تـه هيڅ تـوجه او پـام نـکـوي، پـوځـي چې د نـظم او د سپـلـيـن پـابـنـد وي همدا حکـومـت تـه پـکـار او بـس دی، هغـوی ددې پـروا نـلـري چې پـوځـي، افـسر او جـنـرال دې شراب خـور، زنـا کـار، دروغجن، ظالـم او تـيـرې کـوونـکـې وي .

خو اسلام ددې څخه داسې ټولګې، جماعت او ډله جوړوي چې د هغې لومړنې هدف او مقصد د نيکۍ خپرول او د بدۍ له منځه وړل وي، هغوی به په سياست، عدالت، قضاوت، تجارت، صنعت، سوله، جنګ، نړيوالو اړيکو لنډه دا چې د تمدن او ژوند په هره څانګه کې د ځانګړو اخلاقي اصولو پابند وي، هغوی به په ځمکه د الله پاک قانون نافذ او عملي کوي.

له همدې امله اسلام خپل مامورين، پوځيان، افسران او غړي د يو ځانګړي او انفرادي تربيتي نظام لاندې روزي ترڅو په هغوی کې هغه خاص سيرت او کردار پيدا شي چې د هغه د وظيفې او مسؤليت سره تړاو ولري.

ددې سيرت او کردار بنياد او بنسټ په ايمانياتو باندې ايښودل شوی دی، د

الله پاک څخه ويره، د هغه سره مينه او محبت، د هغه سره عشق، د هغه رضا او خوښي د خپل ژوند موخه او مقصد ګرځول، هغه خپل اصلي او ستر واکمن منل ، د هغه په وړاندې خپل ځان ځواب ورکوونکې او مسؤل ګڼل، او دا منل چې يوه ورځ به را څخه خامخا حساب اخلي، دا هغه بنيادي او اساسي اصول دي چې د اسلامي سيرت بنياد پرې ولاړ دی .

مسلمان د اسلام په طريقه باندې تر هغې پورې يو ګام هم نشي تللی ترڅو چې هغه پدې باور او يقين ونلري چې الله تعالی هغه په هر حالت کې ګوري، د هغه له هر حرکت څخه خبر دی، په تپه تياره کې هم هغه ويني، په يواځې والي او ګوښه کې هم د هغه د زړه له رازونو څخه خبر دی، د هغه په ذهن کې چې څه

فکر، تصور او خيال وي له هغه څخه هم بې خبره او غافل ندی، د ټولې دنيا څخه پټيدل امکان لري خو د الله پاک څخه پټوالې امکان نلري، د ټولې نړۍ له سزاګانو څخه ځان خلاصولې شي خو د الله تعالی د سزا څخه ځان نشي خلاصولې .

په دنيا کې نيکي او ښيګڼه ضايع او له منځه تللې شي بلکې کله نا کله د نيکۍ بدله بدي او خرابي هم کيدای شي خو د الله تعالی په وړاندې داسې نشي کيدای، د دنيا نعمتونه کم او محدود دي خو د الله تعالی نعمتونه بې کچه او بې اندازې دي، د دنيا ګټه او فايده لږه او فاني ده خو د الله تعالی فايده، ګټه او تاوان تل پاتې او ابدي وي .

همدا تصور، فکر، نظر، خيال او عقيده انسان دې ته تياروي چې د الله

تعالى اطاعت او پيروي وكړي، د همدې تصوراتو او عقيدې په زور او ځواك سره هغه د حلالو او حرامو پولو او حدودو ساتنه كوي كوم چې الله تعالى د دنيا په ژوند كې ټاكلي دي . همدا شيان هغه د خواهشاتو د بندګۍ، د ناروا ګټو او خوندونو د تمې، حرص او بد اخلاقۍ څخه خوندي ساتي .

پدې عقيده كې دا زور او ځواك شته دى چې انسان د عدل، انصاف، حق پالنې، نيكو او غوره اخلاقو او په نيغې لارې باندې برابر او كلك ساتلې شي او هم يې د عامو خلكو د اصلاح لپاره راپورته كولى او برابرولى شي كوم چې نامسلمان او كافر د هغو كړاونو او سختيو تصور هم نشي كولاى .

لمونځ هغه عمل دی چې همدا تصور بيا بيا تازه او ژوندي کوي او د ذهن په ژورتيا کې يې ځای پرځای کوي . تاسې ته به څرګنده شوی وي چې د لمانځه د ارادې او قصد کولو سره جوخت د انسان سيرت سميدل پيل کيږي،بيا د لمانځه هر حرکت، هر عمل او هر رکن داسې ترتيب شويدی چې د انسان سيرت او کردار خپله د اسلام په چوکاټ او قالب کې برابريږي .

وګورئ! کله چې تاسې د لمانځه قصد، اراده او نيت کوئ نو تر ټولو لومړې د ځان ارزونه کوئ چې ناپاک او ناولې خو نه يم؟ جامې او لباس خو ناپاک او ککړ ندی؟ اودس مې شته او که نه؟

پدې لږ فکر وکړئ چې دا تصور او فکر ستاسې سره ولې پيداکيږي؟ که چيرې

تاسې په جنابت يا بې اودسه په لمانځه ودريږئ نو تاسې څوک نيولې او ګيرولې شي؟ څوک ستاسې پدې حال باندې خبريږي؟ نو بيا تاسې ولې دومره فکر او پام کوئ چې ټول شيان سرته رسوئ؟ ددې بل هيڅ دليل او وجه نشته پرته لدې چې تاسې د الله تعالی ويره او خوف په زړه کې لرئ او پدې ښه پوهيږئ چې له هغه څخه هيڅ شی هم نشي پټيدای او پدې هم باور او يقين لرئ چې د آخرت په ورځ به ددې ځواب ورکوم . همدا عقيده، فکر او تصور تاسې دې ته اړ باسي چې غسل، اودس او پاکيزګي غوره کړئ کوم چې د لمانځه لپاره شرط او ضروري بلل شوی . کنه بل کوم دنيوي طاقت او ځواک نشته چې تاسې پدې اصولو باندې ونيسي او پرې مجبورمو کړي .

د اوداسه او پاکوالي څخه وروسته بيا لمونځ پيل کوئ، په لمانځه کې تاسې ددې کوښښ کوئ چې په قيام، رکوع، سجده او قعده کې هغه اياتونه او دُعاګانې ولولئ چې د کومو په هکله چې حکم شوی او تاسې يې په هماغه منصوصي طريقې سره لولئ، دا پابندي تاسې ولې کوئ ؟ دا ټول شيان خو پټ او په کراره سره لوستل کيږي، که تاسې هغه هيڅ ونه لولئ يا دا چې له ځانه پکې نورې خبرې ورګډې کړئ نو څوک به پرې خبر شي؟

تاسې خپله ووياست چې دا د چا څخه ويره، ډار، خوف او د سزا وجزا باور، يقين او ايمان دی چې تاسې يې پدې کار اړ او مجبور کړي ياستئ ؟

د لمانځه وختونه په تاسې په مختلفو حالتونو کې راځي، کله تاسې په صحرا

او دښته کې اوسئ، کله د شپې په تپه تياره کې ، کله د کور په کنج کې، کله د خپلې ساعت تيرى په حال کې او کله پخپل تجارت او سوداګرئ کې، کله په سخته يخنئ او سړه هوا کې چې خپل سر هم نشئ ويستلاى او کله بيا پداسې زياته ګرمى کې چې د انسان بدن پکې پخيږي، يعنې په مختلفو حالتونو کې د لمانځه وخت راځي، پدي مختلفو سختو حالاتو کې تاسې کوم طاقت، توان او ځواک لمانځه ته چمتو او تيار وي؟ که چيرې په الله تعالى ايمان، د هغه د سميع او عليم ذات يقين، د هغه د نارضا کيدو ويره او د هغه د رضا لاس ته راوړلو تمه نه وي نو بل به څه وي؟ دا حتمي نده چې دا ټول تصورات دې ستاسې په ذهن او زړه کې تازه وي، په اصل کې

سیرت د هغو تصوراتو څخه جوړیږي چې په پټ او مخفي شعور کې ثبت او ریکارډ شوی وي، د شعور عمق او ژوروالي ته چې کوم تصورات ورسیږي هغه بیا کلک او څواکمن وي او له همدې څخه ښه خویونه، اخلاق او صفات پیداکیږي .

اوس تاسې هغو شیانو ته وګورئ چې په لمانځه کې لوستل او ویل کیږي، په هغو کې د لومړي سر څخه تر اخره پورې داسې کلمات او الفاظ موجود دي چې د اسلام د بنیادي او اساسي تصوراتو څخه ډک اومالامال دي، د هغو په بیا بیا لوستلو او تکرارولو ایمان، عقیده او باور تازه کیږي او په ذهن کې ځای نیسي چې په همدې بانديٍ د اسلامي سیرت تعمیر او ودانۍ ولاړه ده .

تر ټولو د مخه اذان راواخلی، تاسې په یوه شپه ورځ کې پنځه ځلې دا کلمات او جملې تکراروئ:

الله اکبر – الله اکبر : الله تر ټولو لوی دی – الله تر ټولو لوی دی .

اشهدُ ان لا اله الا الله : زه شاهدي او گواهي ورکوم چې پرته له الله څخه بل څوک د عبادت وړ او حقدار نشته .

اشهدُ ان محمدا رسول الله : زه شاهدي او گواهي ورکوم چې محمد صلی علیه وسلم د الله رسول دی .

حی علی الصلوةِ : لمانځه ته راشئ.

حی علی الفلاح : کامیابی او بري ته راشئ . الله اکبر الله اکبر :الله تر ټولو لوی دی،الله تر ټولو لوی دی.

لا اله الا الله : د الله څخه پرته بل څوک معبود او د عبادت وړ او مستحق نشته .

تاسې وګورئ چې دا څومره ځواکمن او قوي اواز دی، دا اواز تاسې ته په شپه او ورځ کې پنځه ځله په څه ډول دا در په یادوي چې په ځمکه کې څومره واړه او لوی انسانان او نور چې د خدایتوب دعوه کوي هغه ټول دروغجن دي، په ځمکه او آسمان کې یواځې یو ذات دی چې هغه لوی دی، او هماغه لوی ذات د عبادت او بندګۍ وړ او حقدار دی، راشئ د هماغه لوی ذات عبادت او بندګي وکړئ، د هغه لوی ذات په عبادت او بندګۍ کې ستاسې بري، نجات او کامیابي ده . څوک به داسې وي چې دا لوی او قوي اوازو اوري اوبیاهم له ځای څخه ونه ښوریږي؟ دا څنګه امکان لري چې د چا په زړه کې دې ایمان وي او هغه دې دومره لوی ، ځواکمن او قوي اواز او شاهدي واوري

او بيا دې هم پخپل ځای هماغسې ناست وي او د خپل بادار او واکدار په وړاندې دې خپل سر ښکته نکړي؟

ددې څخه وروسته تاسې د لمانځه لپاره پورته کېږئ، مخ مودکعبې شريفې په لوري دی، پاک او صاف د کائناتو د لوی پاچا په وړاندې ولاړ او حاضر ياستئ ، تر ټولو د مخه ستاسې له خولې څخه دا کلمات وځي:

الله اکبر – الله تر ټولو لوی او ستر دی، ددې لوی او ځواکمن اقرار څخه وروسته تاسې خپل لاسونه تر غوږونو پورې پورته کوئ يعنې تاسې له دنيا او په هغې کې د هر شي څخه لاس په سر کېږئ ، بيا لاسونه تړئ يعنې د خپل بادار، حاکم او واکدر په وړاندې په ادب سره

ودرېږئ ، ددې څخه وروسته بيا تاسې څو ورانديزونه کوئ .

سبحانک اللهم و بحمدک وتبارک اسمک وتعالى جدک ولا اله غيرک .

يا الله ستاپاکي بيانوم له هر ډول عيب څخه د پاکۍ نسبت کوم، او ستا تعريف او صفت بيانوم ، ستانوم ډير برکتي دی او ستا شان لوړ دی، او پرته له ستا څخه بل څوک معبود او د عبادت حقداراووړ نشته .

اعوذ بالله من الشيطن الرجيم : زه له رټلی شوي شيطان څخه په الله پاک باندې د هغه له شرارت او لاس وهنې څخه پناه غواړم .

بسم الله الرحمٰن الرحيم : پيل کوم د الله په نامه سره چې ډير زيات مهربان او د پوره رحم څښتن دی.

﴿ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ۝٢ :ټول ښه صفات الله لره دي چې پالوونکې د ټولو عالميانو او مخلوقاتو دی .
ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ۝٣ : ډېر زيات مهربان او پوره رحم کوونکې دی .
مَٰلِكِ يَوۡمِ ٱلدِّينِ ۝٤ : د آخرت او د جزا او سزا د ورځې مالک او څښتن دی. ( چې هلته فيصله کېږي او هر چاته به خپله بدله ورکول کېږي ).
إِيَّاكَ نَعۡبُدُ وَإِيَّاكَ نَسۡتَعِينُ ۝٥ : اې الله! مونږ خاص ستا عبادت کوو او خاص ستا څخه مرسته غواړو .
ٱهۡدِنَا ٱلصِّرَٰطَ ٱلۡمُسۡتَقِيمَ ۝٦ : مونږ ته نيغه او سمه لاره وښايه
صِرَٰطَ ٱلَّذِينَ أَنۡعَمۡتَ عَلَيۡهِمۡ : د داسې خلکو لاره چې تاپرې فضل او انعام کړی دی.
غَيۡرِ ٱلۡمَغۡضُوبِ عَلَيۡهِمۡ وَلَا ٱلضَّآلِّينَ ۝٧ ﴾ :

په چا چې ستا غضب نوې شوی او څوک چې بې لارې او گمراه نوي .

ٰ امين : اې الله ! همداسې دې وي، اې مالکه ! زمونږ دا دعا قبوله کړه.

ددې څخه ورسته تاسې دقرآن مجيد نور څواياتونه ووايي چې په هغې کې داسلا م اساسي اصول ،اخلا قي ښووني اوعملي چارې بيان شوي.په هغې کې دلارې ټولې نښې په گوته شوي.دمثال په توگه:

﴿ وَٱلۡعَصۡرِ ١ إِنَّ ٱلۡإِنسَٰنَ لَفِي خُسۡرٍ ٢

په زمانه باندې قسم چې انسان په زيان او تاوان کې دی

إِلَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ

خو يواځې هغه کسان له زيان اوتاوان څخه بچ اوخوندي دي چې هغوې ايمان راوړې اونېک عملونه يې کړي.

وَتَوَاصَوۡاْ بِٱلۡحَقِّ وَتَوَاصَوۡاْ بِٱلصَّبۡرِ ٣ ﴾

او هغوې چې يو بل ته يې په حق سره لارښوونه کړې او يو بل ته يې په حق باندې تلقين کړی.

پدې مبارکو اياتونو کې ددې درس او سبق ورکول کېږي چې انسان د زيان، تاوان او ناهيلۍ څخه هغه وخت خوندي او بچ پاتې کېدای شي چې ايمان راوړي، صالح او نېک عمل وکړي او يو ائې پدې بسوالې ونکړي بلکې د ايمان لرونکو داسې يوه ډله او ټولګې جوړکړي چې په حق دين باندې د پاتې کېدو لپاره د يو بل سره مرسته او کومک وکړي .

﴿ أَرَءَيْتَ ٱلَّذِى يُكَذِّبُ بِٱلدِّينِ ۝١

ايا تاوليده هغه څوک چې د اخرت ورځ نه مني نو هغه به څرنګه سړی وي؟

فَذَٰلِكَ ٱلَّذِى يَدُعُّ ٱلْيَتِيمَ ۝٢

داسې انسان يتيم رټي او ټيله کوي
.
وَلَا يَحُضُّ عَلَىٰ طَعَامِ ٱلْمِسْكِينِ ﴿٣﴾
خپله بې وځلو ته خوراک نه ورکوي نور هم نه هڅوي چې هغوې ته خوراک ورکړي .
فَوَيْلٌ لِّلْمُصَلِّينَ ﴿٤﴾ ٱلَّذِينَ هُمْ عَن صَلَاتِهِمْ سَاهُونَ ﴿٥﴾ ٱلَّذِينَ هُمْ يُرَآءُونَ ﴿٦﴾ وَيَمْنَعُونَ ٱلْمَاعُونَ ﴿٧﴾ ﴾
تباهي او هلاکت دی داسې لمونځ کوونکو ته چې ( داخرت د ورځې د انکار په وجه ) د خپلو لمونځونو څخه غافله او بې پروا وي او که لمونځونه اداء کوي نو دريا او ځان ښودنې لپاره يې کوي، او دهغوې زړونه دومره کوچني او تنګ دي چې په عادي شيانو ورکولو سره هم خفه او انديښمن کېږي .

ددې څخه دا درس او عبرت تر لاسه کېږي چې په آخرت باندې يقين لرل د اسلام روح او اصل دی، ددې يقين اوباور څخه پرته د اسلام په لاره څوک تګ نشي کولای .

﴿ وَيْلٌ لِّكُلِّ هُمَزَةٍ لُّمَزَةٍ ۝١

افسوس او ارمان دی دهغه چا په حال باندې چې د خلکو عيبونه لټوي او په خلکو پسې اوازونه کوي او ملنډې پرې وهي.

ٱلَّذِى جَمَعَ مَالًا وَعَدَّدَهُۥ ۝٢

هغه چې مال راټولوي او بيا يې شماري او حسابوي .

يَحْسَبُ أَنَّ مَالَهُۥٓ أَخْلَدَهُۥ ۝٣

هغه پدې هېله اوتمه دی چې دا مال به دده سره تل پاتې وي.

كَلَّا ۖ لَيُنۢبَذَنَّ فِى ٱلْحُطَمَةِ ۝٤

هېڅکله داسې نشي کېدای هغه به خامخا يوه ورځ مړکېږي او په حطمه کې به اچول کېږي .

وَمَآ أَدۡرَىٰكَ مَا ٱلۡحُطَمَةُ ﴿٥﴾

ايا تا ته ځرگنده ده چې حطمه څه شې دی ؟

نَارُ ٱللَّهِ ٱلۡمُوقَدَةُ ﴿٦﴾ ٱلَّتِي تَطَّلِعُ عَلَى ٱلۡأَفۡـِٔدَةِ ﴿٧﴾

د الله لمبې وهونکې آور دی چې د هغه لمبې په زړونو باندې را تاوېږي .

إِنَّهَا عَلَيۡهِم مُّؤۡصَدَةٞ ﴿٨﴾ فِي عَمَدٖ مُّمَدَّدَةِۭ ﴿٩﴾ ﴾
هغه به وربانديگ په خوريگدو سرپوشگ كؤاى شي.

( په داسي حال كشگيگ چيگ هغه به ) په لوؤو لوؤو ستنوكشگي (ايسار كؤاى شوى وي ).

لنډه دا چې تاسې د قرآن مجيد هر سورت چې لولئ په هغه کې به تاسې ته لوړ هدايات او لارښوونې درکول کېږي او تاسې ته به ويل کېږي چې د الله پاک

**احکام کوم کوم دي چې د هغو سره سم تاسې عمل وکړئ .**

ددې لارښوونو او هدایاتو تر لوستلو وروسته یو ځل بیا تاسې الله اکبر لولئ او تر نمایي پورې شکته کېږئ چې دې ته رکوع وایي : سبحان ربی العظیم : پاک دی رب زما چې ډېر لوی اوعظیم دی .

**بیا نیغ اوسم ودرېږئ او دا وایئ : سمع الله لمن حمده. واوریده الله پاک اواز د هغه چاچې د ده حمد او صفت یې وکړ او بیا ورپسې دا وایئ : ربنالک الحمد : اې زمونږ ربه! ټول ښه صفات تالره دي .**

**بیا تاسې الله اکبر لولئ او شکته پرځمکه خپل تندې ږدئ چې دې ته سجده وایي او په هغې کې بیا دا وایئ :**

سبحان ربي الاعلیٰ. پاک دی زما رب چې تر ټولو لوړ او پورته دی .

التَّحِيَّاتُ لِلَّهِ وَالصَّلَوَاتُ وَالطَّيِّبَاتُ السَّلَامُ عَلَيْكَ أَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللَّهِ وَبَرَكَاتُهُ السَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلَى عِبَادِ اللَّهِ الصَّالِحِينَ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.(رواه صحيح البخاري)

بیا تر سجدو وروسته الله اکبر وایئ اوپه آدب سره کېنئ او دا وایئ:

التَّحِيَّاتُ لِلَّهِ وَالصَّلَوَاتُ وَالطَّيِّبَاتُ

زمونږ سلامونه، زمونږ لمونځونه او ټولې پاکې خبرې الله لره دي.

السَّلَامُ عَلَيْكَ أَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللَّهِ وَبَرَكَاتُهُ

سلام دې وي پرتا اې نبي ع او د الله پاک رحمت اوبرکتونه.

السَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلَى عِبَادِ اللَّهِ الصَّالِحِينَ

سلام دې وي پرمونږ اوپه ټولونېکو اوصالحوبندګانو دالله پاک باندې.

أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ

زه شاهدي او ګواهي ورکوم چې پرته له الله څخه بل څوک د عبادت او بندګی وړ او حقدار نشته .

وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ

**او زه ددې ګواهي او شاهدي هم ورکوم چې محمد (ص) د الله بنده او رسول دی.**

لدې وینا وروسته تاسې د شهادت ګوته پورته کوئ دا څکه چې دا په لمانځه کې ستا د ګواهی او شهادت اعلان دی چې له ژبې سره ستاسې لاس او ګوتې هم ګواهي ورکوي .

**لدې وروسته تاسې درود شريف لولئ :**

اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ وَعَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ. اللَّهُمَّ بَارِكْ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا بَارَكْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ وَعَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ (مسند احمد)

اې الله رحمت وکړې په محمد ﷺ او د هغه په آل لکه څرنګه چې تا رحمت کړی وو په ابراهیم υ او په آل د ابراهیم باندې، یقیناً ته د غوره صفاتو خاوند او ستاېلې شوی ذات یې، او اې الله برکت وکړه زمونږپه سردار حضرت محمد ﷺ او د هغه په آل لکه څرنګه چې تا برکت کړی وو په ابراهیم υ او په آل ابراهیم υ باندې یقیناً ته دغوره صفاتو خاوند او ستاېلې شوی ذات یې .

رَبَّنَآ ءَاتِنَا فِي ٱلدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي ٱلْأَخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ ٱلنَّارِ

اې الله راکړې مونږ ته په دُنیا کې ښه او غوره ژوند او په آخرت کې هم غوره او ښه ژوند او وساتې مونږ د آور له عذاب څخه .

**ددې دُعا په ويلو سره ستاسې لمونځ پوره شو اوس تاسې د خپل بادار او واکدار له دربار او حضور څخه بيرته ځئ او د تللو په وخت کې تاسې ښي لوري او چپ لوري ټولو ناستو موجودو خلکو او ددُنيا د هر شي لپاره د رحمت او سلامتيا دعا کوئ او وايئ :**

السلام عليكم ورحمةُ الله وبركاتهُ :

سلام دې وي پر تاسې او رحمت او برکت د الله دې وي پر تاسې، يعنې دا زيرې دی د دنيا لپاره د الله پاک له دربار څخه د بيا راتللو اور خصت کېدوپه وخت کې .

**دادی هغه لمونځ چې تاسې يې د خوب څخه د راپورته کېدو وروسته او د دنيوي کارونو له کېدو څخه مخکې اداء کوئ .**

څو ساعتونه په دنیوي کارونو کې تر بوختیدو او مصروف کېدو وروسته د زوال کېدو څخه د لږ شانته ځنډه وروسته بیا د الله پاک په دربار کې حاضریږئ او همدا لمونځ اداء کوئ، بیا څو ساعته وروسته په ماذیگر کې همدا لمونځ اداء کوئ، بیا په دنیوي کارونو کې تر بوختیدو وروسته په ماښام کې همدا لمونځ اداء کوئ بیا چې کله د دنیوي کارونو څخه بالکل خلاص او وزگار شئ نو د خوب څخه مخکې د الله پاک په دربار کې حاضري ورکوئ چې ددې لمونځ خاتمه او پوره کېدل په وترو باندې کېږي چې په درېم رکعت کې یې تاسې یوه لوی اقرار نامه یا وینا لیک د خپل بادار او واکدار په مخکې وړاندې کوئ، دا دعای قنوت دی . د قنوت معنی ده د الله په وړاندې

**عاجزي او ښکته کېدل، دا طاعت او بندګۍ اقرار، دا اقرار تاسې څه ډول اداء کوئ . دا دعا تاسې ښه په غور سره واورئ .**

**اللهم انا نستعينک و نستغفرک ونؤمن بک ونتوکل عليک ونثنى عليک الخير :**

**اې الله ! مونږ ستا څخه مرسته غواړو، او له تا څخه بښنه غواړو، پر تا ايمان راوړو، پر تا توکل او بروسه کوو، او ټول تعريفونه تا پورې خاص کوو .**

**ونشکرک ولانکفرک ونخلع ونترک من يفجرک :**

مونږ ستا شکر او منڼه کوو او ناشکري نه کوو، مونږ هر هغه څوک خوشې کوو او اړيکي ورسره شلوو چې ستا نا فرمان او بدې کوونکې وي .

اللهم اياک نعبدُ ولک نصلى ونسجدُ واليک نسعىٰ ونحفدُ و نرجوا رحمتک و نخشيٰ عذابک ان عذابک بالكفار ملحق :

**اې الله ! مونږ خاص ستا بندگي کوو، او خاص تا ته لمونځ اداء کوو، او خاص تا ته سجده کوو، او زمونږ ټول کوښښ او هلې ځلې خاص ستا لپاره دي، مونږ ستا د رحمت اُميدواريو او ستا له عذاب څخه ويريږو، يقيناً ستا عذاب په کافرانو باندې پرېوتونکې دی .**

دا هغه دُعاگانې او عبارتونه دي چې هيڅ شرحې او توضيح ته اړتيا **نلري،** هر څوک په هغو کې خپله ليدلای او کتلای شي چې اسلام خپل ملکي، پوځي او عسکري مامورين او د ټولنې خلک په کومو ارادو، نيتونو، ولولو، احساساتو او جذباتو باندې تربيه او روزي؟ کوم شيان د هغوی په زړونو کې ځای پرځای

کوي، کوم صفات، خويونه او عادتونه پکې پيداکوي؟ يواځې په سپورت او منډې وهلو باندې روزل شوې پوځ او لښکر د اسلام هيڅ په درد او ګټه نه خوري. يواځې فني، مسلکي او هنري روزل شوي کسان هم د اسلام په ګټه نه تماميږي.

د اسلام داسې خلک او انسانان پکار دي چې د فن، هنر، مسلک، علم، پوهې، نظم او د سپلين سره سره امين، صادق، مخلص او تقوی لرونکي هم وي. د جنګ، جګړې، قربانۍ او ايثار سره سره د نيکو اخلاقو، غوره سلوک او ښې رويې خاوند هم وي، هغه يواځې پوځي او عسکري وړتيا او قابليت ونلري بلکې د خلکو او ولس د اصلاح او سمون وړتيا او اهليت هم ولري.

کله چې تاسې دا هدفونه، مقصدونه او موخې وګورئ نو پوه به شئ چې د لمانځه څخه غوره بل عمل او کورس د داسې روزنې او تربیت لپاره مناسب نشي کیدای .

څوک چې د لمانځه په مدرسه، کورس او مکتب کې تربیه او وروزل شي نو د هغه څخه دا هیله، امید او تمه کیدای شي چې که امانتونه، مسؤلیتونه، حقوق الله اود حقوق العباد مسؤلیت هغه ته وسپارل شي نو هغه به یې په سمه او صحیح توګه سمبال کړي او د دریاب په تل کې به هم خپلې جامې لمدې نکړي، له همدې امله قرآن مجید د لمانځه حکمت داسې بیانوي: ﴿ إِنَّ ٱلصَّلَوٰةَ تَنۡهَىٰ عَنِ ٱلۡفَحۡشَآءِ وَٱلۡمُنكَرِ ﴾ العنکبوت: ٤٥

( بيشکه لمونځ له بدئ او بې حيايۍ څخه بندول کوي)

له همدې امله لمونځ د لومړي سر نه د اسلام رکن، لازمی برخه او ضروري عمل وو، څومره پيغمبرانυ چې نړی ته راغلي دي د هغوی ټولو په شريعت کې لمونځ اصلي او اساسي رکن وو، هر پيغمبر او امت ته د هغه د اداء کولو حکم او امر شوی وو، هر وخت چې اسلامي تحريک او اسلامي خوزښت څه زيان او تاوان ليدلې هغه د لمانځه د پريښودلو په سبب او وجه ورته رسيدلی .

﴿ فَخَلَفَ مِنۢ بَعۡدِهِمۡ خَلۡفٌ أَضَاعُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَٱتَّبَعُواْ ٱلشَّهَوَٰتِۖ فَسَوۡفَ يَلۡقَوۡنَ غَيًّا ٥٩ ﴾ مريم: ٥٩

(بيا له هغوی وروسته داسې بد او نا اهله خلک راغلل چې هغوی لمونځ ضايع

کړ او د خپلو نفسي غوښتنو پسې شول، نو زر به په بې لارۍ باندې اخته شي ).

ددې علت، دليل او لامل څرګند دی، په اسلامي طريقې باندې د تلو لپاره د اسلامي سيرت درلودل ضروري او حتمي دی، او اسلامي سيرت د لمانځه په روزنيز کورس کې ترلاسه کيدای شي . کله چې دا نظام او روزنيز کورس خراب او ګډوډ شي نو سيرتونه ورسره حتماً خرابيږي او د هغه حتمي پايله به زوال او پريوتل وي .

## د نفس کنترول

د سيرت جوړونې برسيره لمونځ په انسان کې د نفس د کنترول توان او ځواک هم را پيدا کوي چې ددې ځواک او

قوت څخه پرته د سيرت غوښتنه نه پوره کيږي .

د سيرت جوړونې کار او عمليه د انسان خودي (Human Ego) روزي او په يو چوکاټ کې يې راولي . روزل شوې خودي (انا) که په بدني او نفسي ځواکونو باندې چې ددې لپاره د وسيلې او آلې په حيث کار کوي کنترول او واک ونلري نو بيا ددې د روزلو او منظم کيدو پايله ښه او غوره نه راوځي کوم چې د سم او صحيح سلوک او چلند لپاره پکاريږي ، د يو مثال په وسيله دا موضوع ښه څرګنديداى شي :

انسان د موټر او ډريور مثال لري او دا هغه وخت روغ، سم او صحيح کار کوي چې د موټر سامان، الات، پرزې، ماشين او ټول ځواک د ډريور په کنترول او

واک کې وي خو ددې سره سره خپله ډریور هم هوښیار، پوه، روزل شوی، د سم او غوره سلوک خاوند او په لارو بلد وي . که چیرې تاسې ډریور وروزلو او چمتو موکړ خو بریک، کلچ او سټرینګ هغه نشي کنترولولای یا دا چې کنترولولای یې شي خو کواکه او سست وي، پدې صورت کې ډریور موټر نشي چلولای بلکې موټر به خپل ډریور د ځان سره چلوي او کشکوي . څرنګه چې موټر پرته د چلیدو او حرکت کولو څخه په بل شي نه پوهیږي ځکه هغه نه عقل لري ،نه پوهه، نه تمیز او نه په لارو بلدتیا، هغه به خپل ډریور په کندو او لوړو ژور سر کوي او بلاخره کومې کندې او ګړنګ ته به یې غورځوي .

ددې مثال په بنسټ د انسان بدني ځواک، نفساني خواهشات او ذهني قوت د

موټر پشان د ی او د هغه خودي (انا) د ډريور په حيث . دا شيان د اوسپنې د موټر پشان جاهل، بې عقله، ناپوهه او ناخبره دي، توپير او فرق يواځې دا دی چې موټر د اوسپنې او انسان د غوښې، هډوکو او پوستکي څخه جوړ شوی .

بله دا چې انسان هيلې، ارزوګانې، خواهشات، ولولې، احساسات او غوښتنې لري، هر وخت پدې کوښښ کې وي چې ډريور هغه ونه چلوي بلکې دوی ډريور له ځان سره وچلوي .

د ټولو پيغمبرانوυ د ښوونې او تعليم هدف، مقصد او موخه همدا وه چې داسې ډريور تربيه او وروزي چې موټر پخپل سر سپور نکړي بلکې دې پرې سپور شي، هغه ترکنترول لاندې راولې او په

نيغه لاره يې روان کړي چې خپل هدف او مقصد ته پرې ورسيږي .

يواځې دا کافي او بس نده چې ډريور دې په لارو بلد، په موټروانۍ پوه، د موټر استعمالول او د ډريورۍ په آدابو دې پوه وي، بلکې دا هم اړين او ضروري ده چې د موټر سامان، پرزې او برخې دې يو له بل سره نښتې او کلکې تړل شوې وي ترڅو ډريور هغه وچلولې شي . که داسې نه وي نو موټر خو پخپل زور او قوت باندې هر لوري ته تللې او سر بخود روانيدلې شي .

په لمانځه کې د دُعاګانو، د قرآن مجيد تلاوت اود تسبيحاتو سره د وخت پيژندل، پاکوالې او نور شرايط ددې لپاره لګول شوي چې ډريور خپل موټر پخپله اراده باندې د چلولو لپاره ښه

تمرين، مشق او تکرار وکړي، پدې توگه د موټر زور او څواک د ورځې پنځه ځله کنترولېږي، بريکونه کشکول کيږي، ستېرينگ او اکسيلېټر کلکيږي او د چلوونکي زور او قوت ورځ په ورځ وربانديې ځواکمن او قوي کيږي.

د سهار وخت دى، په خوږ خوب ويده، راحت او آرام غوښتوونکې بدن او نفس غواړي چې همداسې گرم او نرم پروت پاتې شي او هېڅ پورته نشي.

خو لمونځ وايې چې وخت راورسيده، نيغ راپورته شه، که د غسل اړتياوي نو غسل وکړه، که نه وي نو بيا اودس وکړه، که ساړه او يخني وي نو وي دې، اوبه گرمې نشته نو نه دې وي، په سړو او يخو اوبه اودس وکړه، بيا د جومات په لوري روان شه.

که ددې دوه يودبل ضد غوښتنو څخه تاسې د نفس غوښتنه پوره کړه نو موتر په تاسې سپور شو او که د لمانځه غوښتنه مو پوره کړه نو تاسې په موتر سپاره شوئ . په همدې توګه نفس په سهار، ماسپښين، مازديګر، ماښام او ماخستن کې ځانته بانې او پلمې لټوي ترڅو په خواهشاتو، خوندونو، مزو چړچو او ساعت تيريو کې وخت تير کړي، هغه پدې کوښښ کې وي چې په تاسې کې لېږ شانته کمزوري او ناتواني پيداکړي او د پاسه دربانديې سپور شي .

خو لمونځ ستاسې لپاره يو را بيدارونکې عمل دی چې ستاسې ويده شوي قوتونه او ځواکونه را بيدار وي او ستاسې څخه غوښتنه کوي چې موټر پخپل

کنترول کې وساتئ، د هغه غلام او بنده نشئ .

دا جګړه او شخړه هر ورځ روانه وي، په مختلفو حالتونو او مختلفو صورتونو کې پېښيږي . کله په سفر کې، کله د تجارت او سوداګرئ په وخت کې، کله د ساعت تيرئ او کله د غم او کړاونو په وخت کې. پدې مختلفو حالتونو کې د نفس د غوښتنو او د لمانځه ترمنځ مقابله او شخړه روانه وي چې تاسې په امتحان او ازميښت کې اچوي . که چيرې تاسې د نفس خبره ومنله نو ماتې مو وخوړه، نوکر او خادم ستاسې بادار وګرځيده ، د ړوند، ناپوهه او جاهل موټر پلاس کې تاسې خپل ځان ورکړ نو تاسې به په کږو وږو لارو کرځوي او تاسې به د مجبوريت

او اړتيا په حالت کې د هغې پسې روان اوسئ .

ددې په خلاف که تاسې د لمانځه خبره ومنله او د هغه غوښتنه مو پوره کړه نو تاسې ددې زورور او ځواکمن موټر کنترول او واګې پخپل لاس کې واخستل، په هغه به واکمن او بادار شئ، په تاسې کې به دا زور او ځواک پيداشي چې ددې موټر د ټولو پرزو او سامانونو څخه د خپل علم او پوهې په رڼا کې کار واخلی او ستاسې لپاره به اسانتياوی برابرې شي .

له همدې امله قرآن مجيد د لمانځه د ضايع کولو او پريښودلو سمدستي پايله او نتيجه دا په ګوته کوي چې انسان د نفسي غوښتنو او خواهشاتو تابع او محکوم ګرځي، له نيغې او مستقمې لارې

څخه اوړي او په کږو وږو لارو سر کيږي .

﴿ فَخَلَفَ مِنۢ بَعۡدِهِمۡ خَلۡفٌ أَضَاعُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَٱتَّبَعُواْ ٱلشَّهَوَٰتِۖ فَسَوۡفَ يَلۡقَوۡنَ غَيًّا ٥٩ ﴾ مريم: ٥٩

(بيا د هغوی څخه وروسته داسې بد او نااهله خلک راغلل چې هغوی لمونځ ضايع کړ او د خپلو نفسي غوښتنو پسې شول، نو زر به بې لارى له پايلې سره مخ شي .)

## د افرادو د جوړولو اوتيارولو پروګرام

تردې ځای پورې چې څه بيان او وړاندې شول دا د لمانځه د ګټو او فايدو يو لورې او طرف وو، يعنې دا چې لمونځ افراد څه ډول جوړوي، اوس بل لوري او بل طرف ته تر پام ګرځولو او توجه کولو مخکې دفرد دتيارولو او

ارزولو پروګرام ته په عمومي توګه وګورئ، دا پروګرام پنځه برخې لري:

١- د انسان په ذهن او دماغ کې ددې خبرې، فهم او ادراک تازه کول چې هغه په دنيا کې ازاد او خپل سرې ندی، بلکې د رب العالمين بنده او غلام دی او په دنيا کې به په همدې حيثيت عمل کوي .

٢- د بنده او غلام په توګه په هغه کې د مسؤليت، وظيفې او دندې پيژندلو خوې او عادت پيداکول .

٣- مسؤليت پيژندونکي د نه پيژندونکو څخه جلا او بيا هغه بالکل ويستل او بهر کول .

٤- د تصوراتو، فکرونو او خيالاتو پوره او بشپړ نظام يا پوره ايډيا لوژي د هغه په ذهن او دماغ کې ځای

پرځای او ثبت کول او هغه بیا داسې کلکه او پخول چې ټول سیرت او کردار ورسره پوخ او کلک شي .

٥- په انسان کې داسې ځواک، قوت او زور را پیداکول چې دخپلې عقیدې،پوهې،بصیرت اوعلم سره سم کومه تګلاره ورته سمه،صحیحه او ښه ښکاري په هغې عمل وکړي او د خپل نفس او بدن د ټولو ځواکونو، قوتونو او استعدادونو څخه پدې لاره کې کار واخلي . د هغه په کردار او کړو وړو کې څه داسې سستي، لټي، او بیکاري پیدانشي چې کوم شی هغه حق، سم او صحیح بولي په هغه باندې د خپل نفس په غوښتنه عمل ونکړای شي او په بله لاره باندې روان شي .

اسلام چې کومه ټولنه جوړول غواړي د هغې يو يو فرد او غړي د لمانځه په وسيله پدې توګه جوړ او تياره وي . ددې ټولنې په هر لس کلن کوچني باندې لمونځ لازموي او په هيڅ حالت کې ددې فرض او عمل څخه نشي خلاصيداى، پرته لدې چې حواس له لاسه ورکړي يا دا چې ميرمن په حيض يا نفاس کې وي .

په ناروغۍ، سفر او د جګړې په ميدان کې هم ددې مسؤليت، عمل او فرض اداء کول لازمي او ضروري دي، که ودريداى نشي نو په ناسته دې وکړي، که کيناستلې نشي نو په ملاسته دې وکړي، که پښې لاسونه نشي ښورولې نو په اشاره دې وکړي، که اوبه نه پيداکيږي په خاوره دې تيمم وکړي، که قبله ورته څرګنده نه وي نو په هر لوري يې چې

ګمان راشي په همغه لوري لمونځ وکړي، لنډه دا چې ددې عبادت د پرېښودلو لپاره هېڅ ډول عذر نه اورېدل کېږي، کله چې د لمانځه وخت راشي نو مسلمان مکلف او مجبور دی چې لمونځ اداء کړي .

بېشکه په نړۍ کې بل هيڅ داسې ټولنيز او اجتماعي نظام نشته چې د خپلې ټولنې هر فرد او غړې بېل بېل او جلا جلا د داسې تربيتي او روزنيز نظام پوسيله تيار او چمتو کړي . په دنيا کې د ټولنيز نظام لپاره له بهرني بنديزونو څخه کار اخستل کېږي او داخلي بنديزونو، روزنو او تربيتي پروګرام ته هېڅ پام نکوي ترڅو پدې توګه کلک، قوي او نه شليدونکې نظم منځ ته راشي .

د جماعت، ډلې او ټولګي مثال د ديوال په شان دى چې له خښتو جوړ شوى وي، كه چيرې هره خښته پخه او كلكه نه وي نو ديوال خامخا كمزورې او كاواكه راځي .

په همدې توګه كه د يوې ډلې غړي او افراد د سيرت او كردار كمزوري ولري، كه د هغوى فكرونه او تصورات د تنظيم د چوكات سره برابر نه وي او په عملي ډول د تنظيم څخه په مخالفه لاره د تللو تكل لرونكي وي نو بيا يواځې بهرني بنديزونه د ډلې، ګروپ او تنظيم نظام او شكل روغ، سم او صحيح نشي ساتلې، بلاخره بغاوت او سر غړونه منځ ته راځي اوتنظيمي نظام دړې وړې كيږي .

## د جماعت او ډلې تنظيمول

اوس بايد مونږ د لمانځه په بل اړخ باندې رڼا واچوو، دا حقيقت دى چې انفرادي او يواځنې سيرت كومه پايله او نتيجه نه وركوي ترڅو پورې چې په ډله، تنظيم او جماعت كې هغه سيرت جوړ او پيدا نشي .

يو فرد او غړې يواځې په خپل سر هدف، مقصد او موخې ته نشي رسيدلاى ترڅو پورې چې دده په شااو خوا كې نور خلک ورسره پدې لاره كې مرسته او همكاري ونكړي .

فرد او غړى چې په كومو اصولو ايمان، عقيده او باور لري په هغو يواځې، ګوښې او تنها عمل نشي كولاى

ترڅو پورې چې ټولنيز ژوند په هغو اصولو باندې ولاړ نشي ځکه چې انسان په دنياکې يواځې او ګوښې ندې پيداشوې او نه په يواځې ځان هر څه کولاى شي .

د هغه ټول ژوند د ورونو، کورنۍ، دوستانو، ګاونډيانو، معامله کوونکو او د ژوند د بې شميره ملګرو سره تړاو لري. قرد په دنيا کې د الله تعالى له لوري پدې مکلف شوې چې پدې ټولنيز ژوند او ټولنيزو اړيکو کې د هغه قانون نافذ او جاري کړي، په همدې قانون باندې عمل کول، هغه نافذول او واکمنول عبادت دى .

که يو څوک د داسې خلکو په منځ کې اوسيږي چې هغوى دا قانون له سره نه مني، يا ټول ددې په خلاف را پورته شوى وي، يا دهغوى ټولنيزې اړيکې داسې وي

چې يو له بل سره پدې لاره کې مرسته او همکاري نشي کولای نو بيا د يو فرد او غړي لپاره پخپل شخصي او ځانګړي ژوند کې هم د خپلې عقيدې او اصولو سره سم ژوند تيرول ګران او سخت ګرځي، دا خولا څه کوې چې په ټولنيز ژوند کې دې هغه عملي او نافذ کړي .

له دې برسيره د مسلمان لپاره دا دنيا او نړۍ د سخت کوښښ، هلوځلو، منډو تړړو او شخړو ميدان دی، دلته د الله پاک څخه د بغاوت کوونکو لوی لوی ډلې ټپلې جوړې شويدي چې پخپل زړه او خوښه جوړ شوي قوانين په خلکو عملي کوي . پداسې حالت او داسې ځای کې په مسلمان باندې دا ملا ماتوونکې مسؤليت اچول شوی چې دلته بايد د الله پاک قانون خپور، عملي او نافذ کړي، په هر ځای

کې چې د انسان په خوښه جوړ شوې قانون نافذ او واکمن وي هغه له منځه يوسي او د هغې پرځای د يو او واحد الله قانون عملي او واکمن کړي .

دا درونـد، قـوي او سخت کار او مسؤليت چې مسلمان ته سپارل شوی، يو مسلمان يې يواځې په هېڅ ډول او توګه سرته نشي رسولای ځکه چې دده په وړاندې لوی لوی باغي او سرکښه ډلې، ګروپونه او ځواکونه د مقابلې لپاره ولاړ دی، که په لکونو او ميليونونو مسلمانان هر يو جلا جلا د هغوی په خلاف کار وکړي بيا هم هغوی نشي بريالې کيدای او نه د باطل زور او ځواک ماتولې شي، نو ټولو هغو کسانو ته چې د الله تعالی عبادت کول غواړي دا ضروري او اړينه ده چې يو ټولګې، يو جماعت او يو

تنظيم شي، يو دبل مرسته او كومك وكړي، يو دبل تر شا ودريږي او ټول سره يو ځای، يو موټې او يو لاس هلې ځلې او كوښښ پيل كړي . ددې دواړو هدفونو او مقصدونو د پوره كولو او لاس ته راوړلو لپاره يواځې د مسلمانانوپخپلوكې ليدل،كتل او مخامخ كيدل كافي او بس ندي بلكې دا ليدل، كتل او مخامخ كيدل بايد په سمه او صحيح توگه سرته ورسيږي، يواځې ټولنيز نظام هم كافي او بس ندی، بلكې يو صالح، روغ او سم ټولنيز نظام پكار دی چې د يو مسلمان اړيكي د بل مسلمان سره داسې وي كوم چې اسلام د هغو غوښتنه كوي

د هغوی په منځ كې بايد برابري، محبت، مينه، وروري، مرسته، همكاري، د

ګډ عمل کولو قصد او اراده، په ټولو کې د الله تعالی د بندګۍ جذبه، احساس او ولوله وي، بلکې پرله پسې په حرکت او خوزښت کې اوسيدل د هغوی خوې او عادت وي، هغوی هر يو بايد دا تصور او فکر ولري که چيرې د نظم او ټولګي مشر کيږي نو کوم کوم شيان ورته ضروري او اړين دي او څه ډول رويه او سلوک بايدوکړي او که بل څوک پرې مشر شي نو په څه ډول به د هغه اطاعت او پيروي کوي، څه ډول به د هغه په حکم عمل کوي، تر کوم ځای پورې په هغه باندې اطاعت لازم دی، څه وخت هغه پرې ګوت نيونه کولای شي، او کوم حد او پولې ته چې ورسيږي هغه يې له اطاعت څخه ازاديږي؟

## په جماعت سره لمونځ

لمونځ د انفرادي،شخصي او ګوښي شخصيت او سيرت جوړولو او برابرولو سره سره دا کار هم کوي چې هغه د يوى تولنې پوره چوکات جوړوي، هغه برابروي او د هغو د ساتلو کوښښ کوي، او دا په ورځ کې پنځه ځله په حرکت او خوزښت باندې راولي ترڅو د يو ماشين په شان خپله حرکت وکړي. له همدې امله په ورځ کې پنځه وخته لمونځ د جماعت سره اداء کول ضروري او اړين وګرځول شول . د شريعت له نظره هر فرد او غړې په يواځې يواځې لمانځه باندې د مسؤليت څخه خلاصيږي خو هغه به ګنهګار وي چې پرته له کوم شرعي عذر څخه پنځه وخته د جماعت لمانځه لپاره جومات ته ولاړ نشي .

د جماعت د لمانځه تاكيد ددې لپاره دى چې په مسلمانانو كې ټولنيز نظام په خپل اصلي شكل او صورت سره تل پاتې او حركت كوونكې اوسي، په جومات كې پنځه وخته را ټوليدل او راغونډيدل د اسلامي ټولنې او اجتماع بنسټ او بنياد دى، ددې نظام په كلكوالي پورې د مسلمانانو د ټولنې او اجتماع كلكوالې او قوي والې تړلې دى، كله چې دا كوچنى واحد او يونټ كمزورى او سست شي هلته هر څه كډوډ او له منځه ځي .

## اذان

حكم دى چې كله د اذان اواز واورئ نو سمدستي پورته شئ، خپل كار او مصروفيت خوشې كړئ او جومات ته ځان ورسوئ . ددې اواز په اوريدو سره د

مسلمانانو پورته کيدل او د يو مرکز په لوري تلل داسې مثال او کيفيت لري لکه چې پوځيان او سپايان د شپيلاق په اوريدلو د خپل تعليمي ميدان په لوري منډې وهي . د پوځ سپاهي چې هر چيرې وي کله چې د شپيلاق اواز اوري نو پدې پوهيږي چې قوماندان مونږ غواړي، ددې اواز په اوريدو سره د ټولو په زړونو کې يو ډول حالت او کيفيت منځ ته راځي او هغه د خپل قوماندان امر او حکم منل دي، ددې فکر او تصور د پيداکيدو سره سم ټول يوډول کار کوي او هغه دا چې خپل کار او مصرفيت خوشې کوي او له هر لوري مرکز ته را ټوليږي ، په پوځ کې ولې دا ډول طريقه ټاکل شوی ده؟

ددې لپاره چې په هر پوځې، عسکر او سپاهي کې په انفرادي لحاظ د حکم او

امر منلو خوي، عادت او له هغه سره سم د عمل کولو استعداد راپيدا شي، بيا د داسې حکم منوونکو او تابع سپايانو څخه يو گروپ، ټولې او کنډک جوړ شي چې په ټولو کې دا عادت او خوې موجود وي چې د قوماندان په يو شپيلاق او اواز سره ټول يو مرکز ته راټول او بلاخره ټول پوځ او لښکر د اړتيا په وخت کې د کار سرته رسولو لپاره وړاندې شي .په پوځي اصطلاح کې دې ته په بيړه را ټوليدل (Mobility) وايې او همدا د پوځي ژوند روح او جان وي، په کوم پوځ او لښکر کې چې دا استعداد نه وي او د هغه سپايان داسې خپل سري او بې نظمه وي چې هر لوري ته يې چې زړه وي هغه لوري ته ځي نو که داسې پوځ په زرگونو هم وي هېڅ کار او عمل نشي کولای، د

داسې خپل سري او ګډوډ پوځ زركسان د دښمن پنځوس تكړه سپايان ختمولې او ژوندي نيولې شي . د همدې مصلحت او حكمت په خاطر د مسلمانانو لپاره هم همدا قاعده او اصل ټاكل شوى چې د اذان په اوريدو سره خپل ټول كارونه او مصروفيتونه خوشې كړي او جومات ته ځان ورسوي . ددې را ټوليدو تمرين او ټرينينګ هره ورځ پنځه ځلې تكراريږي ، دا ځكه چې ددې الهي پوځ او لښكر وظيفه او دنده د نړۍ د ټولو پوځونو څخه سخته او ګرانه ده .

د نړۍ پوځ او لښكر ته كله نا كله كار او عمليات پيداكيږي چې د همدې لږ كار او عملياتو لپاره دومره تمرين او ټرينينګ وركول كيږي پداسې حال كې چې الهي پوځ ته هر وخت كار ، فعاليت او

عمليات په وړاندې موجود وي . په اصل کې دا ددوی لپاره ډېره اسانتيا او رعايت شوی دی چې په شپه او ورځ کې پنځه ځلې د اذان په اواز سره خپل مرکز يعنې جومات ته را ټوليږي .

## په جومات کې اجتماع او ټولنه

دا خو يواځې د اذان ګټه او فايده وه، چې له دې څخه وروسته تاسې په جومات کې را ټوليږئ او په همدې را ټوليدو کې ډېرې ګټې او فايدې دي، تاسې په جومات کې يوله بل سره ګورئ، پيژنئ او بلدتيا پيدا کوئ ، دا ليدل، پيژندل او بلدتيا په کوم حثيت سره ده؟

دا له دې امله چې تاسې ټول د يو الله تعالی بندګان ياستئ، د يو پيغمبر او

رسول منوونکي یاستئ، په یو کتاب مو ایمان راوړی دی، د ټولو د ژوند هدف او مقصد یو دی او د همدې یو مقصد لپاره تاسې ټول په یو جومات کې را ټول شوي یاستئ. نو د جومات څخه تر وتلو وروسته بهر او د باندې هم باید د همدې مقصد لپاره په ګډه او شریک کار او فعالیت وکړئ، دا ډول پېژندګلوي پخپله په تاسې کې دا فکر او تصور را پیدا کوي چې تاسې ټول یو قوم، د یو پوځ او لښکر سپایان او د یو بل ملګري او ورونه یاستئ.

په نړۍ کې ستاسې موخې، ستاسې هدفونه او مقصدونه، ستاسې ګټې او زیانونه ټول سره ګډ او شریک دي، ستاسې ژوند یو له بل سره تړلې او نښتې دی ځکه چې که تاسې پورته کیږئ

نو هم يوځای به وئ او که لويږئ نو هم يو ځای به لويږئ .

نو کله چې د يوبل سره ګورئ نو په غږولو سترګو به ګورئ، دا ليدل به د دښمنانو نه بلکې د دوه دوستانو او دوه ورونړو ليدل وي .

کله چې تاسې يو مسلمان ورور ګورئ چې زړې او شليدلې جامې يې په تن دي، حالت يې خراب او ګډوډ دی، څوک وږې او تږې راغلې دی، څوک معيوب، ړوند، کوڼ، شل او ګونګی دی، نو ستاسې په زړه کې خامخا د مرستې، کومک او همکارئ ولولې او احساسات را پيدا کيږي .

ستاسې څخه چې څوک مالدار او شتمن دي، هغوی په بې وځلو او غريبو رحم کوي، کوم چې غريبان او بې وځلې دي

هغوی خپل حال شتمنو ورونو ته ویلی او رسولی شي . د هر چا په هکله معلومېږي چې ناروغ یا په کوم کړاؤ کې راګیر شوی ځکه جومات ته نه راځي، نو خامخا تاسې د هغه پوښتنې او عیادت ته ورځئ . که د چا د جنازې خبر وشي نو هلته هم حاضري او پاتې خلکو ته ډاډ او تسلي ورکوئ . دا ټول کارونه او خبرې خپل منځي مینه، محبت زیاتوي، یوله بل سره یې نږدې کوي او یو د بل مرسته کوونکې یې ګرځوي . تاسې لږ شانته غور وکړئ: په کوم ځای کې چې تاسې را ټول شوی یاستئ د یو پاک او مقدس هدف او مقصد لپاره را ټول شوی یاستئ، تاسې د کوم فلم او یا د فلمي ستوري د لیدلو لپاره نه یې راټول شوي، تاسې د شراب څښلو یا جوارئ لپاره نه یې را ټول

شوي، دا د بد کارو او لوفرانو ډله او ټولګې نه دی چې د ټولو په زړونو کې بدي او خرابي پرته وي .

بلکې دا د الله پاک د بندګانو ټولنه او اجتماع ده، د الله پاک د عبادت لپاره، د الله پاک په کور کې او ددې لپاره چې د الله پاک په وړاندې د خپلې بندګۍ اقرار وکړي .

په داسې حالاتو کې لومړې خپله د انسان په زړه کې د ګناه څخه توبه او پیښماني پیداکیږي خو که چیرې کوم مسلمان د خپل بل مسلمان ورور په وړاندې بدي کړی وي او هغه هم په جومات کې موجود وي نو یواځې د هغه په لیدلو سره دده زړه د ګناه د شرم څخه ټوټه ټوټه کیږي او که چیرې په مسلمانانو کې د نصیحت او خیر خواهۍ

جذبه او ولوله شتون ولري او پدې وپوهيږي چې د مرستې او محبت سره چې کومه اصلاح صورت نيسي نو تاسې پدې يقين ولرئ چې دا ټولنه او اجتماع به د ډېر زيات خير، برکت او رحمت لامل وګرځي .

پدې توګه به مسلمانان د يوبل په ملګرتيا سره ټولې خرابۍ له منځه يوسي، يودبل نيمګړتياوې به اصلاح کړي چې بلاخره يو صالح، روغ او سمونکې ټولګی به ورڅخه جوړ شي .

## ليکې او صفونه جوړول

دا خو يواځې په جومات کې د راټوليدو برکتونه وه، اوس دا وګورئ چې په جماعت سره لمونځ کول څومره برکتونه، ګټې او فايدې لري .

په جومات کې ټول مسلمانان يو شانته حيثيت لري، که يو موچي تر ټولو مخکې راغلی وي هغه به په لومړي صف کې ناست وي، او که کوم سردار او ريئس وروسته راغلی وي هغه به پخپله په شاتني صفونو کې کيني، هيڅ مسلمان که هر څومره لوی او غټ وي په جومات کې د ځان لپاره ځای نشي ټاکلی او هيڅ مسلمان نشي کولای بل مسلمان له جومات څخه منع کړي او يا يې له يو ځای څخه لرې کړي، هيڅ مسلمان ته دا حق نشته چې د خلکو په سرونو او اوږو پورته تير شي او مخکې ځان ورسوي، ټول مسلمانان په صف کې د يوبل سره برابر او يو شانته ودريږي. هلته نه څوک لوی شته او نه څوک وړوکی، نه څوک پورته شته نه څوک ښکته، او نه د چا

سره په لګیدو باندې ناپاکه کیږي، نه په یو شانته ودریدو سره د چا عزت او حیثیت تر پښولا ندې کېږي، د بازار جارو کوونکي به په جوماتو کې د وزیر او والي سره یو ځای او برابر ودریږي . په اصل کې د جماعت لمونځ اجتماعي جمهوریت دی چې ددې جمهوریت په را وستلو او تل پاتې کیدلو کې پرته د اسلام څخه بل هیڅوک هم ندې بریالی او کامیاب شوی .

دلته هره ورځ پنځه ځلې د ټولنې پورته او ښکته سره یو برابر او یو شانته ودرول کیږي، د لویانو او غټانو څخه د کبر، لویی او غرور نېشه وباسي او د ښکته او لاندې خلکو د ذهن او دماغ څخه د ذلت، خوارۍ او سپکاوي تصور لرې کوي، ټولو ته دا ور په

یادوي چې ټاسې ټول مسلمانان د الله پاک په وړاندې سره برابر او یو شانته یاستئ .

دا صفونه او لیکې جوړول لکه څرنګه چې طبقاتي امتیازات له منځه وړي په همدې توګه د نسل، نژاد، توکم، قبیلې، وطن، رنګ او نور تعصبي امتیازات او بیل والې هم له منځه وړي . په جومات کې د هیچا هیڅ ډول امتیازي نښه او علامه موجوده نه وي او نه د هغې په بنسټ خپله ډله او ګروپ ټاکلی شي .

ټول مسلمانان چې جومات ته راځي که هغه تور وي که سپین، اسیایي وي که اروپایي، سامي وي که اریایي، که هر ډول ژبه وایي خو دا ټول به د جومات په منځ کې په یو صف او لیکه کې ودریږي او لمونځ به اداء کوي .

په ورځ کې پنځه ځلې دا ډول غونډه، را ټوليدل او اجتماع د هغو طبقاتي، تعصبي او امتيازي توپيرونو، اختلافونو او تفاوتونه ريښې وباسي کوم چې له بهر او د باندې څخه اسلامي او انساني ټولنې ته رانوتي دي .

د جماعت لمونځ انساني يوالې او وحدت رامنځ ته کوي، نړيوال توب ځواکمن کوي، او دا تصور او فکر په ذهنونو، د ماغونو او زړونو کې پخوي چې دا ټول طبقاتي، ژبني، نسلي او عصبي فرقونه، تفاوتونه او اختلافات دروغجن دي بلکې ټول انسانان د يو الله تعالى بندګان دي او که دا ټول د الله تعالى په بندګى او عبادت باندې سره يو خوله او هم غږې شي نو ټول يو او واحد امت دى .

بيا چې کله يودبل سره اوږه په اوږه په يو صف او ليکه کې ودريږي، يو ځاى سره رکوع او سجده وکړي نو په هغوى کې داسې ټولنيز او اجتماعي نظم او دسپلين را پيدا کيږي چې د کوم د پيداکيدو لپاره په عسکرو او پوځيانو باندې تمرينونه، مشقونه او ترينئنګونه کيږي .

د جماعت د لمانځه اصلي هدف او مقصد همدا دى چې په مسلمانانو کې د عمل يوالې، وحدت او اتحاد منځ ته راشي او ټول د الله تعالى په بندګۍ کې يو دبل سره تړلي او نښتي د يو تن او بدن پشان وګرځي .

## ټولنيزې او اجتماعي دعاګانې

د ليکو او صفونو ټولې ګټې او فايدې هغه دعاګانې دوچنده او مؤثرې ګرځوي چې په لمانځه کې له الله تعالى څخه غوښتل کيږي، ټول په يوه خوله او ژبه الله تعالى ته وړانديز کوي **:اياک نعبدُ واياک نستعين:** مونږ ټول ستا عبادت کوو او مونږ ټول ستا څخه مرسته او مدد غواړو.

﴿ ٱهۡدِنَا ٱلصِّرَٰطَ ٱلۡمُسۡتَقِيمَ ۝٦ ﴾ الفاتحة: ٦

مونږ ټولوته نيغه لاره په ګوته کړې .

**السلام علينا وعلى عبادالله الصالحين:**

په مونږ دې سلامتي وي او د الله په نيکو بندګانو هم .

د لمانځه په دعاګانو کې به تاسې ته واحده صيغه تر سترګو نشي، هر چيرې چې تاسې ګورئ نو د جمعى صيغه به وينئ .

په ټولنیزو عبادتونو او ټولنیز وحرکتونو کې چې کله ټولنیزې دعاګانې شریکې شي نو د مسلمان په زړه او ذهن کې دا خبره بیابیا ثبتوي چې هغه یواځې او ګوښې ندی، هغه باید هر څه یواځې د خپل ځان لپاره ونه غواړي بلکې د هغه ژوند د ټولنې او اجتماع پورې تړاو لري، د ټولنې په ښوالي کې دده ښوالې دی، د ټولنې په سموالي، اصلاح او روغوالي کې دده خیر او ګټه ده، د الله پاک له لوري خیر او برکت په جماعت او ټولنه پورې تړاؤلري.

نو د هغو له فایدو او ګټو څخه به دا هم برخمن شي، همدا خبرې او کارونه د انساني ذهن او دماغ څخه ګوښیتوب او انفرادیت وباسي او ټولنیز ذهنیت را پیداکوي . د ټولنې د غړو او افرادو

ترمنځ د يوبل د خير غوښتنې، مرستې، محبت او مينې ولولې او احساسات را بيداروي او هغې ته نمو او وده ورکوي، پدې توګه په مسلمانانو کې د ورځې پنځه ځله دا ټولنيزتوب را هڅوي ترڅو د جومات څخه د باندې په پراخه او لوی ټولنه او اجتماع کې همدا ډول رويه، سلوک، کردار او اخلاق خپل کړي .

## امامت

دا ټولنيز او اجتماعي عبادت د يو امام، رهبر او لارښود څخه پرته سرته نشي رسيدای، دوه خلک هم که فرض لمونځ اداء کوي نو په هغوی باندې لازم دي چې يو يې امام او بل مقتدي شي .

خو کله چې يو جماعت ودريږي بيا بيل او ګوښې لمونځ کول سخت منع دی بلکې

داسې لمونځ له سره نه کيږي . حکم دا دی چې هر څوک راځي نو په همدې ولاړ امام پسې به ودريږي، د امامت منصب په کوم ځانګړي نسل، نژاد، کورنۍ، قوم او قبيلې پورې تړاو نلري. نه ددې لپاره سند، ډګري يا شهادت نامه ضروري ده، هر مسلمان امام کيدلای شي . خو شريعت دا وړانديز کوي چې د امام په نيولو او غوره کولو کې بايد څو صفات او ټکي په نظر کې ونيول شي چې د هغو صفاتو يادونه وروسته کيږي .

د جماعت په لمانځه کې چې د امام او مقتديانو ترمنځ کوم تړاو او اړيکي په ګوته شوي د هغو يو يو ټکې د غور او دقت وړ دی ، د جماعت په لمانځه کې هر مسلمان ته د لارښود، قايد، واکمن، اطاعت کوونکي، مامور او محکوم ټول

اړخونه په ګوته کيږي او د هغو عملي تمرين، مشق او ترينننګ ورکول کيږي . هغوی ته دا په ګوته کيږي چې ددې کوچني جومات څخه د باندې په لوی، پراخه او وسيع جومات يعنې ځمکه کې به د مسلمانانو نظام څرنګه وي؟

په ټولنه، ټولګي او اجتماع کې د امام حيثيت څه ډول دی؟ د هغه دندې او مسؤليتونه څه دي؟ د هغه حقوق او امتيازات څه دي؟ او د امام کيدو په صورت کې به د هغه رويه، سلوک او عادت څه ډول وي؟

بل لوري ته عام ولس او خلک به دده څه ډول پيروي، منننه او اطاعت کوي؟ په کومو کارونو او خبرو کې به يې اطاعت او پيروي کوي؟ که امام غلطي وکړي نو خلک به څه کوي؟ تر کوم حده پورې به د

هغه په غلطيو کې هم منذنه او پيروي کوي؟ کله د هغه پوهول او خبردار کول اړين دي؟ کله د هغه څخه دا غوښتنه کولای شي چې خپله غلطي اصلاح او سمه کړي؟ او کله هغه د امامت له منصب څخه لرې او گوښه کولای شي؟

دا ټول شيان، خبرې او لارښودونکي کلمات په يو کوچني واحد کې ددې لپاره تمرين، مشق او عملي کيږي چې په پراخه دنيا او ځمکه کې د يو لوی نظام، حکومت او واکمنۍ چلول زده کړي . دا کارونه، تمرين او مشق هره ورځ پنځه وخته په يو کوچني ځای کې ورکول کيږي چې د هغه نوم جومات يا مسجد دی .

شريعت دا لارښوونه، هدايت او وړانديز کوي چې امام بايد هغه څوک وټاکل او غوره شي چې متقي، پرهيزگار

او د نیک سیرت خاوند وي، د دین علم او پوهه ولري، عُمر یې زیات وي، په حدیث شریف کې ددې ترتیب هم ښودل شوی چې کوم کوم صفات مخکې او کوم وروسته دي، له همدې څخه دا جوته کیږي چې مسلمانان باید خپل مشر، سردار، واکمن او حاکم څه ډول انسان غوره کړي .

حکم دا دی چې تاسې داسې انسان د امامت لپاره مه غوره کوئ چې زیات او اکثریت خلک ورڅخه ناخوښې او ناراضه وي، لېږ خلک خو د هر چا څخه خفه او ناخوښې وي، که چیرې زیات او اکثریت خلک د چا څخه خفه، ناراضه او کرکجن وي هغه باید امام ونه ټاکل شي، لدې څخه هم مونږ ته دا اصل او قاعده په ګوته کیږي چې کوم سړې باید سردار، مشر او واکمن وټاکل شي .

هغه څوک چې په بد سيرت، بدو اخلاقو او بد کردار باندې مشهور وي هغه ددې لياقت، وړتيا او اهليت نلري چې د مسلمانانو امير دې وټاکل شي .

حکم دا دی چې څوک امام وټاکل شي په جماعت کې بايد د کمزورو او ناتوانه خلکو خيال او لحاظ هم وساتي، يوازې د ځوانانو، تکړه خلکو، روغو او وخت لرونکو خلکو لپاره اوږده اوږده سورتونه، رکوع او سجدې ونکړي . بلکې دا په ذهن او زړه کې وساتي چې په جماعت اومقتديانوکې کمزوري، ناروغ، اړ او وخت نه لرونکي خلک هم شته چې هغوی خپل کار او کسب خوشې کړی او لمانځه ته راغلي دي او بيرته خپل کار ته تلل غواړي. رسول الله ☚ پدې هکله تر ټولو زيات رحيم او مهربانه وو ځکه

کله به يې چې د کوم ماشوم او کوچني ژړا واوريدله نو لمونځ به يې رالنډا وه ځکه که چيرې د ماشوم مور په جماعت کې ګډون کړی وي نو چې د هغې زړه ته تکليف ونه رسي . دا په اصل کې نورو امامانو، سردارانو، واکمنانو او مشرانو ته تعليم، ښوونه او هدايت ورکول دي چې د خلکو سره بايد د هغوی رويه او سلوک په کومو اصولو ولاړ وي .

بل حکم دا دی که چيرې امام ته داسې عذر او تکليف پيښ شي چې امامت نور نشي کولای نو بايد خپل ځای خالي کړي او شاتنې سړې پخپل ځای باندې ودروي . دلته هم د قوم مشر، سردار او واکمن ته لارښوونه ده چې کله هغه د خلکو مشري او لارښوونه په ښه او غوره طريقه نشي کولای نو خپل ځای بايد بل چاته

خوشې کړي، پدې کې نه څه شرم شته او نه ځان غوښتنه .

بل حکم دا دی چې د امام به په ټولو حرکاتو، کارونو او افعالو کې کلکه پيروي، منښه او اطاعت کيږي، د هغه د حرکت څخه مخکې حرکت کول سخت بند او منع دی، آن تردې چې څوک د امام څخه مخکې رکوع يا سجدې ته ولاړ شي په حديث شريف کې راغلي چې داسې سړی به د قيامت په ورځ د خره په څېره را پورته کړای شي، پدې ځای کې قوم ته لارښوونه شويده چې د خپل امام، مشر او واکمن څه ډول اطاعت او پيروي وکړي .

که چيرې امام په لمانځه کې غلطي وکړي يعنې د ولاړي پرځای کيني يا د کيناستو پر ځای ودريږي، نو خلکو ته حکم دی چې سبحان الله ووايې ترڅو هغه په

خپلې غلطۍ پوه شي، د سبحان الله معنی دا ده چې الله تعالی پاک او سپېڅلې دی او ددې ویلو مطلب دا دی چې یوازې د الله پاک ذات داسې دی چې له خطاء او غلطۍ څخه پاک دی او انسان خامخا خطاء کیږي او دا څه د حیرانتیا، تعجب، اعتراض او ګوت نیونې خبره نده چې څوک پرې خفه یا ناراضه شي، دایوازې د امام د خبرداری طریقه ده .

کله چې امام پدې توګه خبردار شي نو هغه باید سمدستي خپله غلطي اصلاح کړي او یوازې اصلاح نه بلکې د خپلې غلطۍ د اعتراف په توګه د لمانځه تر ختمیدو مخکې د الله پاک دربار ته دوه سجدې وکړي او خپله عاجزي او کمزوري وړاندې کړي خو که چیرې د خبرداري سره سره امام پدې باور او یقین وي چې زما کار سم

او صحيح دی او شاته خلک غلط شوي نو بيا دې خپل لمانځه ته همداسې دوام ورکړي . شاته خلک به بيا د هغه منننه، پيروي او اطاعت کوي سره ددې چې هغوی پخپله خبره باندې يقين او باور ولري . کله چې لمونځ ختم شي نو مقتديان حق لري چې امام ته خپله غلطي په ګوته کړي او که ثابته شوه نو بيا دې لمونځ راوګرځوي .

د امام او مقتديانو دا سلوک په هغو غلطيو پورې تړاو لري چې د فرعي او جزئي مسايلو پورې اړه ولري خو که امام د نبوي سنتو په خلاف د لمانځه شکل او صورت بدل کړي، يا په قرآن کې تحريف وکړي، يا د لمانځه په دوران کې د کفر، شرک او کبيره ګناه کار وکړي، يا داسې عمل او کار وکړي چې هغه

بالکل د الهي قانون څرګند مخالفت وي، یا د هغه په عقل کې کمزوري راشي، نو د جماعت د خلکو دا حق دی چې لمونځ مات کړي، امام له خپل منصب څخه لرى او پرځای یې بل څوک ودروي .

په عادي او سموحالاتو کې چې د امام پیروی او اطاعت نه کولو څومره ګناه لرله په اوسني حالت کې د هغه پیروي کول همدومره ګناه او جرم دی .

همدا طریقه او رویه باید په پراخه توګه د قوم د مشر او سردار سره هم وشي، ترڅو پورې چې سردار او مشر د اسلامي قانون په دایره کې کار کوي پر مسلمانانو د هغه پیروي او اطاعت واجب دی او که اطاعت ونکړي نو ګنهګار ګرځي، یواځې دومره حق لري چې هغه خبردار کړي که د خبرداری سره سره هغه

په کوچنيو خبرو کې پخپله غلطۍ ولاړ وي نو بيا به يې هم اطاعت کوي .

خو کله چې سردار، مشر او واکمن د الهي او شرعي قانون له پولو او چوکاټ څخه د وتلو کوښښ پيل کړي نو بيا هغه د مسلمانانو امير نشي کيداى .

تردې ځاى پورې چې مونږ د لمانځه د هدفونو، مقصدنو او موخو تشريح وکړه سره لدې چې پدې کې ټول شيان ندي ياد شوي خو ددې څخه دا خبره په ډاګه کيږي چې ولې لمونځ د اسلام لوى او مهم رکن بلل شويدې او رکن ستنې ته وايي او په ستنه باندې ټوله ودانۍ ولاړه وي .

د اسلامي ژوند د ودانۍ د جوړولو او ساتلو لپاره چې د کومو تکيه ګانو او ټيکاؤنو ضرورت دى په هغو کې تر ټولو مهم او ضروري هغه ټيکاؤ دى چې د

مسلمانانو په هر غړي او فرد کې او بيا په عمومي توګه په ټولو مسلمانانو کې هغه خويونه او صفات را پيداکړي چې د الله تعالی د بندګۍ د حق پوره کولو او په نړۍ کې د الهي خلافت د سمبالولو لپاره ضروري او اړين دي،چې هغوی په غيبو ريښتني ايمان ولري، الله تعالی خپل لوی واکمن وګڼي او د هغه د اطاعت او پيروۍ پابند وي .

د اسلامي ژوند فکري او نظرياتي نظام يې په رګ رګ او ذره ذره کې داسې ثبت او پوخ شوی وي چې د هغې څخه پوخ او صالح سيرت جوړ شي او عملي ژوند يې د هغه ښکارندوی وګرځي .

پخپلو بدني او نفساني خواهشاتو دومره کنترول او واک ولري چې هغه د خپل ايمان او عقيدې سره سم پکار

واچوي، که چيرې په هغوی کې د منافقانو او دوه مخو ګروپ او ډله پيدا شوی يا د باندې څخه ورننوتې وي هغه پخپله ورڅخه جلا شي .

د هغوی ټولنيز نظام د اسلام په ټولنيزو اصولو باندې ولاړ وي او د يو ماشين په څېر خپل کار او حرکت وکړي . په هغوی کې د انفراديت او ګوښي توپ پرځای اجتماعيت او ټولنيز توب زيات وي . د هغوی پخپلو کې سره محبت، مينه، مساوات، برابري، روحي او عملي يوالې موجود وي . هغوی د مشرۍ او کشرۍ په اصولو پوه وي، د پوره نظم او دسپلين سره په کار باندې پوهه ولري .

څرنګه چې دا ټول کارونه د لمانځه پوسيله پوره کيدای شي نو ځکه هغه د اسلام مهم او ضروري رکن وګرځول شو او

د دین ستنه وبلل شوه . که چیرې دا ستنه ونړول شي نو بیا به د مسلمانانو انفرادي او اجتماعي حیثیتونه او سیرت ختم او له منځه ولاړ شي نو له همدې امله لمونځ ( عمادالدین) بلل شوی دی، دا د دین ټیکاؤ دی او څوک چې دا ستن ونړوي نو هغه دین ونړاوه .

## روژه

پورتني هدفونه او موخې دومره مهمې، ضروري او اړینې دي چې د هغو د تر لاسه کولو لپاره یواځې لمونځ کفایت نه کولو نو د هغو د ځواکمن او قوي کولو

لپاره يې بل رکن روژه هم ورسره ملګرې کړه . روژه د ډېر پخوا څخه د اسلام رکن او مهمه برخه وه، سره لدې چې د تفصيلي احکامو، شرايطو او شکلونو په لحاظ يې سره فرق او توپير درلوده خو خپله روژه د ټولو الهي شريعتونو او اسلام نه بليدونکې برخه وه، د ټولو پيغمبرانو υ په شريعت کې دا فرض ګرځول شوې وه، لکه چې پدې هکله قرآن مجيد فرمايي .

﴿كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ ﴿١٨٣﴾﴾ البقرة: ١٨٣

( پر تاسې روژې فرض شويدي لکه څرنګه چې ستاسې څخه په مخکنيو امتونو فرض شوې وه ) .

ددې څخه خپله څرګندېږي چې د اسلام د فطرت او طبيعت سره ددې تړاو او اړيکې

شته او د روزنې او تربيت يو مهم جز بلل کيږي .

د زکات او حج په شان روژه يو ازاد او مستقل رکن ندی بلکې ددې مزاج او طبيعت لمانځه ته نژدې دی او دا د لمانځه سره د يو مرسته کوونکي او کومکي په توګه يو ځای شويده .

روژه هغه اغيزې او اثرات قوي، ځواکمن او زياتوي کوم چې د لمانځه پوسيله په انساني ژوند باندې پريوتې دي . لمونځ ورځنې روزنيز او تربيتي کورس دی چې لږ لږ ځنډ وروسته په انسان باندې اغيزه او اثر اچوي، لږ لږ درمل ورکوي او بيايې خوشې کوي .

خو روژه په کال کې يو مياشت پرله پسې روزنيز او تربيتي کورس دی چې نژدې ۷۲۰ ساعتونه انسان پخپلو پنجو

کې کلک او مضبوط ساتي ترڅو هغه ورځني اثرات چې په انسان کې د لمانځه په واسطه پيداشوي هغه قوي، ځواکمن او سخت کړي، دا لوړاوپورته روزنيز نظام څرنګه کار کوي او په څه طريقه او توګه يې کوي په راتلوونکو مخونو کې هغې ته اشاره کوو.

## د روژې اغيزې او اثرات

د روژې قانون دا دی چې د شپې د اخري وخت د سپيده داغ د راختلو سره سم په مسلمان باندې خوراک، څښاک او جنسي اړيکې نيول بنديږي، او پوره ورځ تر ماښام پورې دا درې شيان پرې حرام وي، دروژې په دوران کې د يوې ذرې خوراک، يو څاڅکي اوبو تيرول او د خپلې ميرمني سره جنسي اړيکې ساتل

حرام دي . بيا چې کله ماښام شي نو دا بند او ديوال مات او لېږ څنډ مخکې چې څه حرام وه هغه بيرته حلالېږي، بيا ټوله شپه دا شيان حلال وي ترديې چې د بلې روژې وخت راشي او يو ځل بيا بنديز ولګيږي .

دا عمل د رمضان د مياشتې د لومړۍ نيټې څخه پيل کيږي او يوه مياشت پرله پسې همداسې په يو کلک او قوي نظم او دسپلين کې روان وی .

په ټاکلي وخت چرګ بانګی کول، په ټاکلي وخت افطار او روژه ماتې کول، ترڅو چې اجازه وي د نفس غوښتنې پوره کول او کله چې حکم وشي نو ټول شيان حرام او منع شي .

## د بندګی احساس

کله چې پدې روزنيز او تربيتي نظام باندې غور وشي نو په لومړني نظر کې دا څرګنديږي چې پدې توګه په انسان کې د بندګۍ او عبديت احساس او د الله تعالی د واکمنۍ او حاکميت اقرار او اعتراف پخيږي او بلاخره دا احساس، تصور او شعور دومره ځواکمن کيږي چې انسان د الله تعالی په وړاندې د خپلې ازادۍ او خپلواکۍ څخه لاس په سر کيږي او ځان غلام، بنده او عبد بولي چې همدا په اصل کې د اسلام روح او زړه دی او په همدې احساس او تصور باندې د انسان مسلماني او نه مسلماني ولاړه ده .

اسلام يواځې دا نه غواړي چې انسان دې د الله تعالی شتون او وجود قبول کړي يا دې په مافوق الطبيعی توګه ددې ټولو کائناتو خالق او مالک يواځې الله

تعالی وبولي بلکې د هغه اصلي غوښتنه، مقصد او هدف دا دی چې ددې اقرار اصلي او واقعي پایله دې هم ومني یعنې کله چې هغه دا خبره مني چې ددې ټولو کائناتو رب، پالوونکې او پیداکوونکې الله رب العزت دی، کله چې هغه دا خبره مني چې ددې کائناتو په پیدایښت، چلولو، تدبیر، پاللو او پاتې کیدلو کې بل څوک د الله تعالی سره شریک نشته نو باید پدې هم اعتراف وکړي چې څوک ددې ټولو کائناتو خالق، مالک، چلوونکې او حکم کوونکې دی نو هغه ځما رب، خالق، حاکم، امر او مطاع هم دی او زه باید ټول واک او اختیار ورته وسپارم، خپله ازادي او خپلواکي باید د هغه په وړاندې خوشې کړم او د الله پاک په وړاندې داسې رویه، سلوک او روش

غوره کړم لکه چې يو بنده، غلام او نوکر يې د بادار، سردار، مشر او پاچا په وړاندې غوره کوي . همدا خبره او همدا اقرار د کفر او اسلام ترمنځ فرق او توپير کوونکې دی .

کفر ددې څخه پرته بل څه ندې چې انسان خپل ځان د لوی او قادر ذات څخه خپلواک او ازاد احساس کړي او ځان حساب او ځواب ورکوونکې نه بولي او پخپله خوښه ځانته لاره غوره کوي .

او اسلام ددې څخه پرته بل څه ندې چې انسان د الله پاک په وړاندې خپل ځان بنده، غلام، نوکر او ځواب ورکوونکې وبولي او د همدې احساس او تصور لاندې خپل ژوند تير کړي .

لکه څرنګه چې د کفر څخه د اسلام په لوري د را وتلو لپاره د الله پاک په

ربوبيت، الوهيت او حاکميت د ژبې او زړه اقرار او تصديق لازمي دی، په همدې توګه په اسلام کې د پاتې کيدو لپاره دا هم ضروري او اړين دی چې د انسان په زړه او شعور کې دا احساس او تصور ژوندې، تازه او هر وخت فعال وي چې زه بنده، غلام، نوکر او څواب ورکوونکی يم، دا ځکه چې کله د بندګۍ، غلامۍ، نوکرۍ او ځواب ورکونې احساس کمزوري کيږي نو ورسره د خپلواکۍ او ازادۍ احساس قوي او ژوندی کيږي، او د کفر هغه حالت منځ ته راځي چې انسان پکې خپل ځان ازاد، خپلواک او ځواب نه ورکوونکې بولي .

لکه څرنګه چې مخکې وويل شول د لمانځه لومړنې هدف اومقصد د اسلامي حالت پرله پسې ژوندي کول او تازه کول

دي او همدا مقصد او هدف روژه هم لري . خو توپير پکې دا دی چې لمونځ هره ورځ لېږلږ د اسلام دا حالت ژوندی کوي او رمضان په ټول کال کې پوره يوه مياشت پرله پسي د ۷۲۰ ساعتونو لپاره په انسان کې دا حالت ژوندی، تازه او فعال ساتي ترڅو په پوره ځواک، قوت او شان سره په زړه، دماغ او بدن کې پوخ، ثبت او ريکارډ شي او تر يولسو راتلونکو مياشتوپورې اثر او اغيزه ولري .

لومړي دا چې انسان د روژې د ې کلک او سخت قانون ته تر هغې پورې ځان پابند نه گڼي ترڅو پورې چې هغه الله تعالی خپل لوی واکدار او واکمن ونه گڼي او د هغه په مقابل کې د خپلې خپلواکۍ او ازادۍ څخه لاس په سر نشي .

بيا چې د ورځې دولس، ديارلس ساعتونه د خوراک، څښاک او جنسي اړيکو څخه بند او منع وي، او بيا د سحري تر کولو وروسته يو ناڅاپي د نفسي خواهشاتو او غوښتنو څخه لاس په سر کيږي اوورورسته د روژه ماتي او افطار په وخت کې يو دم نفسي غوښتنو او خواهشاتو ته داسې ورمنده کوي لکه دده د بدن په غړو؛ خوله، ژبه او جنسي اعضاؤ چې د بل چا حکومت، واکمني او تسلط وي چې د هغه په حکم خلاصيږي او د هغه په حکم بنديږي .ددې څخه بالکل دا خبره ثابيتيږی چې په انسان باندې د روژې په حالت کې همدا تصور، احساس او شعور حاکم، واکمن او مسلط وي . د رمضان په پوره يوه مياشت کې دا احساس او حالت د شعور څخه د يوې لحظې لپاره هم نه

پورته کيږي ځکه که دا تصور، احساس او شعور نه وي نو بيا د روژې ساتل امکان نلري ځکه دده لپاره ډيرې اسانتياوې شته چې روژه پکې ماته کړي .

## د امر منل

د بندگۍ، غلامۍ او عبديت د احساس سره سره چې کوم شی په لازمي توگه منځ ته راځي هغه دا دی :

د چا چې ته ځان غلام او بنده بولې نو د هغه حکم او امر به هم منې، ددې دواړو شيانو په منځ کې داسې تړاو او اړيکې دي چې يو له بل څخه نشي جلا کيدای او نه ددې دواړو په منځ کې تناقض او ضد پيدا کيدای شي ځکه چې اطاعت او امر منل په الوهيت او ربوبيت باندې د اقرار او اعتراف کولو

پـایـلـه او نـتـیـجه وي . تـاسې تـر هغه پـورې د چـا اطاعت او منـنه نـشئ کـولای تـرڅـو چې د هغه الـوهیت او ربـوبـیت ونـه منـئ . نـو کـلـه چې تـاسې د چـا خدایـتوب ومنـئ نـو بـیـا د هغه لـه بـنـدګی او اطاعت څخه پـه هیـڅ صورت نـشئ خلاصیدای.[3]

---

[3] (دلـته دا مـناسب معلـومیـږي چې د څو اصـطلاحاتـو پـه هکلـه معلـومات وړانـدې شي : پـه فـارسي ژبـه کـې خدای هغه معنـی ورکـوي لـکه پـه عربـي کې چې الـه او رب معنـی لـري . پـه انـګلیسـي کـې د God کلـمـه هـم همدا معنـی لـري، پـه هندي ژبـه کې دیـوتـا هـم همـدې تـه نـژدي دی .
دا کـلمات د نـړی پـه مختلفـو قـومونـو او ژبـو کې هغو شخصیـتونـو او ذاتـونـو تـه استعمالـیږي چې د چا پـلاس کـې د انـسـان خیـر او شـر وي، د هغـه حکـم پـدې کـائـنـاتـو بـانـدې پـه لـړه زیـاتـه کچه چلـیږي، د چا پـه حکم منـلو کې چې د انـسان بـرې، کـامیـابـي او نـاکـامې وي .
د جاهلـو، نـا پـوهو او ګمراه قـومونـو تـل دا ګمـان او اتـکل وي او نـن هم دی چې داسې هسـتـی، ذاتـونـه او شخصیـتونـه ډیـر او زیـات دي .پـه هغو کـې یـواځې مـافـوق الـبشر ځـواکـونـه لـکه پـرښتې او پـیـریـان داخـل نـدي بـلکې ځیـنې انـسانـان لـکـه پـاچـایـان،پـیغمبـران،

............................................................
اولياء الله اود زيات قوت او ځواك خاوندان هم داخل دي .
په همدې خاطر په ټولو ژبو كې ددې جمع كلمه راځي لكه: په عربي كې اله او ارباب، په فارسي كې خدايان او خداوندان، په انګريزي كې Gods او په هندي ژبه كې ديويوں او د يوتاوں كلمات جمع راځي .
خو پدې ټولو قومونو، خلكو او ژبو كې د يو ستر، لوى او عظيم ذات تصور هم شته چې ددې ټولو كائناتو خالق او تر ټولو نورو ستر،لوړ،پورته اواعلى دى،په عربي كې الله،په فارسي كى خداى خدايان،په انګليسي كې په غټوتورو God او په هندي كې ميشور دهمدې ذات نوم او په هيڅ ژبه كې ددې لوى ذات لپاره جمع نه راځي .
اسلام چې د كوم شي دعوت او بلنه وركوي هغه دا دى چې : چاته چې تاسې ددې اختياراتو واګې وركوئ هغه ذات په اصل كې همدا يواځنې ذات دى، په ټولو كائناتو كې يواځې د همده حكم چليږي، ستاسې ګټه او تاوان يواځې د همده پلاس كې دى، كوم كسان او شخصيتونه چې تاسې ورته واك او ځواك ثابتوئ هغوى ستاسې په شان مخلوق اود هغه بندګان دي . په حقيقي واك او اختيار كې د هغوى د ذرې په اندازه هم څه برخه او حصه نشته .
نو اله، رب، خداوند، ګاډ او ديوتا زيات او ډير ندي بلكې همدا يو ذات دى چې تاسې هغه ته الله او يا نورنومونه،الفاظ او كلمات استعمالوئ .
ددې ښوونې او تعليم په لحاظ چې په اصطلاحاتو كې كوم توپير او فرق منځ ته راځي دكفارولپاره به هماغه كلمات په هماغې معناوو سره پاتې وي او

انسان دومره ناپوهه او احمق نه دی چې د چا حاکمیت، واکمني او ځواک نه منې اوبیا د هغه اطاعت، منه او پیروي وکړي او نه په انسان کې دومره زړورتیا او جرئت شته چې هغه څوک واکدار، ځواکمن، ګټه رسوونکې او ضرر رسوونکي وبولي اوبیا دې د هغه د اطاعت او منې څخه مخ وګرځوي .

په حقیقت کې د بندګی اعتراف او اطاعت سره لازم او ملزوم یا تړلي او نښتې دي، او دا دعقل او منطق غوښتنه

........................................................

هغوی به د لوی او کوچني خدایانو لپاره بیل بیل کلمات استعمالوي، خو د مسلمان لپاره به اله او رب یواځې همدایواوواحد الله پاک وي . God به یواځې د غټ توري سره استعمالیږي، دیو او دیوتا به په میشور کې ورک شي، خدا او خداوند به یواځې د خداوند عالم لپاره پاتې شي او پدې کې به یو هم په جمع سره نه استعمالیږي)) .

ده چې د دواړو په منځ کې دې له هره اړخه یوالې او اتحاد موجود وي .

په خدایتوب او بادارۍ کې توحید او یوالی خامخا په بندګۍ او اطاعت کې هم یوالې اووحدانیت منځ ته راوړي او په خدایتوب او بادارۍ کې شرک خامخا په عبادت او اطاعت کې هم شرک منځ ته راوړي .

کله چې تاسې الله پاک یو بولۍ نو خامخا به د هماغه یو الله عبادت کوۍ، کله چې تاسې لس خدایان منۍ نو بیا به ستاسې عبادت او اطاعت د لسو لپاره وي، داسې هیڅ امکان نلري چې خدایان لس منۍ خو اطاعت او عبادت د یو کوئ .

د الهي ذات ټاکل اوتعینول خامخا د بندګۍ او اطاعت ټاکل منځ ته راوړي،

تاسې چې څوک په خدايتوب منئ خامخا به د هغه اطاعت هم کوئ، داسې هېڅ نشي کېداى چې تاسې يو څوک خداى بولئ او اطاعت بيا د بل چا کوئ، په ژبه او خوله خو دا توپير او فرق کېداى شي، چې اقرار د يو کوئ، عبادت او بندګي د بل. خو د زړه، روح، عمل او غړو کړه وړه داسې هېڅ نشي کولاى، هېڅ عقل دا تصور هم نشي کولاى چې د چا تاسې خپل ځان غلام او بنده بولئ د هغه پر ځاى د داسې چا عبادت او اطاعت وکړئ چې تاسې هغه اله او رب نه بولئ او نه يې منئ . بلکې ددې په خلاف عقل دا وايي چې د چا تاسې بندګي کوئ نو خامخا د هغه د خدايتوب تصور ستاسې په ذهن کې ثبت، نقش او ريکارډ شوى، سره له دې که تاسې په ژبه د بل چا ترانې غږوئ .

د الله پاک د بندګۍ په احساس او اعتراف کې کمی او زیاتی خامخا په اطاعت، عبادت او بندګۍ کې کمې او زیاتې منځ ته راوړي .

د چا د خدایتوب او د خپل ځان د بندګۍ څومره احساس چې ستاسې په زړه کې زیاتیږي په هماغه کچه په عبادت او بندګۍ کې هم زیاتولې راځي، او پدې احساس کې چې څومره نیمګرتیا او کمزوري راځي په هماغه اندازه به ستاسې په اطاعت او عبادت کې هم کمزوري راځي او که دا احساس بالکل ختم شي نو بیا بندګي، اطاعت او عبادت هم ورسره ختمیږي .

له دې لنډ بیان نه وروسته دا خبره بالکل څرګنده او په ډاګه کیږي چې د اسلام غوښتنه پرته لدې بله نده چې الله

پاک خدای منل او د نورو له خدایتوب څخه انکار کول او هم دا چې پرته له الله تعالی د بل هیچا عبادت او بندګي نکول ځکه قرآن مجید فرمایي :

﴿ أَلَا لِلَّهِ الدِّينُ الْخَالِصُ ﴾ الزمر: ٣

( خبردار! یواځې د الله لپاره دی خالص اطاعت) .

( د دین معنی ده اطاعت، د مذهب او ملت لپاره ددې استعمال په مجازي توګه کیږي ځکه چې مذهب او ملت د اطاعتي نظام نوم دی او څوک چې پدې دایره کې داخل شي نو هغه به د یو قانون او اصل منونه او اطاعت کوي) .

په آیت شریف کې همدې ته اشاره شویده چې عبادت او اطاعت به خاص الله پاک ته کیږي، د بل چا مستقل او ازاد

اطاعت لده سره نه شريکيږي څکه نو قرآن مجيد په بل ځای کې فرمايي :
﴿ وَمَآ أُمِرُوٓاْ إِلَّا لِيَعۡبُدُواْ ٱللَّهَ مُخۡلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ حُنَفَآءَ ﴿٥﴾ ﴾ البينة: ٥
( او دوی ته پرته لدې بل حکم ندی ورکړل شوی چې د الله بندګي وکړي پداسې حال کې چې دين ورته خالص کړئ په داسي حال کې چې د حق په لور به مايل وی)

نو ددې اصلي مطلب دا شو چې يواځې د الله پاک په بندګی باندې انسان مامور، مکلف او ملزم دی او د هغه د بندګۍ کولو يو لازمي شرط دا دی چې انسان به د الله پاک د اطاعت او عبادت سره د بل چا عبادت او اطاعت نه ملګري کوي څکه خو فرمايي :
﴿ وَقَٰتِلُوهُمۡ حَتَّىٰ لَا تَكُونَ فِتۡنَةٞ وَيَكُونَ ٱلدِّينُ كُلُّهُۥ لِلَّهِۚ ﴿٣٩﴾ ﴾ الأنفال: ٣٩

( تر هغې لدوې سره وجنګيږئ ترڅو چې فتنه پاتې نشي او پوره پوره دين د الله لپاره شي) .

او ددې ايت شريف څخه بالکل په ډاګه شوه چې د مسلمان ټول، پوره او بشپړ اطاعت به يواځې د الله پاک لپاره وي او د هر هغه څواک او واک سره به د مسلمان جنګ او جګړه وي چې پدې اطاعت کې ځانته برخه او حصه غواړي يا دا غواړي چې مسلمان دې د الله پاک د عبادت سره دده عبادت او اطاعت هم وکړي يا دا چې د الله پاک عبادت دی خوشې کړي او يواځې دده عبادت دې وکړي . بيا فرمايي :

﴿ هُوَ ٱلَّذِيٓ أَرۡسَلَ رَسُولَهُۥ بِٱلۡهُدَىٰ وَدِينِ ٱلۡحَقِّ لِيُظۡهِرَهُۥ عَلَى ٱلدِّينِ كُلِّهِۦۚ ﴿٢٨﴾ ﴾ الفتح: ٢٨

(الله هغه ذات دی چې خپل پیغمبران يې د حق دین سره راولیږل ددې لپاره چې هغه په نورو ټولو دینونو باندې برلاسی او غالب کړي).

ددې ایت شریف مطلب بالکل صاف او څرګند دی چې د الله پاک اطاعت دې په نورو ټولو اطاعتونو غالب او برلاسې وي، د اطاعت او بندګی ټول او بشپړ نظام د ټولو اړخونو او خاشونو سره دې د الله پاک د اطاعت لاندې وي، د هر چا اطاعت او پیروي دې د الله پاک په اذن او اجازه سره وي، او دهر چا د اطاعت حکم او اجازه چې له الهي دربار څخه ونشي د هغه اطاعت دې ختم او خوشې شي.

دا د هغه حق دین غوښتنه او مطالبه ده کوم چې الله پاک جل جلاله د خپل نبي

او پيغمبر محمد مصطفى صلى الله عليه وسلم پوسيله راليږلې دى .

ددې غوښتنې او مطالبې په بنسټ پلار، مور، ورور، کورنى، ټولنه، قوم، حکومت، امير، رهبر، لارښود، استاذ، پير او مرشد، عالم او علامه، سړى، اداره، د انسان خپل نفس، شيطان او نور هيڅوک هم د الله تعالى د اطاعت له بنديز او قيد څخه نشي مستثنى کيداى ځکه چې اصلي او حقيقي مطاع يواځې الله تعالى دى .

چا چې په الله پاک ايمان راوړې او د هغه د اطاعت او بندګۍ اقرار يې کړى او خپل عبادت او بندګۍ يې د هغه لپاره ځانګړى او خالصه کړى نو هغه چې د هرچا اطاعت کوي د الله پاک د اطاعت لاندې او د هغه په اجازه به يې کوي .

د هغه له دربار څخه چې د چا لپاره څومره د اطاعت اجازه وشي بس هماغومره اطاعت به يې کوي، او کله چې د چا د اطاعت اجازه ونشي نو د هغه له اطاعت څخه به باغي او يواځې د الله اطاعت کوونکې به وي .

د روژې مقصد او هدف په همدې اطاعت باندې د انسان تربيه کول او روزل دي، روژه تولـه مياشت د څوڅو ساعتونو لپاره انسان پداسې حالت کې ساتي چې د خپلو اساسي او بنيادي اړتياؤ د پوره کولو لپاره هم د الله پاک اجازې او اذن ته سترګې په لاره وي، د خوراک يو بڅرکی او د اوبو يو څاڅکې له ستوني څخه نشي ښکته کولای ترڅو چې د هغه له دربار څخه ورته اجازه ونشي .

د هر شي په استعمال کې هغه الهي شريعت ته ګوري، څه چې د هغه ځای څخه حلال وي هغه ده ته هم حلال او روا دي که دا ټوله نړۍ د هغه په حراموالي باندې سره هم غبرګ شي، او څه چې له هغه ځای حرام وي هغه دده لپاره هم حرام دي که دا ټوله نړۍ د هغه په حلال والي باندې سره يو او هم غبرګ شي .

پرته له الله پاک څخه دده لپاره هيڅوک هم د اجازې او اذن ورکولو وړتيا نلري، د هيچا حکم او امر دده لپاره حکم ندی، او نه د هيچا منع دده لپاره منع ده . په دنيا او نړۍ کې هيڅ ځواک، هيڅ طاقت، هېڅ اداره ان چې دده نفس، مخلوقات او ټول دا اجازه نلري چې په رمضان کې د مسلمان روژه ماته کړي . پدې هکله پر ځوی د پلار اطاعت

نشته، په ميرمن د خاوند اطاعت نشته، په نوکر د بادار اطاعت نشته، په ولس د حکومت اطاعت نشته، اونه په خلکو د عالم، پير او مرشد اطاعت شته، لنډه دا چې د الله پاک اطاعت دا ټول طاعتونه په ځان کې رانغاړي. د مسلمان په ذهن، دماغ او زړه کې دا خبره، تصور او فکر ثبت، پوخ او ريکارډ کيږي چې زه يواځې او يواځې د الله پاک بنده، غلام او نوکر يم.يواځې د يو قانون تابع او منونکې يم او يواځې د يو اطاعت حلقه ځما په غاړه کې پرته ده .

پدې توګه روژه ټول طاعتونه را ټولوي، يو مرکزي او اصلي طاعت ورڅخه جوړوي چې د لوی او مقتدر ذات طاعت دی . بيا پوره ديرش ورځې څوڅو ساعتونه ددې تکرار او تمرين کيږي ترڅو د

مسلمان په زړه او ذهن کې دا تصور پوخ شي چې د هغه د اطاعت او بندګۍ مرکز کوم دی .کله چې رمضان ختم او خلاص شي نو بايد دده د اطاعت او بندګۍ رخ او لورې بل خواته نه وي روان .

د روژې پدې روزنيز کورس کې د انسان په دوه غوښتنو خوراک او جنسي اړيکو باندې بنديز لګيدلې دی خو په اصل کې د روژې روح دا دی چې پدې پوره مياشت کې بايد په مسلمان باندې د الله پاک د ربوبيت او د ځان د بندګۍ احساس غالب او برلاسې وي او هغه بايد داسې مطيع، منونکې او سر ښکته کوونکې وي چې د ټولو هغو شيانو څخه منع شي کوم چې الله پاک منع کړي او هر هغه کار سرته ورسوي کوم چې الله پاک د هغې حکم او امر ورکړيدی .

د روژې اصلي هدف، مقصد او موخه همدا ده چې په انسان کې همداسې کيفيت، حالت او تصور رامنځ ته کړي،يواځې د خوراک او څښاک څخه منع کيدل مطلب ندی

دا حالت او کيفيت چې څومره قوي او زيات وي په هماغه کچه روژه مکمله او بشپړه وي، او څومره چې دا کيفيت نيمګړې او کمزورې وي په هماغه کچه به روژه نيمګړې او کمزورې وي .

که کوم بې عقل، احمق او جاهل انسان داسې روژه ونيوله چې يواځې د خوراک او څښاک څخه يې پرهيز وکړ او نور هرڅه چې مخې ته ورتلل هغه يې کول نو د داسې احمق مثال د هغه مړي پشان دی چې ټول غړېي او اعضاء يې پوره وي خو روح پکې نه وي په کوم چې انسان ژوندې

وي . لکه څرنګه چې مړي ته خلک انسان نه وايې په همدې توګه بې روحه روژه څوک روژه نه بولي . همدې خبرې ته نبي عليه السلام دا ډول اشاره کړېده: (من لم يدع قو... (بخارى کتاب الصوم) ( چا چې دروغ ويل او په دروغو عمل کول پرېنښودل نو الله پاک ته ددې اړتيا نشته چې هغه دې خوراک او څښاک خوشې کړي ).

د دروغ ويلو سره چې په دروغو باندې د عمل کولو کومه جمله راغلې دا ډېره مهمه ده، په اصل کې دا د ټولو ګناهونو او سرغړونو مرکز او اصل دى .

څوک چې الله پاک خپل خالق، رب او اله ګڼي او بيا هم د هغه حکم نه مني نو دا د خپلې خبرې او اقرار څخه انکار کوي او خپله خبره دروغجنه ګرځوي .

د روژې اصلي مقصد او هدف دا دی چې د خپل اقرار او تصديق عملي نمونه او مثال وړاندې کړي . خو کله چې هغه هره ورځ د روژې په حالت کې خپله خبره دروغ ګرځوي نو بيا د روژې څخه پرته له لوږې او تندې بل څه ترلاسه کيدای شي؟ پداسې حال کې چې الله پاک ته دده لوږه او تنده څه اهميت نلري . دا خبره نبي عليه السلام په يوبل شکل او صورت کې وړاندې کړيده (کم من صائم...) (سنن دارمي) ( ډير داسې روژه نيونکي شته چې د روژې څخه ورته پرته له لوږې او تندې بل څه پلاس نه ورځي، او ډير قيام کوونکي داسې دي چې هغوی ته پرته له بې خوبۍ بل څه پلاس نه ورځي) .

همدا خبري اومطلب قرآن مجيد په بل ډول وړاندې کړيدی :

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ كُتِبَ عَلَيۡكُمُ ٱلصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تَتَّقُونَ ﴿١٨٣﴾ ﴾ البقرة: ١٨٣

( پر تاسې روژې فرض شويدي لکه څرنګه چې ستاسې څخه په مخکنيو امتونو فرض شوی وی ددی لپاره چې په تاسی کې تقوی پيدا شي ) .

يعنې د روژې د فرض کيدو اصلي هدف او مقصد په انسان کې تقوی پيداکول دي، د تقوی اصلي معنی ويره او ډار دی،او په اسلامي اصطلاح کې د تقوی څخه مراد د الله پاک له سرغړونې څخه ويريدل او ډاريدل دي . ددې غوره او ښه تفسير چې څما له نظره تير شويدی هغه حضرت ابی بن کعب رضی الله عنه بيان کړی :

حضرت عمر رضی الله عنه له هغه څخه وپوښتل تقوی څه ته وايي؟

هغه ځواب ورکړ: اميرالمؤمنين! ايا تاسې پداسې لاره کله تير شوي ياستئ چې د هغې دواړو لورو ته اغزي لرونکي بوټي وي او لاره تنګه وي؟ حضرت عمر(رض) ځواب ورکړ : ډير ځلې داسې شوی دي! هغه ورڅخه وپوښتل : پداسې لاره بيا تاسې څه کوئ؟ حضرت عمر وفرمايل: زه خپله لمن را ټولوم، ځان خوندي ساتم چې لمن مې په اغزيو کې ونه نښلي . حضرت ابی بن کعب ورته وفرمايل : بس د همدې کار او عمل نوم تقوی ده!.

د ژوند هغه لاره چې انسان پرې سفر کوي له دواړو لورو څخه د افراط او تفريط، د نفس غوښتنې او خواهشات،

وسوسې او ترغيبونه، بې لارئ او سرغړونې لکه د اغزيو پشان هرې خواته خپاره وي .

پداسې اغزنه لاره تلل او خپل ځان د بې لاريو، گمراهيو، نفسي خواهشاتو او غوښتنو څخه ساتل تقوی ده، او د همدې تقوی د پيداکولو لپاره الله پاک روژه فرض کړی ده . دا داسې درمل او دوا ده چې په هغې کې الهي ويره او په نيغه او سمه لاره تلل دواړه داخل دي خو ددې څخه په حقيقت کې فايده او گټه اخستل په انسان پورې تړاو لري .

که څوک د روژې په مقصد او هدف پوه شي او روژه چې کوم توان او ځواک ورکوي د هغې لپاره چمتو شي، او بيا ددې په مرسته د الهي ويرې او اطاعت پيداکولو لپاره هلې ځلې وکړي نو بيا

روژه پدې کې دومره تقوی خامخا پیدا کوي چې نه یوائې د روژې په میاشت کې بلکې په پاتې یولسو میاشتو کې هم په اغزنه لاره د تللو په وخت کې خپله لمن له ناپاکیو او ګناهونو څخه خوندي ساتلې شي، د داسې روژه نیونکي لپاره بیا د ثوابونو او اجرونو حساب معلوم نه وي بلکې بې حسابه او بې شمیره وي .

خو هغه څوک چې د روژې مقصد او هدف ونه پیژني او یوائې خوراک او څښاک نه خوړل روژه وګڼي او تقوی پیداکولو ته هیڅ پام او توجه ونکړي نو څرګنده خبره ده چې په خپله عمل نامه کې به پرته له لوږې، تندې اوکړاؤ څخه بل څه ونه مومي . له همدې امله نبي علیه السلام فرمایلي دي : (کل عمل ابن آدم

يضاعفُ...) (بخارى او مسلم) (د انسان هر عمل د الله په وړاندې څه نا څه نمو او وده كوي، يوه نيكي د لسو څخه تر اووه سوه چنده پورې زياتيږي، خو الله پاك فرمايي چې روژه ددې څخه جلا ده، هغه ځما په خوښې پورې اړه لري ځومره چې زه وغواړم هغومره بدله وركوم).

يعنې د روژې په معامله كې نمو، وده او زياتولې ډير زيات او بې حسابه وي، انسان چې د هغې پوسيله د څومره تقوى او پرهيزگارۍ كوښښ وكړي هغومره زياتيدلاى شي . د صفر څخه تر زرگونو، لكونو، ميليونونو او ميلياردونو پورې پورته كيږي بلكې تر لايتناهي پورې هم تللې شي يعنې دا خپله د انسان په استعداد پورې اړه لري چې هغه د څومره تقوى ترلاسه كولو هلې ځلې او كوښښ كوي

. لـه همدې املـه پـه پـورتـنـي ايـت شريـف کې داسې نـدي ويـل شوي چې تـاسې بـه خامخا متقيان شئ بلکې لـعلکم استعمال شوی چې د هغې سمه او صحيح معنى دا ده چې اميد کيدای شي يـا داسې امکان لـري چې د هغې پـوسيلـه تـقـوی تـرلاسه شي . (پـه عام ډول ددې معنى (تـرڅو) بـانـدې کيـږي حال دا چې د لغت پـه اعتبار سره دا معنى سمه نده، پـه عربي ژبه کې لـعلکم د اميد، هيلې، تـوقـع، انـديـښنې او امکان لـپاره استعماليږي، او پـه (تـرڅو) کې د فـرض کولو يـا تـعلل مفهوم وي . کـه چيرې د لـعلکم څخه د روژې فـرضيت بـيانـول مطلب وای نـو بـيا بـه داسې راغلې وای : لـتکونـوا مـن الـمتقـين. ځينې خلک پـدې بـانـدې د شک کولـو پـه بـنسټ غلطي کوي نـو ځکه هغوی

بيا د لعلكم ژباړه په (ترڅو پورې سره كوي،ددې لپاره كوم كار چې د سمې او صحيح ژباړې څخه نه پوره كيده له غلطې ژباړې څخه پوره شي ).

## د سيرت او كړنو جوړول

همدا تقوى د اسلامي سيرت او كردار روح او زړه دى، اسلام چې كوم ډول سيرت او كردار غواړي هغه اسلامي تصور د تقوى په كلمه كې پروت او پټ دى، افسوس چې نن سبا ددې كلمې مفهوم ډير تنګ او محدودكړاى شوې دى .

عام خلک دا فكر كوي چې يو ځانګړى ډول،شكل او صورت جوړول، د څو څرګندو ګناهونو څخه ځان ساتل، د ځينو هغو مكروهو شيانو څخه ځان بچول چې په عامو خلكو كې يې زيات اهميت ترلاسه

کېږی، بس ددې کارونو کول تقوی او پرهيزګاري ده .

په داسې حال کې چې دا يوه پراخه اصطلاح ده چې د انساني ژوند ټول اړخونه په خپله لمن کې رانغاړي .

قرآن مجيد د انساني تصور، فکر، سوچ، خيال او عمل اصولي حيثيت په دوه غټو ډولونو ويشي .

## لومړی ډول

لومړی ډول هغه دی چې په هغه کې انسان :

۱- د دنيوي څواکونو څخه پرته نور نالېدونکي ځواکونه او قوتونه خپل څارونکي نه بولي او د هغوی د څارنې څخه پرته خپل ژوند کوي او ځواب ورکوونکې هم ځان نه بولي .

٢- يواځې دنيوي ژوند د ځان لپاره ژوند گڼي، يواځې دنيوي گټه او فايده د ځان لپاره گټه بولي، يواځې دنيوي زيان او تاوان د ځان لپاره زيان او تاوان بولي، له همدې امله هر كار او هره معامله پدې بنسټ خپلوي يا رد وي چې دنيوي گټه يا زيان پكې گوري .

٣- د مادي او دنيوي گټو او فايدو په مقابل كې اخلاقي او روحاني فضايل بې اهميته، بې ارزښته او بې فايدې بولي، د مادي زيان او تاوان په مقابل كې اخلاقي او روحاني زيان او تاوان كم او بې ارزښته بولي .

٤- د كوم اخلاقي قانون پابندي نكوي بلكې د حالاتو او شرايطو سره سم ځانته اخلاقي اصول جوړوي او ځينې وخت بيا هماغه پخپله بدلوي .

## دويم ډول

دويم ډول هغه دی چې په هغه کې انسان :

١- خپل ځان د داسې واکمن او واکدار ذات تابع، بنده، غلام او ځواب ورکوونکې بولي چې په پټو او ښکاره دواړو پوهيږي او عالم الغيب والشهاده دی، او پدې فکر، تصور او خيال ژوند تيروي چې خامخا به يوه ورځ د خپل ټول ژوند او ټولو کړو وړو ځواب ورکوي .

٢- دنيوي ژوند د اصل انساني ژوند لومړې گام او پل بولي، کوم زيان، تاوان او نقصان چې پدې لومړني گام کې ورته رسيږي هغه وختي او دوکه ورکوونکي گڼي، د خپل تصور، فکر او کړنلارې پريکړه او فيصله په هغو گټو،

فايدو، زيانونو او تاوانونو باندې کوي چې د آخرت په ژوند کې څرګندېږي .

۳- د داسې يو اخلاقي قانون متابعت او پابندي کوي چې د خپلو هدفونو او موخو په لحاظ د بيا رغونې او بدلولو صلاحيت دده سره نه وي .

قرآن مجيد د لومړنۍ ډول کړنلارې نوم فجور ښودلې دی، او د دويمې کړنلارې نوم يې تقوی ښودلې دی .

په اصل کې دا د ژوند دوه مختلفې او بېلې لارې دي چې ديوبل ضد او د يوبل په مقابل کې واقع دي . د پيل څخه تر پاي پورې يو د بل سره نه يو ځای کيږي .

د فجور په لاره تلل او هغه غوره کول ټول ژوند سره د ټولو څانګو او خاښونو پداسې طريقه او لاره برابروي چې ښکاره

او ظاهري تقوی هم پکې نه ښکاري، د اصلي او حقيقي تقوی خو هيڅ څرک هم پکې نه څرکنديږي دا ځکه چې د فجور ټول فکري ځانګې، خاښونه او اجزاء يو د بل سره نښتې او تړلې دي او د تقوی هيڅ برخه، ځانګه او جزء هغې ته لاره نشي پيداکولای.

ددې په خلاف کله چې د تقوی لاره غوره او اختيار شي نو ژوند بل ډول او شکل نيسي، هغه بل ډول فکر کوي، د دنيا هره معامله له بل پلوه ګوري، په هر ځای اوهره پيښه کې ځانته طريقه لري.

ددې دواړو طريقو او ډولو تړاو يواځې د انفرادي ژوند سره ندی بلکې د ټولنيز او اجتماعي ژوند سره هم همدومره کلک تړاو لري.

کومه ډله چې د فاجرو غړو او افرادو څخه جوړه شوې وي يا په هغې کې زيات فاجران وي يا د فاجرو خلکو په لاس کې د هغې واګې او قيادت وي نود دوی ټول تمدن به فاجر وي .

د هغوی په ټولنيزو چاروکې، د هغوی په سياست او اقتصاد کې، د هغوې په اخلاقو او عاداتو کې، د هغوی په تعليم او ښوونه کې او د هغوی په نړيوالو اړيکو کې لنډه دا چې د هغوی په هرکار او هره معامله کې به فجور وي، دا هم امکان لري چې ځينې خلک پکې په انفرادي لحاظ د ښو اخلاقو او نيک سيرت خاوندان هم وي خو دوی به همدومره وکولای شي چې خپل ښه والی او نيکوالې به د قوم په بدوالي او خرابوالي کې ورک، غايب او ختم کړي، د چا پورې چې

د دوى پورته والې او ښکته والې تړاو لري . نو د چا په سيرت کې چې فجور کم هم وي نو په هغه باندې څه ګټه او فايده نه ترلاسه کيږي ځکه چې قومي کړنلاره په ماده پرستۍ، فايده پرستۍ، ابن الوقتۍ او مصلحت پرستۍ باندې روانه ده .

په همدې توګه تقوى هم انفرادي نده، کله چې کومه ډله د متقيانو څخه جوړه شوى وي يا په هغې کې متقيان زيات وي او متقيان د هغې لارښوونکي او قيادت کوونکي وي نو ددې ډلې په ټولنيزه او او اجتماعي رويه کې به خامخا د تقوى او پرهيزګارۍ رنګ غالب او برلاسى وي . هغوى خپله کړنلاره د مصلحتونو په اساس نه جوړوي بلکې د دايمي او تل پاتې اصولو پيروي کوي، د کلک او قوي هدف

لپاره خپل ټول ځواکونه او استعدادونه استعمالوي، که د دنيا په لحاظ ګټه ولري او که زيان.

(۱) په نننۍ اصطلاح کې مونږ فجور په ماده پرستۍ، فايده پرستۍ، مصلحت پرستۍ او ابن الوقتۍ باندې نومولی او يادولې شو.

(۲) څرنګه چې لويديځوال ذهن او زړه ددې فکر او تصور څخه بالکل خالي او تش دی نو ځکه ددې سمه او صحيح معنی په نننۍ اصطلاح کې پيدا کول ګران دي چې په هغې کې د تقوی اصلي مفهوم څرګند او واضح شي.

په انګليسي ژبه کې د (Piety) کلمه پاپانو او پادريانو ددې وړ نده پريښې چې هغه د تقوی لپاره استعمال شي،

همدارنګه پدې کې هغه پراخوالې او وسعت هم نشته چې کوم په تقوی کې دی.
هغه د مادي ګټو اوفایدو پسې نه ځغلي بلکې تل پاتې اخلاقي او روحاني ګټې او فایدې په نظر کې ساتي، هغه د پیښو او وختونو په لحاظ خپل اخلاقي او روحاني اصول نه ماتوي او نه یې بدلوي بلکې په هر حال کې د حق او عدالت پیروي او پابندي کوي. هغه ددې پروا نلري چې خپله کمزورې او مقابل لورې ځواکمن دی بلکې دې ته ګوري چې ددې ټولو له پاسه لوی، ستر اوعظیم ذات دی، د هغه څخه ویره او ډار ساتي او د هغه په وړاندې د ځواب ورکولو څخه ویریږي او هر وخت همدې غم خوړلې وي. د اسلام په آند په دنیا کې د فساد، خرابۍ او بربادۍ اصلي لامل فجور دی،

اسلام غواړي چې د فجور شمار مړ او ختم کړي يا دا چې د هغه زهرجن غاشونه وباسي ترڅو د خلکو د چيچلو توان پکې پاتې نشي .

اسلام ددې کار او فعاليت لپاره د انساني ټولنې څخه ټول هغه افراد يو يو را باسي چې د تقوی څه اثر او ځرک پکې وي، د فجور خوې لرونکي انسانان د هغه په درد او غم نه خوري، سره لدې که هغه هر څه وايي .

اسلام هغو انسانانو ته ضرورت او اړتيا لري چې په هغوی کې د مسؤليت احساس وي او خپل حساب پخپله کوي، کوم چې د خپل زړه په ارادو باندې څارونکې او ناظر وي، په قانون باندې د پابندی لپاره کوم بهرني فشار ته اړتيا ونلري بلکې د هغه په نفس کې خپله يو محاسبه

کوونکې ناست وي چې هغه د قانون تابع او پابند ساتي او پداسې قانون ماتولو باندې يې هم خبردار وي کوم چې پوليس، عدالت او پټو ادارو ته هم معلوم نه وي .

هغه داسې افراد غواړي چې د هغوی په زړونو کې دا يقين او باور وي چې په هر حال او هر وخت کې مونږ يو څوک ګوري، هغه دا ويره او ډار ولري چې يو ځلې به خامخا په محکمه او قضاء کې د خپلو کارونو حساب ورکوي، د دنيوي ګټو، فايدو، مصالحو، قومي فايدو او نور دنيوي شيانو پروا کوونکي نه وي، د چاچې د آخرت په اصلي او حقيقي پايلو باندې يقين او باور وي .

د دنيا تر ټولو لويه ګټه او تر ټولو لوی زيان او تاوان هغه دې ته

اړ، مجبور او قانع نکړي چې د الله پاک د ورکړل شوی اخلاقي او روحاني قانون څخه سر غړونه وکړي، د هغه ټوله خواري، کوښښ، هلې ځلې او منډې تړړې يواځې د الله پاک د رضا لپاره وي، هغه پدې يقين او باور ولري چې د حق تعالی بندګي غوره او ښه پايله لري او باطله بندګي بده او خرابه نتيجه لري . که پدې نړۍ او دنيا کې د هغه معامله برعکس او برخلاف هم وي .

اسلام ددې څخه برسيره داسې انسانان غواړي چې په هغوی کې دومره صبر، حوصله، حلم او زغم وي چې پرله پسې او په کلنو کلنو کار او کوښښ وکړای شي او د عُمر تر اخره پورې خپل کار ته دوام ورکړي سره لدې که ظاهري پايله يې هر ډول وي . په هغه کې دومره ثبات

او کلکوالې وي چې د غلطو او کږوالرو ګټې، فايدې، خوندونه او مزې هغه ځان ته جذب او کش نکړي، په هغه کې دومره زغم وي چې د کړاونو، تکليفونو، سختيو، لوړو او تندو په مقابل کې يې قدمونه ونه ښويږي.

په هغه کې دومره اخلاص او صداقت وي چې د وختي او موقتو ګټو، فايدو، مصلحتونو څخه تير شي او يواځې په خپل تل پاتې مقصد او هدف باندې کلک ولاړ وي.

په هغه کې دومره توکل، اعتماد او بروسه وي چې د خپلو کارونو، فعاليتونو او کوښښونو پايلې او نتيجې الله پاک ته وسپاري او ددې تمه ونلري چې په دنيا کې به دده کارونه ميوه ورکوي.

د داسې صفاتو او سيرت لرونکو خلکو باندې اعتماد، باور او بروسه کيداى شي او اسلام چې کوم کار د خپل حزب، پارټۍ او ګروپ څخه غواړي د هغه لپاره د همدې پورته صفاتو لرونکي خلک پکاريږي.

د تقوى لپاره شانته څرک چې په چا کې موجود وي اسلام هغې ته د ودى، نمو او زياتوالي لپاره روژه فرض کړى چې لدې څخه بله غوره طريقه نشته. تاسې د روژې په قانون او اصولو باندې غور وکړئ نو دا به درته څرګنده شي چې په څه ډول پورتني صفاتو ته وده، نمو او زياتوالې بښي.

که يو سړي ته وويل شي چې په تاسې الله پاک روژه فرض کړى ده، د سهار څخه تر ماښام پورې به هيڅ خوراک، هيڅ

څښاک او هیڅ جنسي اړیکې نه نیسی، که د خوراک یا څښاک کوم ذره مو د حلق او ستوني څخه تیره شي نو ستاسې روژه ماتیږي . که د خلکو په وړاندې د خوراک او څښاک څخه پرهیز وکړئ خو په پټه خوراک او څښاک کوئ نو د خلکو په وړاندې خو تاسې روژه دار حسابیږئ خو د الله پاک په وړاندې ستاسې روژه نه قبلیږي .ستاسې روژه هغه وخت منل کیږي چې کله تاسې د الله پاک لپاره هغه وساتئ، د بل هدف او مقصد لپاره روژه نیول د الله پاک په وړاندې هیڅ قیمت، قدر او ارزښت نلري . که تاسې د الله پاک لپاره خپله روژه ساتئ نو په دنیا کې هیڅ نه درکول کیږي او که ماته یې کړئ نو سزا هم نه درکوي . خو کله چې له مرګ څخه وروسته د الله پاک په دربار کې

وړاندې شئ نو هلته به اجر او ثواب او هلته به سزا او عذاب هم درکول کيږي .

الله جل جلاله يواځې څو لارښوونې وركوي او بيا انسان همداسې خوشې كوي . هيڅ عسكر، پوځې، پوليس، خاد او جاسوس ورپسې نه وي چې هغه وڅاري . يواځې عام خلك تردې پورې هغه مجبور ولای شي چې د خلكو په وړاندې څه ونه خوري خو په پټه باندې د خوراك او څښاك څخه منع كوونكې څوك نشته .

حساب اخستل او پټه معامله نه د حكومت په واك كې ده او نه د خلكو او ولس وسه او توان پرې رسيږي چې ايا هغه روژه نيولی ده او كنه او د چا لپاره يې نيولی؟

هغه څوك چې ددې شرايطو سره خپله روژه ساتي نو تاسې فكر او غور وكړئ

چې دده په نفس او روح کې به څه ډول کيفيت، حالت، احساس او تصور منځ ته راځي . مونږ دې کيفيت ،حالت او احساس ته په څو لنډو ټکو کې اشاره کوو:

١- د هغه سره دا احساس وي چې الله پاک د کائناتو خالق او رب دی، عالم الغيب دی، قادر مطلق دی او د هغه په دربار کې به ځواب ورکول حتمي وي، او تر هغې چې دې روژه وي نو دده سره دا پوخ يقين او باور وي او هيڅ تزلزل او کواکي په کې نه راځې .

٢- هغه په آخرت، حساب کتاب، جزاوسزا باندې پوره باور او يقين لري، باور او يقين يې تر دولس، ديارلسو ساعتونو پورې نه کواکه کيږي ترڅو چې د روژې په شرايطو باندې ولاړ وي .

۳- په هغه کې خپله د مسؤليت پوره کولو احساس شته، هغه خپل مسؤليت، دنده او وظيفه پيژني، هغه د خپل نيت خپله څارونکې، ناظر او محتسب دی، د خپل زړه په حالت او کيفيت باندې خپله څارنه کوي، په بهر کې د قانون د ماتولو څخه مخکې مخکې کله چې د هغه په زړه کې د بدی اراده را پيداشي دې يې په خپل ارادي قوت او ځواک باندې ختم او لرې کوي . ددې معنی داده چې دده د څارنې لپاره بهرني ځواک ته هيڅ اړتيا نشته .

٤- کله چې هغه ته د ماديت او روحانيت ترمنځ د غوره والي او انتخاب چانس پلاس ورشي نو هغه اخلاق او روحانيت غوره کوي، که د دنيا او آخرت ترمنځ د غوروالي چانس ورکړل شي نو

هغه آخرت ته په دنيا باندې غوروالی ورکوي، په هغه کې دا توان، ځواک او طاقت وي چې د اخلاقي او روحاني فايدې لپاره د دنيا تاوان او زيان ، او د آخرت د فايدې او ګټې لپاره د دنيا زيان او تاوان قبلوي .

٥- په هغه کې صبر، ثبات، استقامت، تحمل، اخلاص او توکل دومره قوي او ځواکمن وي چې د دنيا د ترغيب او تشويق په مقابل کې هغه د الهي رضا او خوښی په خاطر پخپله کړنلاره باندې تل او پرله پسې روان وي او هر څه آخرت او بل ژوند ته پريږدي، پدې دوران کې هغه خپل ټول نفسي خواهشات پخپله خوښه او خوښې سره منع او بندوي.

په سخته او زياته ګرمی کې چې حلق او ستونې له تندې څخه وچ کلک وي، سږې

او يخې اوبه موجودې وي او هغه په اسانۍ سره څښلی شي خو نه يې څښي، د لوږې څخه يې نفس وځي، خوراک هم ورته تيار پروت وي خوړلی يې هم شي خو نه يې خوري . ځوان خاوند او ځوانه ميرمن وي، جنسي خواهش هم لري، نفس زور کوي، هغه خپل خواهش پوره کولای شي چې هيچا ته هم معلومات ونشي خو نه يې پوره کوي .

دا ټول کارونه او چارې ددې اميد او هيلې لپاره نکوي چې ګوندې دنيا کې به زيان ورته ورسيږي بلکې ددې لپاره يې سرته نه رسوي چې ده ته مخکې ويل شوي چې د قيامت څخه مخکې به ددې ثواب او اجر نه غواړئ.

په همدې کيفياتو او حالاتو چې کله لومړی روژه پيل شي د انسان په نفس کې

پرمختګ او ترقي کوي، کله چې هغه روژه ونسي نو هغه بيا يو ځواک جوړ شي، او هغه وخت چې ديرش روژې وربانديې تکراريږي نو په ټول ژوند او ټول عُمرکې دا کيفيت او حالت دده د فطرت برخه او جزء ګرځي .

دا ټول کار ددې لپاره ندی چې يواځې په روژه کې داسې کيفيت او حالت موجود شي بلکې ددې لپاره دی چې ددې څخه د انسان د سيرت او کردار خميره جوړه شي، ترڅو هغه د فجور څخه بالکل خالي شي او ټول ژوند يې د تقوی په لاره برابر شي .

ايا څوک ويلای شي چې له روژې څخه پرته بل کوم عمل دا کار غوره او ښه کولای شي؟ ايا څوک ددې څخه غوره او سم روزنيز او تربيتي کورس ښودلای شي؟

## د نفس کنترول

د تربیت او روزنې پدې چوکاټ کې د داخلیدو لپاره د انسان دوه غوښتنې او دوه خواهشات د ګیډې او فرج غوره اوانتخاب شول، چې ددې سره د انسان یوبل خواهش او غریزه هم په منځ کې خپله راغله هغه د آرام او راحت غوښتلو غریزه وه، ځکه د تراویح لمونځ او د سحري لپاره را پورته کیدل پدې نفسي خواهش او غوښتنه باندې کلک ګذار کوي .

په حیواني ژوند کې د نفس دا درې خواهشات او غوښتنې بنسټیز او اساسي اهمیت لري .

١- د نفس د بقا او پایښت لپاره د خوراک غوښتنه او خواهش .

٢- د نسل او نوع د بقا او پايښت لپاره د جنسي اړيکو ساتل .

٣- د خپل بدن د نيمګړې شوي او په مصرف رسيدلي توان لپاره د آرام او راحت خواهش.

ددې درې اړتياؤ او ضرورتونو غوښتنه او مطالبه د حيواني خواهشاتو او غوښتنو پيل او شروع ده او د ټولو حيواني عملونو هڅوونکې او محرک دی، او دادرې غوښتنې دومره قوي او ځواکمنې دي چې حيوان هر څه کوي هغه د همدې غوښتنو په بنسټ او اساس کوي .

انسان ته چې د خدمت او کار لپاره کوم غوره اوښه بدن ورکړل شوی هغه هم همدا درې حيواني غوښتنې لري، څرنګه چې په بدني لحاظ انسان تر ټولو لوړ، پورته او غوره حيوان دی نو د هغه

خواهشات او غوښتنې هم لوړې، پورته او زياتې دي . هغه د ژوندي پاتې کيدو لپاره خوراک غواړي، خوښه، غوره، خوندور او اشتها زياتوونکى . ډول ډول خوندور خوراکونه غواړي، خوراکي مواد سره ګډوي او د هغو ترکيب غواړي، ددې خوراکي غوښتنې څخه چې دومره خاښونه، ځانګې او برخې وځي  د هغو د پوره کولو لپاره پريمانه دنيا، مال او دولت پکاريږي .

هغه يواځې د نسل د بقا او پايښت لپاره جنسي اړيکې نه غواړي بلکې په هغو کې په زړګونو نزاکتونه، اداګانې او باريکانې لټوي، حسن او ښکلا غواړي، زياتې غواړي، سينګار او ميک آپ غواړي. غوره، نشه کوونکې او خمارونکې چاپيريال او محيط غواړي . لنډه دا چې

د همدې يوې غوښتنې او خواهش څخه دومره خاښونه، ځانګې او برخې پيداکيږي چې تم کيدل او دريدل نه منې.

په همدې ډول د لاسه ورکړي توان، طاقت او ځواک د بيالاسته راوړلو لپاره نه يوازې دا چې آرام او راحت غواړي بلکې د هغو څخه داسې ځانګې او خاښونه وځي چې د هغو لړۍ او سلسله نه ختميږي. هغه يوازې د خپل له لاسه ورکړي توان او طاقت بيا لاس ته راتلل نه غواړي بلکې هغه د طاقت او توان له منځ وړل بالکل نه منې، هغه د خوارۍ او زحمت څخه ځان خلاصوي، د کړاؤ، تکليف او هلوځلو څخه پرته کار تمامول او پوره کول غواړي، ددې لپاره ډول ډول چلونه او پلمې لټوي چې پرته

له هلوځلو يې كار وشي يا دا چې په كم زحمت سره يې كاربشپړ شي . او په هغه كارونو كې چې دده د حيواني خواهشاتو څخه پورته وي هغه ورته مرګ او تباهي ښكاريږي .

پدې توګه ددې درې لومړنيو غوښتنو او خواهشاتو څخه يو نه ختميدونكې جال او شبكه جوړيږي چې د انسان ټول ژوند په خپله لمن كې رانغاړي .

د انسان ددې نوكر، خادم او سركښه حيوان سره دا درې وسلې او ترټو لوى او قوي وسلې دي چې د انسان د نوكر او خادم ګرځيدو پرځاى هغه غواړي انسان ددې په زور سره د ځان غلام، نوكر او خادم وګرځوي، ټل زور او كش كوي چې د انسان سره خپل اړيكې د فطري لاري څخه غير فطري لارې ته واړوي يعنې ددې

پرځای چې انسان په هغه سپور شي هغه خپله په انسان سپرېږي او د خپل خواهش او غوښتنې سره سم يې يوې او بلې خواته لوغړن او سرګردانه ګرځوي .

که انسان په پوره ځواک او قوت سره په هغه باندې واک او نيواک ونلري او د خپلې ارادې، عقل، شعور او تميز واګې سست پرېږدي نو بلاخره په انسان باندې برلاسي او غالبيږي او ددې څخه وروسته انسان غلام او نوکر ګرځي، بدن او نفس په هغه باندې بادار او سردار جوړيږي .

الله پاک چې انسان ته د ټولو شيانو علم ورکړی وو، د فکر، عقل، کشف او جوړولو کوم استعداد چې ورته بښل شوی وو، هغه ټول امتيازات ددې بې عقل،

جاهل، ناپوهه، ړوند او کوڼ حيوان په خدمت، نوکرۍ او چوپړ کې پريوزي .

د پورته او لوړ پرواز پرځای شکته او لاندې غورځيږي، د لوړو انساني هدفونو د پوره کولو پرځای ذليل او سپک حيواني هدفونه پوره کوي .

بلاخره هغه پرته لدې څخه بل هدف او مقصد نلري چې ددې حيوان د خواهشاتو او غوښتنو د پوره کولو لپاره د نوي نوي لارو او طريقو لټون پيل کړي، ددې پايله او نتيجه دا راوځي چې همدا د کرامت خاوند انسان شرالدواب يعنې بدترين د حيواناتو او ځارويو ګرځي .

کله چې حيوان، ځاروي او ځناور ته د انسان پشان نوکر، چاکر او غلام پلاس ورشي نو آيا بيا به ددې حيوان او

ځناور د شر او فساد څه حد او پوله هم وي؟

کوم ځناور ته چې د بحري او سمندري کشتيو او جنګي بېړيو وړتيا، قابليت او وسايل پلاس ورشي نو ايا هغه به د ځمکې کوم ځای اوبرخه داسې پرېږدي چې د هغه په واک کې رانشي؟

کوم حريص سپي ته چې د ټانک، توپ او جنګي الوتکو ځواک او قوت پلاس ورشي ايا بيا به په کوم هډوکي او غوښه کې دا زړه او جراءت وي چې ددې حريص سپي د پنجو او غاښونو څخه ځان خلاص کړي ؟

کوم ليوه ته چې د ځنګل د ليوانو د قوميت جوړولو چل ورځي اوهغه د خبري رسنيو څخه نيولې د اتومي ميزايلو او بمونو څخه کار اخستلای شي، نو په ځمکه

کې به کله دومره ګنجايش وي چې دده لپاره پوره او بشپړ شکار برابر کړي؟

د کوم سيرلي خواهش او شهوت چې ناول، داستانونه، ډرامې، تصويرونه، موسيقي، نڅا او حسن پيداکولای او برابرولای شي، په کوم سيرلي کې چې د وزو د روزنې او تربيت لپاره ښوونځي، پوهنتونونه، کلبونه او سينماګانو جوړولو او برابرولو لياقت او قوت وي نو دده د عيش اوعشرت د پوره کولو مسؤليت به څوک په غاړه واخلي؟

پدې کندو، کړنګونو او څاګانو کې د غورځيدلو څخه د ساتنې په خاطر يواځې دا کافي او بس نده چې هغه ته د انساني ژوند پلان په مخ کې کيښودل شي او هغه ته د انساني ځواکونو د سم او صحيح استعمال طريقي او لارې چارې

وښودل شي، بلکې ددې په خوا کې دا اړين او ضروري دی چې د انسان او د بدني حيوان ترمنځ چې کوم فطري اړيکې دي هغه ورته په عملي ډول وښودل شي، د تمرين، تکرار او روزنې پوسيله سپور پدې قادر کړي چې په خپله سپرلۍ باندې کلک او مضبوط کينني، د ارادې واګي پخپل لاس کې کلک ونيسي، هغه دومره روزل شوي او تربيه شوی وي چې د سپرلۍ په خواهش او هيلې پسې روان نشي بلکې پخپله اراده هغه په نيغه لاره برابر روان کړي .

دا حيوان ددې لپاره الله پاک مونږ ته سپارلې دی چې مونږ د هغه څخه کار واخلو او خپل مقصد او هدف ته درسيدو لپاره يې وکاروو، د هغه د ماغ څمونږ لپاره د فکر، غور او سوچ وسيله

وګرځي، د هغه حسي الات مونږ ته د معلوماتو د راټولولو لپاره کار وکړي، د هغه لاسونه او پښې ځمونږ لپاره د فعاليت او عمل اله وګرځي .

څومره شيان چې الله پاک په دنيا کې مونږ ته تابع او مسخر کړي په هغو ټولو کې د کار شی همدا حيوان يعنې بدن او جسم دی .

پدې حيوان کې چې څومره خواهشات او غوښتنې دي هغه ټولې دده د اړتيا او ضرورت سره برابرې او مطابقې دي چې د هغې پوره کول ځمونږ وظيفه او دنده ده، په مونږ هغه حق لري چې آرام ورکړو، هغه ته توان او انرژي پيداکوونکې خوراک پيدا کړو، د نسل د پايښت لپاره ورته همجنس برابر کړو او هغه هسې بې ځايه ختم او له لاسه

ورنکړو. دا ځکه چې دا ځمونږ د ژوند او د هغې د هدف پوره کولو لپاره خادم، نوکر او چاکر دی، هغه باید ځمونږ د ارادې تابع وي نه دا چې مونږ د هغه د غوښتنو او خواهشاتو تابع شو، د هغه دا حيثيت او مقام ندی چې د يو واکمن او حکم کوونکي په توګه په مونږ باندې خپل خواهشات پوره کړي بلکې د هغه دا مرتبه او درجه ده چې د يو غلام، نوکر، خادم او چاکر په شان خپل ضرورت او اړتيا مونږ ته وړاندې کړي، دا ځمونږ د روزل شوي ارادې ځواک او پر ځان ويسا کار دی چې کله او څه وخت د هغې غوښتنه او وړانديز مني .

د روژې د ډيرو هدفونو، موخو او مقصدونو څخه يو مقصد او هدف همدا دی چې انسان ته پخپل حيواني جسم او بدن

باندې واک او کنترول ورکړي . هغه درې خواهشات چې د ټولو حيواني خواهشاتو پيلامه ده،هغه درې وسلې چې لدې حيوان سره دي هغه دومره قوي او ځواکمنې دي چې د هغو پوسيله مونږ تر خپل واک او کنترول لاندې راولي . او همدا درې غوښتنې او خواهشات روژه په خپله قبضه او واک کې راولي او واګي ځمونږ هغې انسا او خودۍ ته ورکوي چې په الله پاک يې ايمان راوړی دی او د هغه په لاره باندې يې د ټللو قصد، اراده او هوډ کړی .

په روژه کې ددې حيوان ، بې واکي او بې ځواکي ښه معلوميږي، د سهار څخه تر ماښام پورې دا نه او اوبه غواړي خو مونږ هغه ته هيڅ هم نه ورکوو، هغه د اوبو په لوري کش او زور کوي خو مونږ

يې واګي او قبضه راکاړو، هغه چې کله خوراک وګوري نو خپل ځان پرې ورغورځوي . خو مونږ ورته د حرکت کولو او خوځيدلو اجازه هم نه ورکوو، هغه وايي چې ماته په سګريت او چلم څکولو، چای، قهوې څښلو او نورو شيانو باندې د خپل اور د مړه کولو اجازه راکړئ .

خو مونږ د هغه ټول وړانديزونه نه منو او نه يې اجازه ورکوو.

هغه چې کله خپله جوړه اوملګرې وګوري نو د هغې په لوري کش او زور کوي او لوبې ورسره پيل کوي خو چې کله خپل خواهش پوره کول وغواړي نو مونږ يې واګې راکش کړو او تر ټاکلي وخت او مودې پورې يې همداسې بند کړې او تړلې ساتو. بيا چې کله مونږ ته د حقيقي رب

او پيداکوونکي حکم وشي هغه ته اوبه، دانه او نور شيان ازاد ورکوو.

کله چې خوراک او څښاک وکړي او ټوله ورځ ستړى ستومانه وي نو د آرام او راحت په لوري منډه کوي خو د ماخستن د اذان په کيدلو مونږ يوځل بيا هغه له غوږ څخه نيسو راپورته کوو يې او بيا يې جومات ته بيايو. د روژې څخه مخکې به هغه ماخستن لږ شانته ودريدلو خو په رمضان کې بيا مونږ هغه د زيات او اوږ د لمانځه يعنې تراويحو لپاره همداسې ناکراره ودروو، کله چې لدې کړاؤ او تکليف څخه خلاص شي نو په منډه ځان خوب او راحت ته برابروي او غواړي تر سهار پورې مزې وکړي . خو کله چې د شپې آخري برخه راشي او په خوږ خوب باندې مزې کوي، مونږ ددې آرام او

راحت په حالت کې داسې کلکه څپېړه ورکوو چې ټوله نېشه ورڅخه والوزي، بیا مونږ ورته وایو چې څمونږ د رب حکم دا دی چې د ورځې پرځای همدا اوس څه دانه او اوبه وخوره بیا دربانديې هرڅه بند دي .

دا هغه تمرین، مشق او ټرینګ دی چې هر کال پوره یو میاشت په نفس بانديې سرته رسیږي ترڅو پديې نوکر، خادم او چاکر بانديې څمونږ واک او نیواک قوي او کلک شي .

لديې څخه مونږ د خپلو بدني او جسماني ځواکونو او قوتونو ارادې، با اختیاره او د خپلې خوښې سره سم واکمنان او حکم کوونکي ګرځو.

د حیواني خواهشاتو د ظلم، تیري او جبر دوره ختمیږي، په مونږ کې دومره

توان او ځواک پيداکيږي چې هره غوښتنه په هر وخت کې چې وغواړو ودرولی او کنترولولای شو او د خپل هر ځواک څخه چې په څه ډول وغواړو هماغه ډول کار اخستلای شو.

هغه څوک چې د خپلو غوښتنو د مقابلې او مخالفت هېڅ عادت نلري، هغه څوک چې د نفس په هره هيله او خواهش باندې پخپل سرتېيتولو عادت وي او د چا لپاره چې د حيواني خواهشاتو غوښتنه د واجب او فرض حکم ولري نو داسې انسانان په نړۍ او ژوند کې هېڅ ډول کارنامه او ديادولو وړ کار نشي ترسره کولای او نه يې کله کړی دی. د سترو، لويو او مهمو کارونو لپاره بايد د انسان خودي دومره ځواک ولري چې نفسي خواهشات پخپل کنترول کې وساتلې شي او کوم

ځواکونه او استعدادونه چې الله پاک ورکړي هغه د الهي حکم سره سم پخپله اراده او خوښه استعمال او پکار واچوي . له همدې امله د رمضان د روژو څخه برسيره د کال په نورو ورځو او وختونو کې نفلي روژې هم غوره او افضل کار بللې شويدی ترڅو کنترول او نيواک ښه قوي او ځواکمن شي .

خو ډير لوی توپير بلکې اصولي او حقيقي توپير شته پدې کنترول او نيواک کې چې د اسلامي روژې پواسطه او د نورو غير اسلامي طريقو، رياضتونو،زحمتونو او کړاونو پوسيله چې منځ ته راځي يا چې په لويو، سترو او د کار په خلکو کې په فطري او طبيعي لحاظ موجود وي .

دا دويم ډول (غير اسلامي) ځواک په اصل کې ديو مطلق العنان، ديکتاتور،

او استبدادي جاهلي خودۍ او انانيت واکمني ده چې د خپل ځان څخه د هيڅ پورته، لوړ او پراخه علم، قانون او اصولو پابند او منونکې نه دی.

دې خودۍ او او پر ځان بروسه ته چې کوم ځواک او نيواک په خپلو جسماني ځواکونو حاصل دی هغه هيڅ امکان نلري چې په سمه، روغه او د خير په لاره يې په کار واچولې شي.

په نړۍ او دنيا کې رهبانيت، جوگي توب، گوښه کيناستل، دنيا پريښودل او نوردگوښيتوب کارونه او چارې د همدې واکمنۍ څخه منځ ته راځي.

ددې غلط، ديکتاتور او استبدادي جاهل او ظالم واک له امله د بدن او جسم روا او جائز حقوق او غوښتنې هم تر پښو لاندې کيږي او بلاخره ددې واکمنۍ

له امله انسان د خپل فطرت سره په جګړه او شخړه کې پريوځي .

د همدې واکمنۍ له امله انسان خپل وړتيا او ځواک د انساني تمدن او پرمختګ په لاره کې د مصرفولو او پکار اچولو پرځای هغه د انساني تمدن د تنزل او ښکتوالي لپاره استعمال کړ .

د همدې واکمنۍ له امله ډيرو لويو او سترو خلکو د الله پاک په بندګانو باندې خپله خدای او لويوالې مسلط کړه او د حق پرځای يې هغه د ظلم په لاره کې استعمال کړ .ددې په خلاف اسلامي روژه چې د نفس کوم کنترول کوي او په نفس باندې کوم نيواک ترلاسه کوي هغه ديکتاتورانه او مطلق العنانه خودي نده بلکې د الله پاک او د هغه د عظيم قانون د اطاعت، پيروۍ او منلو خودي

ده، هغه جاهله او ناپوهه خودي نده، هغه داسې خودي نده چې د خپل ځان خپله لارښوونکې وي بلکې داسې خودي ده چې د الله تعالی څخه د راغلې ښوونې، هدايت، کتاب او قانون په رڼا کې چليږي .

هغه خدای ورکړې بدن او جسم خپل ملکيت او شخصي مال نه ګڼي چې پخپله خوښه ورڅخه کار واخلي بلکې بدن او جسم د الله تعالی امانت او بخشش ګڼي او په هغې باندې د خپل رب د قانون او حکم په بنسټ واکمني کوي .

ديو مؤمن او متقي انسان خودي چې د الله تعالی د رضا او خوښۍ په وړاندې تسليم وي هغه هيڅ وخت او هيڅکله په هيچا باندې تيرې او ظلم نکوي، دا خولا څه کوی چې پخپل ملګري بدن باندې دې ظلم او تيری وکړي کوم چې تريو ټاکلي

وخت پوري الله تعالى دده ښه او غوره ملګري او مرسته کوونکي ګرځولي دى .

هغه ته به ښه او غوره خوراک ورکوي، ښه لباس او پوښاک به ورکوي، په ښه او غوره کور کې به يې ساتي، ښه آرام او راحت به ورکوي، د هغه د هرې غريزې د ډاډ او تسکين کوښښ به کوي .

دا ټول به لدې امله نکوي چې دده نفس يې غوښتنه کوي بلکې ددې لپاره يې کوي چې الله پاک ورته حق ټاکلي او ددې حق پوره کول د الله تعالى د خوښې او رضا لامل دى . ( له همدې امله نبي عليه السلام فرمايلي دي چې پر خپل نفس خيرات او صدقه کوئ، په خپل اهل او عيال صدقه او خيرات کوئ، بيا په نورو خلکو صدقه کوئ .

پخپل ځان، پخپل اهل او عيال باندې صدقه او خيرات کول يو حيرانوونکې او عجيب شانته کار معلوميږي خو په حقيقت کې د اسلام نظر، فکر او خيال د نورو ټولو دنياوي نظرياتو او فکرونو څخه جلا، ممتاز او لوړ دی . هغه څوک چې د خپل نفس په خواهش خوراک کوي هغه بس خوراک خوري، خو هغه څوک چې د الهي حکم او امر لاندې خپل حلال او پلاس ګټلې روزي خپله او خپل اهل او عيال ته ورکوي نو په اصل کې د ثواب کار کوي . په يوه يوه نوړۍ باندې هغه ته اجر او ثواب ورکول کيږي . د همدې حال په هکله نبي عليه السلام فرمايلي دي چې د مؤمن حال د حضرت موسی عليه السلام د مور بې بې پشان دی چې هغې خپل ځوی ته تې او شيدې ورکولې او په هغه يې له

فرعون څخه مزدوري او اُجرت هم ترلاسه کولو. په همدې توګه مؤمن دخپل نفس او اهلو عیال په نفقه، روزی او خوراک باندې د الله پاک څخه اجر او ثواب هم ترلاسه کوي).

خو همدا نفس د غوره او ښه خوراک لپاره د حرامې غذا او خوراک غوښتنه کوي، کله چې د ښه خوراک، ښه لباس او ښه کور لپاره داسې پلانونه او طریقې جوړوي کومې چې الله تعالی نه خوښوي، کله چې د شهواني خواهشاتو د ډاډ او تسکین لپاره داسې دروازې خلاصوي کومې چې الله تعالی بندې کړی دي. کله چې د آرام او راحت لپاره له هغو حکمونو، فرضونو او واجباتو څخه ځان خلاصوي کوم چې الله تعالی وربانده لازم کړي. کله چې د الله تعالی د رضا لپاره د خپلو خواهشاتو

 څخه تيريږي او پخپله خوښه قرباني ورکوي نو پدې وخت کې د مؤمن خودي په پوره توان او زور سره خپل کار سرته رسوي، نفس د سرکښۍ، بغاوت او نافرمانۍ پرځای د اطاعت په نيغه لاره برابر وي. د همدې کار مشق او تمرين د رمضان په مياشت کې په مؤمن باندې کيږي،کله چې د دنيا پدې ازميښت ځای کې کوم خطرناک حالت راشي چې هر وخت راځي، نو دده د ارادې واګې ددې سرکښه حيوان د کنټرولولو څخه عاجز او کمزورى نشي .

د انفرادي روژنې لنډه نقشه

تردې ځای پورې چې څه وويل شول تر هغې د انفرادي روژنې پورې يې تړاؤ درلوده، اوس د روژې د ټولنيز اړخ په

هکله د څه ويلو ته مخکې په عمومي انفرادي روزنيز پروګرام باندې رڼا اچوو.

لکه چې مخکې مو وويل د اسلام هدف او مقصد د نيکو او صالحو انسانانو داسې ټولګی او جماعت جوړول دي چې انساني تمدن د خير او صلاح په بنسټونو باندې ودان کړي . خو ددې ستر او لوی مقصد د پوره کولو لپاره هغه يواځې د ټولنيزو اصولو په ټاکلو او د هغو په بنسټ باندې د تمدن جوړولو بسوالې نکوي بلکې ددې ټولنيز نظام په څنګ کې اشخاص او افراد هم د هغو لپاره روزې او برابروي ترڅو ټولنه چې د کومو غړو څخه جوړه شوی د هغو هر يو د خپل فکر، نظر او سيرت سره يو موټې، هم غږې او موافق وي . د خپل سرکښه او باغي ميلان

لرلو سره سره د مجبور او جبري اطاعت پرځای د خپل نفس او روح په بشپړ تياري، د خپل زړه او دماغ په پاکه عقيده او د خپل سيرت په ځواک او زور سره د هغو پيروي او اطاعت وکړي .

پدې پلان او پروګرام کې چې د روژې څخه کوم کار اخستل کيږي هغه په لاندې ډول دی :

١- ددې روژنې او تربيت په برکت د ټولنې هر فرد د الله تعالی د واکمنۍ په مقابل کې د خپلې خپلواکی او ازادۍ څخه قصداً لاس په سر شي او خپل ټول ژوند د الهي قانون تابع او مطيع وګرځوي .

٢- په هر فرد کې د الله تعالی د عالم الغيب والشهادة او د آخرت د سوال او ځواب عقيده ددې عملي تمرين، مشق،

تـريـنـنګ او روزنـې پـوسيـلـه دومـره پـخـه شي چې هغـه د خپـل داخـلي احساس پـر بـنسټ نـه د کـوم بـهـرنـي فـشار پـه اساس د الـهي قـانـون اطاعت او مـنـنه پـه پـټـه او ښکاره تـوګـه وکـړي .

۳- پـه هـر فـرد کـې دا روح پـوشي چې هغـه پـرتـه د الله پـاک څخـه د نـورو ټـولـو مخـلـوقـاتـو د بـنـدګـۍ او طاعت څخه عملاً او عقـيـدتـاً مـنـکـر او انـکاري شي او د هغه بـنـدګـي د الله پـاک لـپاره داسې ځانـګـړي، خالـصه او پـاکـه شي چې پـرتـه د الله پـاک لـه لـوري د سند ښودلـو څخه د چا د بـنـدګـۍ لـپاره تـيار نـه وي .

٤- د هـر فـرد اخلاقـي روزنـه او تـربـيت داسې وشي چې پـخـپـلـو خـواهشاتـو او نـفـسي غوښتـنـو عملـي واکـمـني ولـري، د خپـل نـفـس او جسم پـر ځـواکـونـو دومـره واک او

کنترول ولري چې هغه ټول د خپلې عقيدې، بصيرت او علم سره سم استعمال کړي .

په هغه کې صبر، زغم، حوصله، کړاؤ ګالل، توکل، ثبات او کلک والی وي، د هغه په سيرت او کردار کې دومره ځواک راپيداشي چې د بهرني ترغيبونو، تشويقونو او د خپل نفس د خواهشاتو سره مقابله او جګړه وکړای شي .

همدا موخې او مقصدونه وه چې اسلام په مؤمنانو باندې د رمضان د مياشتې روژې نيول فرض وګرځول . هېڅ عاقل او بالغ انسان که نارينه وي او که ښځينه ددې فرض څخه خلاص نه دی، که د کوم عذر، ناروغۍ او يا سفر په سبب ورڅخه روژه پاتې شي نو بيا به يې قضايي راړوي . لنډه دا چې د اسلام په دايره

کې د داخلیدو څخه وروسته هېڅ انسان د روژې څخه خلاصیدای نشي .

سره لدې چې دا لازمي خبره نده چې په ټولو خلکو کې دې هغه خصوصیات او صفات په بشپړه توګه پیداشي کوم چې د روژې پوسیله یې پیداکول اړین دي، دا ځکه چې د روژې څخه فایده او ګټه اخستل د هر انسان په استعداد او توان پورې اړه لري، ددې روزنیز نظام خپل خصوصیت او ځانګړتیا داده چې ددې څخه به دا صفات راپیداکیږي ځکه ددې څخه غوره او ښه روزنیز نظام نه بل شته او نه بل پیداکیږي .

که په غور او دقت سره وکتل شي نو هر چاته به دا څرګنده شي چې پرته له اسلام څخه په هیڅ نظام کې داسې پراخه روزنیز نظام نشته چې د خلکو او

افرادو د چمتو کولو او تيارولو لپاره دې پخپله دايره کې اخلاقي روزنه ترلاسه کړي .

بيا ددې بل کمال دا دی چې که څوک پدې ټولنيز روزنيز نظام او چوکاټ کې برابر رانشي نو پخپله ددې دايرې او حلقې څخه جلا او بيل شي . چاچې پرته له شرعي عذر څخه روژه پريښې او خلکو ته دا څرګنده شي چې څمونږ په منځ کې يو منافق او دوه مخې موجود دی چې د الله تعالی واکمنې نه مني او د خپل حيواني غوښتنو غلام او بنده دی . ځکه نو ټولنې ته د داسې ناروغه او خوسا شوي غړي معلومات مخکې له مخکې څخه کيږي ترڅو هغوی ددې سرطاني دانې څخه ځان خوندي وساتي . اسلام په خپله ټولنه کې د منافقانو او سرطاني دانو د پيژندلو

لپاره پوره ترتيبات نيولې دي، او په ټولنه کې يې داسې حالات پيداکړي چې په لږ وخت کې هغوی ورڅخه خبر شي يا د هغوی تداوي او درملنه وکړي يا دا چې له خپلې حلقې او چوکاټ څخه يې بهر وغورځوي . دا بيله خبره ده چې تش په نامه مسلمانه ټولنه داسې خلک پخپل غيږ کې ونيسي او هغوی وپالي او بيا يې پخپلو سرونو کينوي او د هغوی لپاره د زنده باد چيغې او نارې ووهي .

## د روژې ټولنيز اړخ

د لمانځه پشان روژه هم يو شخصي او انفرادي عمل دی، لکه څرنگه چې د لمانځه سره د جماعت شرط ولگيده او هغه د انفرادي عمل څخه په اجتماعي

عمل باندې بدل شو په همدې توګه روژه هم په يو حکيمانه تدبير سره د انفرادي عمل څخه په ټولنيز فعل باندې بدله شوه چې د هغې ګټې او فايدې يې څو چنده کړې او دا ساده او کوچنې حکيمانه تدبير دا ؤ چې د روژو لپاره يې د رمضان مياشت وټاکله .

که چيرې د شريعت سره يوائې د افرادو او اشخاصو روزنه او تربيه کول اړين او ضروري وای نو هغوی ته به يې حکم کړی وای چې هر مسلمان دې په يو کال کې ديرش ورځې روژې ونيسي . پدې حکم به هم هغه ټول هدفونه پوره کيدل کوم چې مخکې د هغو يادونه وشوه او پدې طريقه د نفس کنترول ډير ښه کيده ځکه چې په ټولنيزه روژه کې اساني زياته وي ځکه چې په شخصي او

انفرادي عمل کې قوي ارادې ته اړتيا وي.

خو کوم حکيم ذات چې دا قانون او شريعت رالېږلې دی د هغه په وړاندې انفرادي او شخصي اصلاح دومره مهمه نده ترڅو چې د هغې په پايله کې ټولګی او ټولنه منځ ته رانشي چې صالحه او نيکه وي . له همدې امله هغه روژه په شخصي او انفرادي لحاظ خوښه نکړه بلکې د هغې لپاره يې په کال کې يو مياشت وټاکله چې په هغې کې به ټول مؤمنان روژه نيسي .

هغه روزنيز نظام چې افراد او اشخاص تياروي هغه د يو صالح، روغ او سم نظام په جوړولو کې مرسته کوونکې ثابتيږي .

ددې حکيمانه تدبير په برکت چې د روژې په اخلاقي او روحاني ګټو او فايدو کې چې څومره زياتوالی او ډيروالې راځي هغه په څو لنډو کرښو کې وړاندې کيږي :

## د تقوی چاپيريال

د ټولنيز او اجتماعي عمل يوه ځانګړتيا او خصوصيت دادی چې ددې په واسطه يو ځانګړی رواني او سايکلوژيکي چاپيريال منځ ته راځي . کله چې يو څوک د يو ځانګړي ذهني حالت او کيفيت سره کوم کار او عمل کوي خو شااوخوا خلک نه ورسره په ذهني حالت او کيفيت کې ملګرتيا کوي او نه ورسره په کار کې لاس او مرسته کوي، پدې حالت کې هغه عمل کوونکې ځان ګوښې، تنها او

پردې فکر کوي چې د هغه ذهني حالت او کيفيت به يو اځې پده او دده په رواني او سايکلولوژيکي څواکونو پورې تړاؤ ولري .

پدې چاپيريال کې د عمل کوونکي لپاره د کار او عمل د زياتوالي پرځاى کموالي او نيمګړتيا منځ ته راځي . خو که چيرې په ټول چاپيريال کې يو شانته ذهني او رواني حالت او کيفيت موجود وي او ټول په يو فکر، يو نظر او يو ذهني حالت سره هغه عمل او کار سرته رسوي نو بيا پايله بل ډول وي او جلا ټولنيز حالت او کيفيت منځ ته راوړي چې د ټولګي او جماعت په ټولو افرادو به هماغه يو حالت او کيفيت مسلط او واکمن وي. پدې صورت کې به داخلي کيفيت د بهرنى او باندنى مرستې او

هڅونې په برکت نور زياتوالې او پرمختګ هم وکړي .

کله چې په يوځاى کې يو کس لوڅ لغړ وي او نور ټول جامې ولري نو دا لوڅ لندغړ به څومره شرميږي؟ ددې سړي د لوڅوالي لپاره به څومره بې حيايي پکار وي؟ خو ددې ټولو سره سره به هغه د ټولنيزي رايې په وړاندې ماتې خوري .

خو کله چې په يو حمام کې ټول خلک لوڅ لغړ وي نو بيا هلته د حيا او شرم راتلل امکان نلري او د يو فرد شرم د بل فرد شرم هڅوي او بلاخره همداسې زياتيږي . که چيرې يو يو عسکر او پوځي جنګ وکړي نو د جګړې تباهي او بربادي به په څه ډول وزغمي خو که چيرې يو لښکر او پوځ مخ په وړاندې ځي

نو بیا به د اتل ولی او قهرمانی ډیر داستانونه را پیداشي چې هر عسکر او پوځي پکې برخه اخلي.

که نیکي وي که بدي د دواړو په پرمختګ او ترقی کې ټولنیز او اجتماعي روحیات او رواني حالت ډیر مهم رول لري.

که چیرې ټولنه، ډله او جماعت بدي کوي نو د فحاشی، بې حیایی او بدکاری ولولې او احساسات زیاتیږي.

خو که جماعت او ټولګې نیکي کوي نو د پاکو او سپیڅلو ولولو او احساساتو څپې او باد رالوزي چې په هغه کې بد کاران هم اصلاح او نیکان ګرځي که هغه د لنډ وخت لپاره هم وي.

د ټولنیزې روژې لپاره د رمضان ټاکل هغه هدف او مقصد پوره کړ چې کوم

ورڅخه شريعت غوښتلو. لکه څرنګه چې تاسې ګورئ هره غله او دانه په يو ځانګړي وخت او فصل کې ښه نمو او وده کوي او هر لوري ته په ځمکو او دښتو کې ښکاريږي.

په همدې توګه د رمضان مياشت د خير، نيکۍ، ثواب، اصلاح، تقوی او پاکوالي موسم او فصل وي. په هغه وخت کې بدۍ کميږي، نيکۍ زياتيږي، په پوره پوره کلو او ښارونو باندې د تقوی او پرهيزکارۍ څادر خپريږي، هر لوري ته د تقوی، الهي ويرې او پرهيزګارۍ کښت او فصل ترسترګو کيږي . پدې مياشت کې په ګناه کولو انسان شرميږي، هر څوک خپله د ګناهونو څخه ځان ساتي او بل مسلمان ورور د هغې څخه د خوندي کيدلو لپاره هڅوي، د هرچا په زړه کې دا اميد او

هيله وي چې هغه د خير او نيکۍ کوم کار وکړي. کوم غريب او بې وځلې ته خوراک ورکړي، کوم لوڅ لغړ ته جامې وروا غوندي، د کوم مصيبت ځپلي سره مرسته وکړي، که چيرې په کوم ځای کې د خير کار کيږي په هغه کې برخه واخلي، د تيري او ظلم لاس بنديږي، د بدۍ څخه کرکه او د نيکۍ سره محبت او مينه پيدا کيږي، د توبې، استغفار، الهي ويرې او الله ته د ورګرځيدلو شوق او ذوق منځ ته راځي.

نيکان نور هم نيکان ګرځي، که بد انسان نيک نشي خو ددې درملو او علاج په برکت په هغه کې پاکوالې منځ ته راځي.

**لنډه دا چې ددې حکيمانه تدبير په برکت سره شريعت داسې کار او نظم برابر کړ چې هر کال پوره يو مياشت**

ټوله اسلامي ټولنه سپيڅلې او پاکه ګرځي، د هغې بور او صفايي کيږي، قسمت يې بدليږي، او په عمومي ډول پکې اسلامي روح يو ځل بيا را ژوندی کيږي.

له همدې امله نبيυ فرمايلي دي:

قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا دَخَلَ رَمَضَانُ فُتِّحَتْ أَبْوَابُ الْجَنَّةِ وَغُلِّقَتْ أَبْوَابُ جَهَنَّمَ وَسُلْسِلَتْ الشَّيَاطِينُ

(کله چې رمضان راشي نو د جنت دروازې پرانستل شي، د دوزخ دروازې بندې او شياطين تړل کيږي).

په يوبل حديث شريف کې راځي:

قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا كَانَ أَوَّلُ لَيْلَةٍ مِنْ شَهْرِ رَمَضَانَ صُفِّدَتْ الشَّيَاطِينُ وَمَرَدَةُ الْجِنِّ وَغُلِّقَتْ أَبْوَابُ النَّارِ فَلَمْ يُفْتَحْ مِنْهَا بَابٌ وَفُتِّحَتْ أَبْوَابُ الْجَنَّةِ فَلَمْ يُغْلَقْ مِنْهَا بَابٌ وَيُنَادِي مُنَادٍ يَا بَاغِيَ الْخَيْرِ أَقْبِلْ وَيَا بَاغِيَ الشَّرِّ أَقْصِرْ وَلِلَّهِ عُتَقَاءُ مِنْ النَّارِ وَذَلكَ كُلُّ لَيْلَةٍ (مسلم)

(کله چې د رمضان لومړۍ نيټه راشي نو شيطانان او سرکښه پيريان تړل کيږي، د دوزخ لوري ته ټولې ټولې لارې بنديږي، چې يوه هم ورځخه خلاصه نه پاتې کيږي، او د جنت په لوري ټولې لارې پرانستل کيږي او هيڅ يوه ورځخه بنده نه پاتې کيږي، پدې وخت کې يو اواز کوونکې اواز کوي: اې د خير غوښتونکي را مخکې شه او اې د بدۍ غوستونکي لږ تم شه!)

د سکتې د ناروغ آخري امتحان پدې ډول اخستل کيږي چې د هغه د پوزې په وړاندې آينه کيښودل کيږي، که په آينه باندې گرد او خيره پيداشوه نو معلوميږي چې ناروغ تراوسه ژوندې دی، که داسې ونشول نو ناروغ له منځه تللې دی.

که تاسې د مسلمانانو د کوم کلي او کور ازموينه او امتحان اخلئ نو د رمضان په مياشت کې د هغوی حالت وګورئ، که پدې مياشت کې هلته د تقوی، پرهيزګارۍ، او نيکۍ څه اثرات او نښې ليدل کيدلې نو پوه شئ چې هلته تراوسه ژوند شته او که پدې مياشت کې د تقوی او خير څه اثر نه وي او فسق او فجور وي نو په دې پوه شئ چې هلته ژوند نشته او **إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّآ إِلَيۡهِ رَٰجِعُونَ** ووايئ. ددې څخه وروسته د مسلمان لپاره د ساه اخستلو چانس نه وي.[4]

---

[4] (( دا دی د امتحان اخستلو اسلامي معيار خو اوس ددې معيار لپاره نور شيان ټاکل شويدي، کله چې د مسلمانانو کوم کلي يا ابادي غلامان او محکوم وي د هغوی امتحان داسې اخستل کيږي چې ايا په هغوی کې د خپلو ملي ګټو څومره احساس او شوق شته؟ هغوی ترکومه پورې ددې حقوقو لپاره هلې ځلې کولای شي؟ په غونډو، مظاهرو او لاريونونو کې ترکومه ځای پورې د اسلام او اسلامي قوميت نوم اخلی؟

## ټولنيز احساس

د ټولنيز عمل دويمه ګټه او فايده دا وي چې په خلکو کې فطري او اصلي يوالې او وحدت پيداکيږي. نژاد، نسل، ژبه، جغرافيوي پولې او اقتصادي ګډون اصلي او حقيقي يوالې او وحدت منځ ته نشي راوړلای. د انسان زړه هغه چاته نژدې کيږي چې فکر، نظر او عقيده يې سره يوه او عمل يې سره ګډوي، دا حقيقي او اصلي تار او رشته ده چې دوه انسانان سره تړي. د چا سره چې په

.........................................................

که هغه کلې او ابادي ازاد او خپلواک وي نو د هغوی امتحان پدې ډول اخستل کيږي چې هغوی څومره الوتکې لري، څومره اورګاډي لري، ښوونځي او فابريکې څومره لري، خپلې ميرمنې يې څومره لوڅې او بې حيا کړيدي؟ په تمدن، کلتور او دود رواج کې يې څومره د لويديځ تقليد کړيدې؟ که دا شيان يې ښه وه نو بيا وايي شکر الحمدلله اسلام ژوندې دی، نو بيا وايي چې(( څمونږ کاروان به همداسې روان وي.))

نظر، فکر، عقیده او عمل کې یووالې او اتفاق نه وي د هغه سره یوځای والې زړه نه غواړي، سره لدې چې دواړه به دیو مور او پلار څخه پیداشوې وي.

کله چې یو سړی خپل چاپیریال د خپلې عقیدې، فکر او عمل مخالف او ضد ګوري نو هغه خپل ځان د هغوی په منځ کې پردې او نااشنا بولي خو کله چې ډیر انسانان په یو ذهني او فکري کیفیت سره یو ډول عمل کوي نو د هغوی په منځ کې سره د نسلي، نژادي، ژبني او وطني جلاوالي وحدت، یوالې، ملګرتیا، وروري او ژور اړیکې پیداکیږي او هیڅ ډول پردې والې او نااشنایي پکې نه لیدل کیږي . د زړه او روح ګډون او شراکت او د عمل یو شانته والی هغوی سره یو تر بله تړي او یو بدن ورڅخه جوړوي.

که نیکي وي که بدي په دواړو صورتونو کې ټولنیز روحیات همدارنګه کار کوي، په غلو کې د غلا یو شانتوالی، او په شرابیانو کې د شرابو یو شانته والی ملګرتیا او عزیزولي منځ ته راوړي. توپیر دا دی چې د بدی په لاره کې د خلکو نفسي خواهشات او غوښتنې داخلي وي چې په ښکاره سره یو شانته خو په زړونو او فطرت کې سره یوبل ته غله او دښمن وي ځکه نو پداسې لارو کې هیڅکله هم ملګرتیا دوام نکوي (پښتو متل دی: د غلو څه ښه یاري وه چې په ویش سره تالا شوه).

ددې په خلاف په نیکۍ کې نفساني غوښتنې ترپښو لاندې کیږي، انساني روح ډاډ ترلاسه کوي او انسان د پاکو او سپیڅلي احساساتو سره پدې لاره

روانيږي. له همدې امله د نيکو او صالحو افکارو او تصوراتو او د عمل يوالې هغه غوره اوښه تار دی چې د انسانانو ترمنځ اخوت او وروري پيداکوي. چې د هغه څخه غوره، ښه او بهتر ټولنيز اړيکې نشي پيداکيدای .

د جماعت د لمانځه په شان د رمضان ټولنيزې روژې هم د مسلمانانو ترمنځ وروري پيداکوي، د ټولو خلکو له لوري د يو الله تعالی رضا او خوښي غوښتل، د هغه د رضا او خوښی لپاره لوږه او تنده تيرول، د هغه له ويرې او ډار څخه بدی پريښودل اويوبل نيکی ته هڅول. همدا کارونه او چارې د هغوی په منځ کې ترټولو غوره يوالې اصلي او فطري قوميت، سپيڅلې ټولنيز فکر او ذهنيت او داسې ملګرتيا او خواږي

پیداکوي چې له هر ډول خیرې او چل څخه پاک وي.

## د خپل منځي خواخوږۍ روح

ددې ټولنیز عبادت درېیم لوی او غټ کار دا دی چې د څه وخت لپاره ټول مؤمنان د ژوند په یوه سطحه، لیول او کچه سره برابره وي. سره لدې چې شتمن هماغسې شتمن وي او غریب هماغسې غریب خو هره ورځ د دولس، دیارلس ساعتونو لپاره په شتمن او مالدار باندې هم هغسې حالت او کیفیت راولي چې کوم حالت او کیفیت په غریب او بې وځلي باندې تیریږي او ددې پایله او نتیجه دا راوځي چې شتمن د غریب او بې وځلي مصیبت او کړاؤ په حقیقي توګه حس کوي.

او د الهي رضا غوښتلو احساس او جذبه هغه دې ته هڅوي چې د غريبو او بې وځلو سره مرسته وکړي. په څرګنده خو دا يوه وړه او کوچنۍ خبره معلوميږي خو په اخلاقي لحاظ د هغې ګټې او فايدې ډېرې زياتې دي.

د کوم قوم د شتمنو سره چې د غريبو او بې وځلو ورونو د کړاؤ او تکليف د خواخوږۍ احساس وي، په کوم ځاى کې چې يواځې ادارو ته زکات نه ورکول کيږي بلکې هر يو ته په يواځې يواځې توګه مرسته ر سوي نو پداسې قوم او ملت کې غريب او بې وځلي د تباه کيدو او بربادېدو څخه ساتل کيږي او د ټولنې اقتصادي حالت يو شانته کيږي بلکې د شتمنو او غريبو ترمنځ مينه، محبت، مننه او احسان مننه راپيداکيږي، بيا

هيڅ وخت هغه طبقاتي جنګ او جګړې منځ ته نه راځي کوم چې د قومونو ترمنځ پيداکيږي، دا ځکه چې د شتمنو سره د غريبو غم او درد وي.

که د لوږې، قحطۍ او وچ کالۍ په وخت کې شتمن پوښتي چې دا خلک ولې د لوږې څخه مړه کيږي؟ که ډوډۍ نه پيداکيږي نو ولې کُلچې او کيک نه خوري؟

روژه د اسلام دويم عملي رکن دی چې ددې په وسيله اسلام غواړي خپل کسان هريو بيل بيل په ځانګړو اخلاقي اصولو وروزي او بيا دا ټول سره يوځای کړي او يو امت ورڅخه جوړ کړي.

د اسلام آخري مقصد او هدف چې د يو صالح او نيک تمدن منځ ته راوړل دي د هغه جوړونکي اجزاء د روژې او لمانځه د يوځای کيدو څخه جوړيږي.

Aghalibrary.com



د دوی مامورين، چارواکې، ښوونکي، پروفيسران، قاضيان، مفتيان، سوداګران، مزدوران، فابريکې لرونکي، رايه روکوونکي، استازي او ولسي خلک ددې روزنې او تربيت څخه وروسته ددې وړ ګرځي چې د هغوی څخه يو صالح، نيک او د خير نظام جوړشي چې د خلافت على منهاج النبوة په نامه سره ياديږي.

يواځې ګډوډ کسان سره يوځای کول او د هغوی څخه الهي خلافت جوړول هغه خام اوکاواکه کار دی چې الله تعالی او رسول اللهε ورڅخه بيزاره او بري دی.

يواځې پدې بسوالې نه کيږي بلکې ددې پسې نور روزنيز کارونه هم راځي چې دريم رکن يې زکات دی.

والســـــلام

Aghalibrary.com